تنویر النّحو

شرح

علم النّحو

مع حل

تسهیل النّحو

خصوصیات:

مبادیات نحو ، د علم النحو

د اسباقو وجه حصرې

د زنجیري ترکیبونو طریقه

د فارسي تراکیبو طریقه

مزید فوائد ، مدلل معلومات

مؤلف:-

مفتی توصیف احمد توحیدي حفظه الله

ناشر:

جامعه جواہر القرآن مرغز صوابی




د کتاب نوم ـــــــــ **تنویرالنحو** شرح **علم النّحو** مع حل **تسهیل النحو**

مؤلف ـــــــــــــــ **مفتی توصیف احمد توحیدي حفظه اللّه**

د چاپ کال ـــــــــــــ ۱٤٤۰ ھ= ۲۰۱۸

ناشر: جامعہ جواہر القرآن مرغز صوابی



فهرست مضامين

حروف غیرعاملہ : ۱۳۱

انتساب:

د خپل ګران او مشفق استاذ استاذ العلمآء ماهر فنون،
نمونۀ اسلاف شیخ الصرف و النحو شیخ القرآن والحدیث
علامه **حفیظ الرّحمن** سلمه الله الرّحمن المنّان.

او

ګران و محترم استاذ شیخ القرآن والحدیث تقی الأتقیآء
صوفی الأصفیآء **علامه نصر اللّه خان** رحمه الله تعالی.

په نوم چې دا دواړه هستۍ زما د علوم آلیه او عالیه بنیاد ګرزیدلې دي او بیا د ټولو استاذانو په نوم چې د هغوئ د وجې نه الله تعالی دا فقیر د دې خدمت قابل ګرزولے دے.

مقــدمه

الحمد لله الّذي تفرد بالقدم ، و الصّلاة والسّلام على سيد العرب والعجم ، و على آله و أصحابه الذين اتّبعوه وهم خير الأمم ، أمّا بعد :

د عربۍ یو کتاب باندې ځان پوهه کول او د هغې عبارت حل کول د کتاب حق دے خصوصًا علوم عالیه (قرآن وحدیث) چې بالاتفاق د دین اسلام مأخذ دے خو دغه علوم عالیه په علوم آلیه حاصلیږي نو د هغې زده کول هم ضروری دي او علوم آلیه او عالیه دواړو بنیاد صرف او نحو دي او په تمام علوم دینیه کښې د عربۍ ژبې اهمیت اظهر من الشمس دے دغه وجه ده چې په علم النّحو عربۍ ، اردو ، فارسۍ ، پښتو او نورو مختلفو ژبو کښې واړۀ او غټ کتابونه لیکلي شوي دي د هغې کتابونو نه یو رساله "علم النحو" د مولانا مشتاق احمد چرتهاولي رحمه الله ده چې درجه اولی کښې مدَّرسه ده او دویمه رساله "تسهیل النّحو د مولانا عبد الله گنگوهي رحمه الله ده چې هغې ته هم دغه قبولیت حاصل دے.

زمونږ زیر نظر کتاب د مولانا مشتاق احمد صاحب د رسالې شرح ده چې د هغې حاصل مونږ د خپل استاذ شیخ علامه حفیظ الرّحمن صاحب مد ظله العالی په طرز مرتب کړے دے ، پداسې ډول باندې چې ورسره د تسهیل النّحو د مشقونو نه یو یو مثال د سبق سره سره علی سبیل التدریج هم حل کړے دے نو چې سبقًا سبقًا دا حاصل په طلبآء کرام باندې یاد کړے شي او ورسره ورسره سبقا د تسهیل النّحو ترجمه کولے شي او بیا د ترکیب په مذکوره طریقه د تسهیل النّحو ترکیبونه حل کولے شي نو د الله تعالی نه دا امید ساتو چې دې سره به په طلبآء کرامو کښې د عبارت جوړولو استعداد

پيدا کړي په د جمع کولو کښې زمونږ سره طالب العلم ضياء الله شاه عارف هم خپل کوشش او تعاون کړے دے او بيا جناب مولانا احسان الله صارم حفظه الله هم تعاون کړے چې په احسن انداز کښې د مجموعه لره ترتيب ورکړے دے ، الله تعالی د ټولو لره جزآء خير ورکړي او مونږ د دې د نوم انتخاب داسې اوکړو : "تنوير النّحو شرح علم النّحو مع حل تسهيل النّحو" الله د ورلره قبوليت ورکړي او زمونږ دپاره د صدقه جاريه اوګرزوي .

خادم التوحيد والسنة
توصيف احمد توحيدي

تمهيد

د هر علم دَ شروع كولو نه مخكښې د يو څو خبرو پيژندل پكار دي: ۱ـ تعريف۲ـ غرض وغايت ۳ـ موضوع ٤ـ مدون.[۱]

تعريف د علم النّحو :

هُوَ عِلْمٌ بِاُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا اَحْوَالُ اَوَاخِرِالْكلِمِ الثَّلٰثَةِ مِنْ حَيْثُ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَكيْفِيَّةِ تَّرْكيْبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْض.

ترجمه : دا علم دے په هغه اصولو چې پيژندلی كيږی پدې باندې احوال د هغه درې/۳ كلمو ـ اسم ، فعل او حرف ـ د حيثيت د معرب او مبنی نه او كيفيت د تركيب د بعض د بعضې سره.

غرض د علم النّحو :

صِيَانَةُ الْذِّهْنِ عَنِ الْخَطَاءِ اللَّفْظِیْ فِیْ كلَامِ الْعَرَبِ.

ترجمه : محفوظ كوي به ذهن ستا د هغه لفظی خطايانو نه په ژبه د عربو كښې.

---

(۱)- تعريف پيژندل ځكه ضروري دي چې طلب د مجهول مطلق رانشی ، غرض پيژندل ځكه ضروري دي چې د طالب سعی او كوشش بې فائدې نۀ شي ، موضوع پيژندل ځكه ضروري دي چې د علمِ مشروع او د غير مشروع فرق واضح شي ، مدون پيژندل ځكه ضروري دي چې د مدّون د حالاتو او دَ هغۀ شان و شوكت او د تكليفونو د وجې نه ستا د علم سره شوق راشي .

موضوع د علم النّحو :

اَلْكلِمَةُ وَالْكلَامِ

د كلمى مثال لكه "ضَرَبَ" او د كلام مثال لكه "ضَرَبَ زَيْدٌ".

مدّون :

ابوالأسود الدويلى

ځکه يو شاعر وايي:

اَلْوَاضِعُ لِلصَّرْفِ مُعَاذُابْنُ مُسْلِمٍ وَلِلنَّحْوِ اَبُوْ الْاَسْوَدِ تِلْمِيْذِ عَلِيٍّ

ترجمه : وضع كونكے د صرف هغه معاذ ابن مسلم دے او وضع كونكے د نحوى هغه أبو الاسود الدويلى د ے چې شاګرد د حضرت على رضي الله عنه دے.



لفظ

لفظ په لغت کښې مطلق غورځولو ته وائي ، لکه عرب وائي « اَكَلْتُ التَّمَرَةَ وَلَفَظْتُ النَّوَاةَ »،دارنګې عرب وائي « لَفَظَتِ الرَّحَي الدَّقِيْقَةَ » "اوغورځول جرندې اوړه"

اصطلاح کښې لفظ « مَا يَتَلَفَّظُ بِهِ الْاِنْسَانْ » "هغه کلمه چې انسان پرې تلفظ اوکړي او د خولې نه ئې اوغورځوي".

اقسام د لفظ:

لفظ په دوه قسمه دے : ١ـ موضوع ٢ـ مهمل

وجه حصر : وجه د حصر پکښې دا ده چې لفظ به خالی نۀ وي يا به معنی دار وی يا بے معنی ، کۀ معنی دار وو نو لفظ موضوع او کۀ بے معنی وو نو مهمل ، د لفظ موضوع مثال لکه مَسْجِدْ او د مهمل مثال لکه : جِسْقٌ وغيره.

اسماء د لفظ موضوع :

ددې درې/٣ نومونه دي ١ـ موضوع ٢ـ مستعمل٣ـ بامعنی

اسماء د لفظ مهمل :

ددې څلور/٤ نومونه دي ١ـ غير موضوع ٢ـ غيرمستعمل ٣ـ بے معنی ٤ـ مهمل.

اقسام د لفظ موضوع :

لفظ موضوع پۀ دوه/٢ قسمه دے : ١ـ مفرد ٢ـ مرکب.

وجه حصرا :- وجه د حصر پکښې داده چې جزء د لفظ به پۀ جزء د معنی مقصودي باندی دلالت کوي يا نه ، کۀ دلالت ئې کولو نو مرکب کۀ نۀ ئې کولو نو مفرد .

امثله :

د مفرد مثال لکه ''زید'' نو پدیکښې ز، ی ، د ځان ځان له یو هم په ذات د زید باندی دلالت نه کوی ، جزء د لفظ د ے خو پۀ ذات د زید باندی دلالت نه کوي ، مثال د مرکب لکه « زَيْدٌ قَائِمٌ » يو جزء ئې ''زَيْدٌ'' دے او بل جزء ئې ''قَائِمٌ'' دے ، نو د ''قَائِمٌ'' نسبت چې کله ''زَيْدٌ'' ته اوشي نو پۀ ذات د ''زَيْدٌ'' باندې دلالت کوي.

وجه حصر؟ : وجه د حصر پکښې داده چې لفظ موضوع به خالی نۀ وی یا به دا یوه کلمه وي او پۀ یوه معنی به دلالت کوي او یا به ډیر کلمات وي او پۀ ډیرو معنو به دلالت کوی ، کۀ یوه کلمه وه او پۀ یوه معنی باندی ئې دلالت کولو نو مفرد او کۀ ډیری کلمی وې او په ډیرو معنو باندی ئې دلالت کولو نو مرکب .

اقسام د مفرد او د کلمی :

مفرد ته کلمه هم وايی او بیا کلمه پۀ دری/۳ قسمه باندی ده ۱ـ اسم ۲ـ فعل ۳ـ حرف

وجه حصر : وجه د حصر پکښې داده چې کلمه به خالی نۀ وي یا به خود بخود پۀ خپله معنی باندی بغیر د بلې کلمې میلاویدو نه دلالت کوي یا نه ،کۀ دلالت ئې نۀ کوو نو حرف لکه ''مِنْ'' او ''اِلَى'' او که دلالت ئې کولو نو بیا به خالی نه وی یا به پکښې د دری زمانو نه یوه زمانه موجود وی یا نه ، کۀ زمانه پکښي موجود نۀ وه نو اسم لکه ''رَجُلٌ'' او ''فَرَسٌ'' او کۀ زمانه پکښې موجود وه نو بیا فعل لکه ''ضَرَبَ'' ، ''يَضْرِبُ''.

اقسام د اسم :

اسم پۀ درې/۳ قسمه باندې دے: ۱ـ جامد ۲ـ مصدر ۳ـ مشتق.

اسم جامد : جامد پۀ لغت کښې شنډ ته وئیلے کیږی او پۀ اصطلاح کښې هغه اسم ته وئیلے کیږي چې نۀ د چا نه جوړ وي او نۀ ددۀ نه څوک جوړیدے شي یا چې ماخذ دپاره د فعل نۀ وي او پۀ معنی کولو کښې صرف په ذات باندی دلالت کوی ، لکه ''رَجُلٌ'' او ''فَرَسٌ'' .

اسم مصدر : مصدر پۀ لغت کښې ځائے د وتلو ته وئیلے کیږي او پۀ اصطلاح کښې هغه اسم چې د چا نه جوړ نۀ وي خو ددۀ نه ډیر څیزونه جوړیدے شي او یا چې مأخذ د پاره د فعل وی او په معنی کولو کښې صرف په وصف دلالت کوی لکه ''ضَرْبٌ'' او ''نَصْرٌ''۔ وهل او امداد کول۔

اسم مشتق : مشتق پۀ لغت کښې شلولو ته وائي او پۀ اصطلاح کښې هغه اسم چې د مصدر نه جوړ وي یا چې ماخوذ وي د مصدر نه او پۀ معنی کولو کښې پۀ ذات مع الوصف باندې دلالت کوي ، لکه ''ضَارِبٌ'' ۔ وهونکے سړے۔.

اقسام د فعل:

فعل پۀ څلور/٤ قسمه باندې دے ١ ـ ماضی ٢ـ مضارع ٣ـ امر ٤ـ نهی.

تعریف الماضی : مَا یَدُلُّ عَلَی الزَّمَانِ الْمُتَقَدِّمِ .

ترجمه : دا هغه دے چې دلالت کوي پۀ تیره شوې زمانه باندې لکه ''ضَرَبَ'' .

تعریف المضارع : مَا یَدُلُّ عَلَی الزَّمَانِ الْحَالِ اَوِ الْمُسْتَقْبِلِ

ترجمه : دا هغه دے چې پۀ حال یا پۀ مستقبل زمانه باندې دلالت کوي ، لکه ''یَضْرِبُ'' .

امر : طَلَبُ الْفِعْلِ مِنَ الْفَاعِلِ الْمُخَاطَبِ

ترجمه : د فاعل مخاطب نه طلب د فعل کول ، لکه ''اِضْرِبْ''

نهی : طَلَبُ تَرْكِ الْفِعْلِ مِنَ الْفَاعِلِ الْمُخَاطَبِ

ترجمه : د فاعل مخاطب نه طلب د نۀ کولو د فعل ، لکه ''لَا تَضْرِبْ''

اقسام د حرف :

د حرف دوه/۲ اقسام دي ۱ـ عامل ۲ـ غیر عامل

عامل : هغه حرف ته وئیلے کیږي چې پۀ کوم څیز داخل شي نو د هغی پۀ آخر کښی لفظًا عمل اوکړي ، لکه "لَمْ يَضْرِبْ" کښی دې "يَضْرِبُ" کښی دا جزم دې "لم" ورکړے دے.

غیر عامل : هغه حرف ته وئیلے کیږي چې پۀ کوم شي داخل شي نو د هغې پۀ آخر کښی لفظًا عمل نۀ کوی او معنًی عمل کوي ، لکه "لا" پۀ "لا يَضْرِبُ" کښی .

د مرکب اقسام:

مرکب پۀ دوه/۲ قسمه دے ۱ ـ مرکب مفید ۲ـ مرکب غیر مفید

وجه حصر : وجه د حصر پکښی داده چې مرکب به خالی نۀ وي د قائل د چپ کیدو نه بعد به سامع او مخاطب ته فائد تامه حاصلیږی یا نه ، کۀ فائد تامه حاصلیده ، نو مرکب مفید او کۀ نۀ حاصلیده نو مرکب غیر مفید.

مثال د مرکب مفید : « ذَهَبَ زَيْدٌ » او د مرکب غیر مفید مثال لکه « غُلَامُ زَيْدٍ »

زده کړه چې پۀ پښتو کښي نیمګړې خبرې ته مرکب غیر مفید او تفصیلي خبرې ته مرکب مفید وائي.

اسماء د مرکب مفید :

هغه شپږ/٦ دي : ١ـ مرکب مفید٢ـ مرکب تام ٣ـ مرکب کلامی ٤ـ مرکب اسنادی ٥ـ جمله ٦ـ کلام.

اسماء د مرکب غیر مفید :

هغه پينځهٔ/٥ دي : ١ـ مرکب غیرمفید ٢ـ مرکب غیر تام ٣ـ مرکب غیر کلامی ٤ـ مرکب غیر اسنادی ٥ـ ناقص.

اقسام د مرکب مفید او د جملی :

مرکب مفید ته جمله هم وائي او جمله پهٔ دوه/۲ قسمه باندې ده ۱ـ جمله خبریه ۲ ـ جمله انشائیه .

وجه حصر : وجه د حصر پکښی دا ده چې جمله به خالی نهٔ وی د هغی قائل او ویونکي ته به نسبت د صدق او د کذب کولے شي یا نه ، کهٔ نسبت د صدق او د کذب ورته کولے شو نو جمله خبریه او کهٔ نهٔ شو کولے ؛ نو جمله انشائیَّه [۲].

اقسام د جمله خبریه :

جمله خبریه پهٔ دوه/۲ قسمه باندې ده ۱ـ جمله اسمیه ۲ ـ جمله خبریه.

وجه حصر : وجه د حصر پکښې داده چې جمله خبریه به خالی نهٔ وي ، ددې جزء اول به یا اسم وي او یا فعل ، کهٔ جزء اول ئې اسم وو نو جمله اسمیه او کهٔ فعل وو نو جمله فعلیه.

د جمله فعلیه مثال لکه « ضَرَبَ زَيْدٌ » او د اسمیه مثال لکه « زَيْدٌ قَائِمٌ »

اسماء د اجزآؤ د جمله اسمیه :

د جمله اسمیه د جزء اول پینځهٔ/۵ نومونه دي ۱ـ مسند الیه ۲ـ محکوم علیه ۳ـ مخبر عنه ٤ـ موضوع ٥ـ مبتداء .

د جمله اسمیه د جزء ثانی نههٔ/۹ نومونه دي ۱ـ مسند ۲ـ مسند به ۳ـ محکوم ٤ـ محکوم به ٥ـ مخبر ٦ـ مخبر به ۷ـ محمول ۸ـ حکم ۹ـ خبر .

---

[۲] ـ **حل شده مثال** :

۱) **فَرَسٌ** : لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مفرد اسم .

۲)**ضَرَبَ** : لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مفرد فعل .

اسماء د اجزآؤ د جمله فعليه :

د جمله فعليه د جزء اول درې/۳ نومونه دي ۱ـ مسند ۲ـ فعل ۳ـ عامل.

د جزء ثانی څلور/٤ نومونه دي ۱ـ مسند اليه ۲ـ فاعل ۳ـ نائب فاعل ٤ـ معمول .

نوټ : پۀ آن واحد کښې به پۀ فاعل او پۀ نائب فاعل کښی په وقت د ترکيب کښی صرف يو نوم رازی ځکه چې فاعل د فعل معلوم او نائب فاعل د فعل مجهول د پاره رازی [۳].

جمله انشائيّه:

انشاء پۀ لغت کښی ايجاد د مالم يوجد ته وائي او پۀ اصطلاح کښی هغه جمله چې د هغې قائل ته نسبت د صدق او د کذب نۀ شي کيدے .

اقسام د جمله انشائيه :

انشاء اولًا پۀ دوه/۲ قسمه باندی ده ۱ـ طلبی ۲ـ غير طلبی .

د انشاء غير طلبی اقسام غير محدود دي ، انشاء طلبی پۀ لس/۱۰ قسمه باندې ده ، لکه چې پدې شعر کښې مذکور دي : ع

---

[۳] ـ **حل شده مثال** :

اِسْتَغْفَرَ زَيْدٌ ـ لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مرکب مرکب مفيد مرکب تام مرکب کلامی مرکب اسنادي جمله او کلام جمله خبريه فعليه .

اِسْتَغْفَرَ : لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مفرد مسند فعل عامل .

زَيْدٌ : لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مفرد مسند اليه فاعل معمول فعل سره د خپل فاعل نه مرکب مفيد ، مرکب تام ، مرکب کلامی ، مرکب اسنادي جمله او کلام جمله خبريه فعليه .

تمنیٔ ترجیٔ عُقُود اے اَخِیٔ
نِدَاء و قَسَمْ عَرَضْ و اَمَرْ و نَہِیٔ
چوں تَعجُبْ و اِسْتِفْہَام رابخواں اے جواں
ایں ده/۱۰ اقسام انشاء است بخوبی بداں

تمنی : تمنی پۀ لغت کښې آرزو ته وئیلے کیږي او پۀ اصطلاح کښې چې د یو شی آرزو او تمنّا پۀ حرف تمنّي سره اوکړے شی ، لکه : «لَيْتَ زَيْدًاحَاضِرٌ».

ترجّي : ترجی پۀ لغت کښي اُمید ته وئیلے کیږي او پۀ اصطلاح کښې چې د یو څیز امید اوکړے شي خو پۀ حرف تَرَجِّيْ سره لکه « لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ »

عقود : عقود پۀ لغت کښی غوټه کولو ته وائي او پۀ اصطلاح کښې عقود هغه کلمې ته وائي چې پۀ کوم سره د یوې معاملې تړون او عقد اوکړے شي لکه "بِعْتُ" او "اِشْتَرَيْتُ".

نداء : نِدَاء پۀ لغت کښی آواز ته وئیلے کیږي او پۀ اصطلاح کښی چې متکلم مخاطب ته آواز پۀ حرف ندا سره اوکړي .

فائده : چې کوم ځائے حرف نداء راغلے وي هلته څلور/٤ څیزونه پیژندل ضروري دي ۱ـ حرف نداء ۲ـ مُنادِی ۳ـ مُنادَی ٤ـ مقصود بالنّدآء ، لکه : « يَا زَيدُ اِضْرِبْ عَمْرًوا » دلته منادِی متکلم دے او "یا" حرف نداء ده او " اِضْرِبْ عَمْروًا " مقصود بالنّدآء ده .

قسم : قسم پۀ لغت کښی کلکولو ته وائي او پۀ اصطلاح کښې چې متکلم د مخاطب یقین خاص کولو د پاره پۀ خپله خبره باندې قسم راوړي ، لکه : « وَ اللهِ لَأَضْرِبَنَّ زَيْدًا » "و" حرف قسم دے "لفظ الله" مقسم دے او "لأضربنّ زیدًا" مقسم به او جواب قسم دے او متکلم مقسِم دے.

فائده : چې کوم ځائے قسم راوړے شي هلته څلور/٤ څیزونه پیژندل ضروري وي ۱ـ حرف قسم ۲ـ مقسِم ۳ـ مقسَم ٤ـ مقسَم به

عرض : عرض پهٔ لغت کښې پيشکش او درخواست ته وائي او پهٔ اصطلاح کښې چې متکلم مخاطب ته پهٔ ډيره نرمئ او عاجزئ سره د يوې خبرې درخواست اوکړي ، لکه « اَلَا تَاْتِيْنِىْ فَاُعْطِيْكَ دِيْنَارًا »

امر : امر پهٔ لغت کښې حکم ته وائي او پهٔ اصطلاح کښې « طَلَبُ الْفِعْلِ مِنَ الْفَاعِلِ الْمُخاطَبِ » لکه : "اِضْرِبْ"

فائده : امر پهٔ درې/٣ معنو باندې راځي :

١ـ پهٔ معنى د حکم ، چې کله ئې ادنى اعلى ته اوکړي مثلًا د استاذ حکم شاګرد ته .

٢ـ پهٔ معنى د درخواست ، چې کله ئې ادنى اعلى ته اوکړي ، مثلًا د شاګرد حکم استاذ ته چې جی ! دا کار اوکړئ .

٣ـ پهٔ معنى د التماس : چې کله ئې مساوى مساوى ته اوکړي ، مثلا يو دوست بل ته اوائي چې اوبهٔ راکړه .

نهي : نهي پهٔ لغت کښې منع کولو ته وائي او پهٔ اصطلاح کښې طَلَبُ تَرْكِ الْفِعْلِ مِنَ الفَاعِلِ الْمُخَاطَبِ ، لکه : "لَا تَضْرِبْ" .

تعجب : تعجب پهٔ لغت کښې ناآشنا ته وئيلے کيږي او پهٔ اصطلاح کښې چې د يو څيز علم ستا ذهن ته راشى او د هغې سبب معلوم نهٔ وي او د هغې سره ذهن ته کوم کيفيت راشي ، دغې ته تعجب وائي لکه « مَا اَحْسَنَهُ وَاَحْسِنْ بِهِ » .

استفهام : استفهام پهٔ لغت کښې ځان پوهه کولو ته وائي او پهٔ اصطلاح کښې چې يو ناواقفه سړے د يو خبردار او واقف سړي نه د يو نا معلومې خبرې پهٔ باره کښې د ځان پوهه کولو دپاره پهٔ حرف استفهام سره تپوس اوکړي لکه « هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ » [٤].

---

[٤] ـ **حل شده مثال** :

مرکب غیر مفید

مرکب غیر مفید پهٔ پینځهٔ قسمه دے ۱۔ مرکب اضافی ۲۔ مرکب توصیفی ۳۔ مرکب صوتی ٤۔ مرکب بنائي ٥۔ مرکب منع صرف.

وجه حصر : وجه د حصر پکښی داده چې د مرکب غیرمفید جزء ثانی به خالی نهٔ وی یا به د جزء اول د پاره قید وی یا نه ،کهٔ د جزء اول دپاره قید وو ؛ نو بیا به خالی نهٔ وي یا به قید پهٔ اعتبار د صفت سره وي یا د اضافت ، کهٔ پهٔ اعتبار د اضافت وو نو مرکب اضافی مثلا "غُلَامُ زَيْدٍ" او کهٔ پهٔ اعتبار د صفت وو نو مرکب توصیفی لکه "رَجُلٌ عاَلِمٌ" او کهٔ جزء ثانی د جزء اول دپاره قید نهٔ وو ، نو بیا به خالی نهٔ وي یا به پکښی صوت وي یا نه ، کهٔ صوت پکښی وو نو مرکب صوتی لکه "سِيْبَوَيْه" او کهٔ صوت پکښی نهٔ وو نو بیا به خالی نهٔ وی یا به پکښی یو حرف پټ او متضمن وي یا نه کهٔ پکښی یو حرف پټ او متضمن وو نو مرکب بنائي لکه "اَحَدَ عَشَرَ" چې پهٔ اصل کښي "اَحَدٌ وَ عَشَرٌ" وو ، نو دا "وآؤ" پکښی حرف متضمن دے او کهٔ پکښی نهٔ وو نو مرکب منع صرف لکه "بَعْلَبَكَ" او "حَضْرَمَوْتْ".

أَبْصِرْ بِهِ : لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مرکب مرکب مفید ، تام ، کلامی ، اسنادي ، جمله او کلام جمله انشائیه تعجبیه .

أَبْصِرْ : بمعنی "أَبْصَرَ" لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مفرد مسند فعل عامل .

بِ : لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد حرف از حروف زائده جاره .

هُ : ضمیر لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد اسم مسند الیه فاعل معمول .

فعل سره د خپل فاعل نه مرکب مفید تام ، کلامی ، اسنادي جمله او کلام جمله انشائیه بمعنی جمله خبریه .

فائده اولی : د مرکب اضافی جزء ثانی به همیشه مجرور وي او جزء اول به ئي د عامل تابع وی ، لکه « جَآءَنِیْ غُلَامُ زَیْدٍ » ، « رَأَیْتُ غَلَامَ زَیْدٍ » ، « مَرَرْتُ بِغُلَامِ زَیْدٍ » .

د مرکب توصیفی جزء اول به د عامل تابع وي او جزء ثانی به د جزء اول تابع وي لکه « جَآءَنِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ » ، « رَأَیْتُ رَجُلًا عَالِمًا » ، « مَرَرْتُ بِرَجُلٍ عَالِمٍ».

مرکب صوتی به مبنی وي.

د مرکب بنايي دواړه جزءونه به مبنی وي پهٔ فتحه باندې سوا د "اِثْنَا عَشَرَ" نه چې پدیکښی جزء اول معرب دے .

مرکب منع صرف ددې جزء اول به مفتوح وي او جزء ثانی به بدلیږی رابدلیږی.

فائده ثانیه : مرکب غیر مفید به همیشه جزء د جملې وي پوره جمله به نهٔ وی[٥].

---

[٥] ـ **حل شده مثال** :

۱) **رَسُوْلُ اللهِ** : مرکب مرکب غیر مفید غیر تام غیر کلامی غیر اسنادي مرکب ناقص مرکب اضافي.

"**رَسُوْلُ**" : لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفرد کلمه اسم مضاف .

لفظ"الله" : لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مرکب مرکب غیر مفید غیر تام غیر کلامی غیر اسنادي مرکب ناقص مرکب اضافي.

۲) **مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ** : لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مرکب مرکب مفید تام کلامی اسنادي جمله او کلام جمله خبریه اسمیه .

مُحَمَّدٌ : لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد اسم مسند الیه محکوم علیه مخبر عنه موضوع مبتدا .

د جملې ذاتي او صفاتي اقسام

هره جمله به د دوو/٢ کلمو نه کمه نهٔ وي ، دوه/٢ کلمې به لازمي وي ، برابره خبره ده چې لفظا وي يا تقديرًا ، د لفظًا مثال « ضَرَبَ زَيْدٌ » او د تقديرًا مثال « اِضْرِبْ » چې پديکښې "اَنْتَ" ضمير پټ دے ، نو تقديرًا دوه/٢ کلمې شوې ، زياتې هر څومره کيدے شي يعنې کلمات زياتيدے هم شي خو چې کله کلمات زيات شي نو بيا به پکښې يو څو څيزونه پيژندل ضروري وي ١ـ اسم ، فعل او حرف ٢ـ معرب او مبنې ٣ـ عامل او معمول ٤ـ د کلماتو خپل ما بين کښې ترکيبي تعلق چې مثلا کوم مبتدا او کوم ئې خبر دے او کوم ئې فعل دے او کوم ئې فاعل

بيا ددې څيزونو پيژندګلو ځکه ضروري دي چې مسند او مسند اليه ظاهر شي او د جملې صحيح معنې معلومه شي .

اقسام د جملې په اعتبار د ذات سره :

جمله پهٔ اعتبار د ذات سره پهٔ څلور/٤ قسمه ده ١ـ اسميه ٢ـ فعليه ٣ـ ظرفيه ٤ـ شرطيه .

وجه حصر : وجه د حصر پکښې دا ده چې دا جمله به پهٔ اعتبار د ذات سره خالي نهٔ وي يا به ئې جز اول اسم وي يا به فعل وي يا شرط يا ظرف ، کهٔ جزء اول ئې اسم وو نو جمله اسميه لکه « زَيْدٌ قَائِمٌ » کهٔ فعل وو نو جمله فعليه لکه « ضَرَبَ زَيْدٌ » او کهٔ جزء اول ئې شرط وو نو جمليه شرطيه ، لکه « اِنْ تُکرِمْنِيْ اُکرِمْكَ » او کهٔ جزء اول ئې ظرف وو نو جمله ظرفيه لکه « عِنْدِيْ مَالٌ ».

رَسُوْلُ اللّٰهِ : د مخکښې پشان دے ، مسند مسند به محکوم محکوم به مخبر مخبر به محمول حکم خبر .

مبتدا سره د خپل خبر نه مرکب مفيد تام کلامې اسنادي جمله او کلام جمله خبريه اسميه .

اقسام د جملې په اعتبار د صفت سره :

جمله پهٔ اعتبار د صفت سره پهٔ شپږ/٦ قسمه ده ١ـ مبيّنه ٢ـ معلّله ٣ـ معترضه ٤ـ حاليه ٥ـ مستانفه ٦ـ معطوفه.

مبيّنه : دا هغه جملې ته وئيلى كيږي چې د اولنۍ جملې وضاحت او تفصيل كوي ، مثلا « اَلْكَلِمَةُ عَلَى ثَلَاثَةِ اَقْسَامٍ اِسْمٌ وَ فِعْلٌ وَ حَرْفٌ » نو مخكښى جمله كښى اقسام ثلاثه مجهول وو ، معلوم نهٔ وو نو دويمى جملې د هغې وضاحت اوكړو.

معلّله :ـ دا هغه جملې ته وئيلے كيږي چې د مخكښى جملې د پاره وجه او علت بيان كړي ، لكه « لَا تَصُوْمُوْ فِيْ هَـذِهِ الْاَيَّامِ فَاِنَّهَا اَيَّامُ اَكلٍ وَشُرْبٍ وَبِعَالٍ » .

معترضه : دا هغه جملې ته وئيلے كيږي چې د دوو/٢ جملو پهٔ مينځ كښى بې جوړه او بې تعلقه واقع شى ، لكه : « قَالَ اَبُوْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰه اَلنِّيَّةُ فِي الْوُضُوءِ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ »

اوس پدې مذكوره مثال كښې "قَالَ" فعل "أَبُوْ حَنِيْفَةَ" فاعل ، اوس دا قول شو مقوله ددى "اَلنِّيَّةُ فِي الْوُضُوءِ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ" دے ، پاتې شو دا "رَحِمَهُ اللّٰهُ" نو دا پهٔ درميان كښې بې جوړه واقع دے ؛ نو دا جمله معترضه شوه.

مستأنفه : دا هغه جملې ته وائي چې د هغه ځائے نه نوے كلام شروع كيږى لكه « اَلْكَلِمَةُ عَلَى ثَلَاثَةِ اَقْسَامٍ » او ديته جمله ابتدائيه هم وائي .

حاليه : دا هغه جملې ته وئيلے كيږى چې حال واقع شوے وى يا د فاعل نه يا د مفعول نه لكه « جَآءَنِيْ زَيْدٌ وَهُوَ رَاكِبٌ » دلته "زيد" فاعل دے او " وَهُوَ رَاكِبٌ " جمله حال دے د هغې نه.

معطوفه : دا هغه جملې ته وائي چې پهٔ بله مخكښى جمله عطف وي ، لكه « جَآءَنِيْ زَيْدٌ وَذَهَبَ عَمْرٌ » نو مخكښى « جَآءَنِيْ زَيْدٌ » معطوف عليه دي او وآؤ عاطفه دے او « ذَهَبَ عَمْرٌو » معطوف دے.

علامات د اسم :

علامات د اسم متعدد دي چې پدې شعر د شاعر کښې مذکور دي : ع

لام تنوین ،حرف جر مسند الیه منسوب داں
پس مُصَغَّر تثنیه مجموع مضاف رانخواں
نیز تاے متحرکه موصوف علامت اسم داں
نظم کردم آنچه دیدم در کتاب نحویاں

فائده : اعتراض : عجیبه خبره ده چې تهٔ وائې چې تثنیه او جمع علامت د اسم دے ؛ نو دا خو پهٔ "ضَرَبَا" او "ضَرَبُوْا" په فعل کښی هم راځي **جواب** : پهٔ فعل کښی چې کوم تثنیه او جمع راځي نو دا جمع او تثنیه پهٔ اعتبار د فعل نهٔ وی ، بلکه دا پهٔ اعتبار د فاعل سره وي ، لکه "ضَرَبَا" کښی دوه/۲ فاعله دي او په ضَرَبَ کښی یو فاعل دے ، دا مطلب نهٔ دے چې دوه/۲ کارونه شوي دي ، کار یو دے خو فاعل دوه/۲ دي او یا ډیر دي ، نو تثنیه او جمع خاصیت صرف د اسم دے .

علامات د فعل :

شاعر دغه علامات په لاندې شعر کښې ذکر کړي دي : ع

سین ، سوف ، جازم ، قد ، تائے ساکن ، امر داں
اتصال تائے فعلتُ ، و نہی علامت فعل داں

علامات حرف:

شاعر دغه علامات په لاندې شعر کښې ذکر کړي دي : ع

در حرف ہرگز نه باشد اے عزیز
از علامت اسم فعل ہیچ چیز [٦]

---

(٦) ـ حل شده مثال :

معرب ، مبني

د آخری حرف د بدلیدو پهٔ اعتبار سره کلمه پهٔ دوه/٢ قسمه باندې ده ١ـ معرب ٢ـ مبنی.

وجه حصر : وجه د حصر پکښی دا ده چې د کلمی آخر به خالی نهٔ وي یا به د مختلف عواملو د راتلو د وجې نه بدلیږي یا نه ، کهٔ بدلیدو نو معرب ، لکه « جَاءَنِيْ زَيْدٌ » ، « رَأَيْتُ زَيْدًا » او « مَرَرْتُ بِزَيْدٍ » او کهٔ نهٔ بدلیدو نو مبنی لکه «جَاءَنِيْ هَؤُلَاءِ» ، « رَأَيْتُ هَؤُلَاءِ» او « مَرَرْتُ بِهَؤُلَاءِ ».

د معرب او مبنی دې وجه حصر ته شاعر پدی شعر کښی هم اشاره کړې ده .

مبنی آں باشد کہ ماند برقرار
معرب آں باشد کہ گردد بار بار

تعریف د عامل :

د کوم څیز د وجې نه چې تبدیلي پهٔ اعراب کښی راځي ، دغه ته عامل وائي ، لکه « جَآءَنِيْ زَيْدٌ » کښی "جَآءَ" عامل دے.

تعریف د اعراب :

په کلمه کښې چې کوم یو څیز بدلیږی رابدلیږی ، هغی ته اعراب وائي .

رَسُوْلُ اللهِ : مرکب مرکب غیر مفید غیر تام غیر کلامی غیر اسنادي مرکب ناقص مرکب اضافي.

"**رَسُوْلُ**" : لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفرد کلمه اسم علامت اسم مضاف .

لفظ"الله" : لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم دخول الف لام ، مضاف سره د مضاف الیه نه مرکب مرکب غیر مفید غیر تام غیر کلامی غیر اسنادي مرکب ناقص مرکب اضافي.

اقسام د اعراب :

اعراب په دوه قسمه باندے دے : ۱۔ اعراب حرکتی ۲۔ اعراب حرفی

اعراب حرکتی : هغه اعراب چې ضمّی ، فتحی ، کسرې سره وي.

اعراب حرفی : هغه اعراب چې پهٔ وآؤ ، الف او یآء سره وي .

ددی ټولو دپاره مثال :

« جَآءَنِیْ زَیْدٌ » پدیکښې "جَآءَ" عامل دے ؛ ځکه ددې وجې نه اعراب بدلیږي رابدلیږي او پدی "زَیْدٌ" باندې ضمه اعراب دے او دا دال محل د اعراب دے او دا "زَیْدٌ" پدې ځائے کښې معرب دے.

د معرب اقسام :

معرب پهٔ دوه/۲ قسمه باندې دے ۱۔ فعل مضارع چې د نون جمع تاکید او د نون د جمع مؤنث نه خالی وي ۲۔ اسم متمکن چې پهٔ ترکیب کښی واقع وی لکه « زَیْدٌ قَائِمٌ » دیکښی دا "زَیْدٌ" معرب دے ؛ ځکه چې اعراب پری جاري شوي دي.

اقسام د مبنی:

پهٔ دوه/۲ قسمه باندې دے : ۱۔ مبنی الاصل ۲۔ مشابه د مبنی الأصل

مبنی الاصل دا پهٔ درې/۳ قسمه باندې دے ۱۔ فعل ماضی ۲۔ امرحاضرمعلوم ۳۔ ټول حروف.

او دری نور د دی په حکم کښی دی ۱۔ جمله من حیث الجمله ۲۔ فعل مضارع چې د نون د جمع مؤنث او د نون د تاکید سره وي ۳۔ اسم متمکن چې کله ترکیب کښی واقع نهٔ وي [۷].

---

[۷] ۔ **حل شده مثال :**

اقسام د اسم په اعتبار د تمکن

اسم پۀ اعتبار د تمکن سره په دوه/۲ قسمه باندې دے : ۱ـ اسم متمکن ۲ـ اسم غیر متمکن .

وجه حصر : وجه د حصر پکښي داده چې دا اسم به خالی نۀ وي یا به د مبنی الاصل سره مشابهت لري یا نه ، کۀ مشابهت ئې د مبنی الاصل سره لرو نو اسم غیر متمکن او کۀ مشابهت ئې نۀ لرو ؛ نو اسم متمکن .

وجه تسمیه د متمکن او د غیر متمکن :

متمکن د تمکن نه دے او تمکن وئیلےشي ځائے ورکولو ته او دا هم اعراب لره ځاے ورکوي او غیر متمکن ته غیر متمکن ځکه وائي چې دا اعراب له ځاے نۀ ورکوي .

اقسام د مشابهت:

مشابهت په اووه/۷ قسمه باندې دے : ۱ـ افتقاری ۲ـ وقوعي ۳ـ وقوعی شبهی ٤ـ شبهی وقوعی ٥ـ وضعی ٦ـ تضمّنی ۷ـ اضافی.

مشابهت افتقاری : چې یو اسم مشابه وي د مبنی الاصل سره پۀ احتیاج کښی لکه اسماء اشارات ، موصولات او مضمرات لکه څنګه چې حرف

اِفتَحُوْا : لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مرکب مرکبِ مفیدمرکب اسنادی مرکب کلامی مرکب تام جمله او کلام جمله انشائیه امریه .

اِفْتَحْ :لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه فعل علامت فعل فعل امرحاضرمعلوم مبنی مبنی الاصل عامل مسند فعل

"و" : ضمیر لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفرد کلمه اسم علامت اسم مسند الیه ، اسم غیرمتمکن مبنی مشابه مبنی الاصل ، مسندالیه ـ فاعل ، معمول ، فعل سره د خپل فاعل ته جمله انشائیه امریه -

مبنى الاصل دے او يو ځائے كيدو د بلې كلمې ته محتاج دے ، دغه شان اسماء اشارات مشاراليه ته محتاج ، اسماء موصولات صلې ته محتاج او مضمرات مرجع ته محتاج .

مشابهت وقوعی : ديته وائي چې يو اسم مشابه وي د مبنى الاصل سره پۀ وقوع كښې يعنى د مبنى الاصل په ځائے واقع وي لكه "نَزَالِ" چې دا واقع دے په ځائے د "اِنْزِلْ" مبنى الأصل باندې.

وقوعی شبهی : ديته وائي چې يو اسم مشابه وي د بل اسم سره او هغه بل اسم د مبنى الاصل پۀ ځائے واقع وي لكه "حَضَارِ" او "تَمَارِ" دا مشابه دے د "نَزَالِ" سره او "نَزَالِ" د "اِنْزِلْ" پۀ ځائے واقع دے .

شبهی وقوعی : ديته وائي چې يو اسم واقع وي د بل اسم پۀ ځائے او چې هغه بل اسم مشابه وي د مبنى الاصل سره مثلاً "يَازَيْدُ" دلته كښې "زيد" واقع دے پۀ ځائے د كاف اسمى خطابي ؛ ځكه ددې معنى د "أَدْعُوْكَ" او كاف اسمى خطابى مشابه دے د كاف حرفى خطابى سره او كاف حرفى مبنى دے او پديكښې دا زيد مبنى شو د وجې د مشابهت وقوعى نه.

كاف حرفى خطابى: كاف حرفى هغه كاف ته وئيلے كيږي چې د اسماء اشارات نه بعد راځى ، لكه "ذَالِكَ" , "أُولَائِكَ".

مشابهت وضعی : ديته وائي چې يو اسم مشابه وي د مبنى الاصل سره پۀ وضع كښې ، مثلاً د اسم بناء كم ازكم د دريو حروفو نه وي او د حرف اكثر د دوو/۲ نه وي ؛ نو چې د كم اسم بناء پۀ دوه/۲ حروفو باندې وي ؛ نو دے مشابه دے د حرف سره پۀ وضع كښې ، لكه "مَا" او "مَنْ" دا دوه حرفى دي او دي آسماء ، نو مشابه شو د "هَلْ" او "قَدْ" سره نو مشابهت پكښې وضعى شو .

مشابهت تضمّنی : دیته وائي چې يو اسم پۀ خپله معنی کښې متضمّن وي معنی د مبنی الاصل لره مثلًا ”أَيْنَ“ نو ددی معنی کله معنی د حرف استفهام لره متضمّنه وي او کله معنی د حرف شرط لره او هر کله چې دا متضمن وي معنی د حرف استفهام او حرف شرط لره نو حرف استفهام او حرف شرط خو مبنی دي ، نو دا هم مبنی شو .

مشابهت اضافی : دیته وائي چې ظروف غیر مبنیه مضاف وي ”اِذْ“ ته یا جملې ته مثلاً ”يَوْمَئِذٍ“ او ”حِيْنَئِذٍ“ ، دا ”حِيْنَئِذٍ“ پۀ اصل کښې ”حِيْنَ اِذْ كَانَ كَذَا“ وو ”حِيْنَ“ مضاف دے ”اِذْ“ ته ، ددې اضافت د وجې نه مبنی شو او جملې ته د اضافت مثال ، لکه (يَوْمَ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ صِدْقُهُمْ) نو دا ”يَوْم“ مضاف ”ینفع“ فعل ”الصَّادقین“ مفعول او ”صدقهم“ فاعل ، دا ټوله جمله ورلره مضاف الیه دے اوس ”يَوْم“ مبني دے ددې وجې نه چې اضافت ئې جملې ته شوے دے .

[اقسام د اسم غیر متمکن]

هغه اسم چې د مبنی الاصل سره مشابه وی یعنی اسم غیر متمکن پۀ اتۀ/۸ قسمه دے : ۱ـ مضمرات ۲ـ موصولات ۳ـ اسماء اشارات ٤ـ اسماء افعال ٥ـ اسماء اصوات ٦ـ اسماء ظروف ۷ـ اسماء کنایات ۸ـ مرکب بنائي.

۱ـ مضمرات :

جمع د ”مُضْمَرٌ“ ده او مضمر ضمیر ته وئیلے کیږي او ضمیر هغه اسم ته وئیلے کیږي چې د غائب مخاطب او د متکلم دپاره وضع شوے وي .

بیا مضمرات پۀ پینځه/٥ قسمه باندې دے ۱ـ مرفوع متصل ۲ـ مرفوع منفصل ۳ـ منصوب متصل ٤ـ منصوب منفصل ٥ـ مجرورمتصل.

مرفوع متصل : د فاعل هغه ضمير چې د خپل فعل سره متصل او يو ځائے وي ، دا څوارلس/۱٤ دي ، لکه : ضَرَبْتُ ، ضَرَبْنَا ....

مرفوع منفصل : د فاعل هغه ضمير چې د خپل فعل نه جدا او منفصل وي او دا هم څوارلس/۱٤ دي ، لکه : أَنَا ، نَحْنُ ....

فائده : کۀ ضمير د مرفوع متصل وي او کۀ د مرفوع منفصل د فاعل نه علاوه د نورو مرفوعاتو د پاره هم راتلے شی خو تعريف کښې ذکر د فاعل صرف د آسانتيا دپاره دے.

منصوب متصل : د مفعول هغه ضمير چې د خپل فعل سره يوځائے او متصل وي او دا هم څوارلس/۱٤ دي ، لکه : ضَرَبَنِيْ ،ضَرَبَنَا ....

منصوب منفصل : د مفعول هغه ضمير چې د خپل فعل نه جدا او منفصل وي او دا هم څوارلس/۱٤ دي ، لکه : اِيَّایَ ، اِيَّانَا ....

فائده : ضمير کۀ د منصوب متصل وي او که د منفصل د نورو منصوباتو د پاره هم راتلے شی خو تعريف کښې ذکر د مفعول صرف د آسانتيا د پاره شوے دے.

ضمير مجرور متصل : هغه ضمير چې مجرور وي او متصل وي ، دا هم څوارلس/۱٤ دي ، خو په دوه/۲ طريقو سره راځي ۱ـ مجرور بحرف الجر ، لکه لِيْ ، لَنَا ...... ۲ـ مجرور بالاضافة ، لکه غُلَامُنِي ، غُلَامُنَا ....

فائده : کله کله يو ضمير د غائب ذکر وي خو مرجع مخکښې ذکر نۀ وي ديته ضمير الشّان وائی او ضمير قصه هم ؛ ځکه کۀ چرته ضمير د مذکر وو نو ضمير الشان او کۀ ضمير د مؤنث وو ؛ نو بيا ضمير قصه ورته وائي او ددېنه بعد به يوه جمله تفسيريه راځی او ددې ضمير وضاحت به کوي ، مثال د ضمير شان ، لکه : (قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد) * اووايه شان دادے د خبری چې الله يك يو دے * او مثال د ضمير قصه « اِنَّهَا زَيْنَبٌ قَائِمٌ »

٢ـ اسماء موصولات :

هغه نا تمام او نا مکمل اسم چې د هغې ناتماميت او نامکمليت موقوف وی پۀ ورستو جمله باندې يعنی صله باندی او هغی کښې يو ضمير راجع وی موصول ته او وي به جمله خبريه ، مثلًا « جَاءَالَّذِیْ اَبُوْهُ عَالِمٌ » موصولات دادي اَلّذِیْ ، اَلّذَانِ ، اَلّذَيْنِ ، اَلّذِيْنَ ، اَلّتِیْ ، اَلّتَانِ ، اَلّتَيْنِ ، الّلَاتِیْ ، اَللّاوَاتِیْ ، مَا ، مَنْ اَیٌّ ، واَيَّةٌ او هغه الف لام چې پۀ اسم فاعل او اسم مفعول باندې داخل شي لکه "الضّارب" ، "المضروب" کښې د "الّذی" پۀ ځائے راځي او "ذو" د بنی طی قبيله پۀ ژبه کښې دا هم د "الّذی" په معنې راځي.

"اَلَّذِیْ" د مفرد مذکر دپاره راځي "الّذان" او "اَلَّذَيْنِ" دا د تثنيه دپاره راځي خو "اَلَّذَانِ" پۀ حالت رفعی کښی او "اَلّذَيْنِ" پۀ حالت نصبی او جری کښی او "اَلَّذِيْنَ" د جمع مذکر دپاره "اَلَّتِیْ" د واحده مونثه دپاره او "اَلَّتَانِ" او "اَلّتَيْنِ" د تثنيه مؤنث دپاره ، خو "اَلّتَانِ" پۀ حالت رفعی کښي او "اَلّتَيْنِ" په حالت نصبی او جرّی کښي او "اَللّاتِیْ" او"اَللّاوَاتِیْ" دا هم د جمع مونث دپاره "مَا" اکثر د غير ذوی العقول د پاره راځي او "مَنْ" اکثر د ذوی العقول د پاره او "أیٌّ" او "أيّةٌ" ددی څۀ خاص مصداق نشته دا عام دي .

احوال اربعه د اَیٌّ او اَيَّةٌ : ددې څلور/٤ حالتونه دي ، درې/٣ حالاتو کښي معرب وي او يو حالت کښي مبني.

وجه د حصر : وجه د حصر پکښی دا ده چې "أیٌّ" او "أيّة" به خالی نۀ وي يا به مضاف وي يا نه کۀ مضاف نۀ وو نو بيا به خالی نۀ وي يا به ئې صدر صله مذکور وي يا نه ، کۀ صدر صله ئې مذکور وه او که نه دواړو حالاتو کښي معرب ، لکه « أيٌّ قَائِمٌ » او « اَیٌّ هُوَ قَائِمٌ » او کۀ مضاف وو نو بيا به خالی نۀ وي صدر صله به ئې مذکور وي يا نه ، کۀ صدر صله ئې مذکور وه نو

معرب لکه « أَيُّهُمْ هُوَ قَائِمٌ » او کۀ صدر صله ئې محذوف وه ، نو مبنی لکه « أَيُّهُمْ قَائِمٌ » .

۳ـ اسماء اشارات :

اشاره پۀ لغت کښې اشارې کولو ته وائي او پۀ اصطلاح کښې « مَا وُضِعَ لِلْمُشَار اِلَيْهِ » * يعنى هغه اسم چې په هغې سره مشار اليه ته اشاره کولے شی*.

د اسم اشاره اقسام :

اسم اشاره پۀ دوه/۲ قسمه باندې ده : ۱ـ اشاره قريب ۲ـ اشاره بعيد

وجه د حصر : وجه د حصر پکښې دا ده چې اسم اشاره به خالی نۀ وي يا به د مشار اليه پۀ قرب دلالت کوي يا به د مشار اليه په بُعد دلالت کوي ، کۀ پۀ قرب دلالت کوي نو اسم اشاره قريب او کۀ پۀ بعد دلالت کوي نو اسم اشاره بعيد .

الفاظ د اسم اشاره قريب :

”هذَا“ د واحد مذکر دپاره ”هذَانِ“ د تثنيه مذکر حالت رفعی دپاره او ”هاذَيْنِ“ د تثنيه مذکر د حالت نصبی او جری د پاره”هذِهِ“ د واحده مونثه دپاره راځي ”هَاتَانِ“ د تثنيه مؤنث حالت رفعی دپاره او ”هَاتَيْنِ“ د نصبی او جری د پاره او ”هؤلَآءِ“ د جمع مذکر او مؤنث د پاره راځي .

الفاظ د اسم اشاره بعيد :

”ذَالِكَ“ د واحد مذکر د پاره راځي او ”ذَانِك“ د تثنيه مذکر حالت رفعی دپاره او ”ذَيْنِك“ د تثنيه مذکر د حالت نصبی او جرّی دپاره ”تِلْك“ د واحد مؤنث دپاره ”تَانِك“ د تثنيه مؤنث حالت رفعی دپاره او ”تَيْنِك“ د تثنيه

مؤنث حالت نصبي او جرّی دپاره "أُولَاءِكَ" د جمع مذكر او جمع مؤنث دپاره راځي .

فائده ۱ : كوم ځائے چې اسم اشاره راشي نو هلته دری/۳ څيزونه پيژندل ضروري وي ۱ـ اسم اشاره ۲ـ مشير (اشاره كونكے) ۳ـ مشار اليه (چاته چې اشاره كيږی) .

فائده ۲ : كله چې مشار اليه معرف باللام وي نو هلته څلور/٤ تركيبونه كيږي ۱ـ اسم اشاره مشار اليه ۲ـ مبدل منه بدل ۳ـ موصوف صفت ٤ـ مبيّن عطف بيان .

مثلا « هذَا الْكِتَابُ » "هَذا" اسم اشاره او "الْكِتَابُ" معرف باللام دے نو دلته به داسې وايو چې "هذا" اسم اشاره ويا كه مبدل منه ويا كه موصوف ويا كه مبيّن او "الكتاب" مشار اليه ويا كه بدل ويا كه صفت ويا كه عطف بيان.

فائده ۳: مضمراتو ، موصولاتو او اشاراتو كښي مشابهت افتقاری دے ځكه چې څنګه حرف مبنى الاصل دے او يو ځائے كيدو د بلې كلمې ته محتاج وی نو دغه شان مضمرات مرجع ته ، موصولات صلى ته او اسمائےاشارات مشار اليه ته محتاج وي[۸] .

---

(۸) ـ حل شده مثال :

أَنَا قَائِمٌ : لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنى مركب مركبِ مفيد ، تام ، كلامي ، اسنادي ، جمله او كلام جمله خبريه اسميه -

"أَنَا" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنى مفرد كلمه اسم علامت اسم اسم ضمير ، اسم غيرمتمكن مبنى مشابه مبنى الاصل ضميرمرفوع منفصل مسنداليه محكوم عليه مخبرعنه موضوع مبتداء.

نوټ : اسم موصول مثلًا ”**الذي**“ ...... لفظ لفظ موضوع ......اسم غير متمكن مبنى مشابه مبنى الاصل اسم موصول .

او اسم اشاره مثلًا ... ”**هذا**“ ......لفظ لفظ موضوع .....اسم غير متمكن مبنى مشابه مبنى الاصل اسم اشاره ...... نوره بقايا طريقه هم د مخکښې پشان ده .

٤ـ اسمائے افعال :

هغه اسمآء چې پۀ حقيقت کښې اسماء وي خو معنى ئې د فعل وي ، دا بيا پۀ دوه/۲ قسمه باندې دي :

۱ـ هغه اسماء چې په معنى د فعل امر حاضر معلوم باندې وي دا ووۀ/۷ اسماء دي ۱ـ رُوَيْدَ بمعنى أَمْهِلْ *پريږده* ۲ـ بَلْهَ بمعنى دَعْ *پريږده* ۳ـ حَيَّهَلْ بمعنى اِيْتِ *متوجه شه* ٤ـ هَلُمَّ په معنى د اِيْتِ راوړه ٥ـ دُوْنَك په معنى د خُذْ *اونيسه* ٦ـ عَلَيْك بمعنى اَلْزِمْ *خامخا اونيسه* ۷ـ هَا بمعنى خُذْ *اونيسه*

۲ـ اسمائے افعال بمعنى فعل ماضى معروف ، دا درى/۳ دي ۱ـ هَيْهَاتَ بمعنى بَعُدَ ۲ـ شَتَّانَ بمعنى اِفْتَرَقَ *جدا شو*۳ـ سَرْعَانَ بمعنى سَرَعَ *تيزوالى*

فائده : مشابهت په اسماء افعالو کښې تضمنى دے ، ځکه چې دا دي اسماء اومتضمن دي معنى د فعل لره او هغه افعال مبنى دي.

”**قَائِمٌ**“ لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنى مفردکلمه اسم علامت اسم تنوين،اسم متمكن معرب مسندمسندبه محكوم محكوم به مخبرمخبربه محمول ، حكم ، خبر، مبتداء سره د خبر نه مركب مركبِ مفيد مفيد ، تام ، كلامي ، اسنادي ، جمله او كلام جمله خبريه اسميه .

٥ـ اسمائےاصوات :

اصوات جمع د "صَوْتٌ" ده صوت پۀ لغت کښې اواز ته وائي او پۀ اصطلاح کښې چې د يو حيوان ناطق اواز نقل کړے شي يا د غم يا د خوشحالۍ او د درد پۀ موقع باندې ، د انسان د خولې نه اوځي ، مثلًا "اُحْ اُحْ" د ټوخي آواز "أف" د درد اواز "بَخَّ" د خوشحالی آواز "نَخَّ" د اوښ د کينولو آواز "غَاق" د کارغۀ آواز .

دا هم مبنی دي او مشابهت پکښې مشابهت افتقاري دے ، ځکه چې دا محتاج دي محکی عنه (چې د هغې نه حکايت شوے وي) ته نو افتقار پکښې راغے نو افتقار پکښې راغے د حرف سره او هغه مبنی الأصل او دا د هغې مشابه شو نو مشابهت افتقاري شو .

٦ـ اسمائے ظروف :

ظروف جمع د "ظرفٌ" ده ، لغت کښې لوخي ته وئيلے کيږي او په اصطلاح کښې ظرف پۀ دوه/۲ قسمه باندې دے ۱ـ ظرف زمان ۲ـ ظرف مکان.

وجه حصر : وجه د حصر پکښې دا ده چې ظرف به خالی نۀ وی يا به پۀ ځائے دلالت کوي يا پۀ زمانه ، کۀ پۀ ځائے ئې دلالت کولو نو ظرف مکان او کۀ پۀ زمان ئې دلالت کولو نو ظرف زمان.

ظروف زمانيه : هغه دادي إِذْ، اِذَا، مَتَى، کَيْفَ ،أَيَّانَ ، أَمْس ، مُذ ، مُنْذُ، قَطُّ، عَوْضُ ، قَبْلُ ،بَعْدُ .

اِذْ : دا د ماضی د پاره راځي اګر چې پۀ مستقبل داخل وي ، ددينه بعد جمله اسميه او فعليه دواړه راتلے شي ، د جمله فعليه مثال : « جِئْتُك اِذْ طَلَعَتِ

الشَّمْسُ » د جمله اسميه مثال « جِئْتُكَ اِذِ الشَّمْسُ طَالِعَةٌ » ، مشابهت د ''اِذْ'' وضعي دے .

اِذا : دا د مستقبل د پاره راځي اګر چې پۀ ماضي داخل وي ، يعنې ماضي په معنی د مستقبل ګرځوي ، مثلًا (اِذا جَآءَ نَصْرُاللهِ) او کله کله د مفاجات (ناساپه) دپاره هم راځي لکه : « خَرَجْتُ فَاِذَا السَّبُعُ وَاقِفٌ » ، مشابهت د ''اِذا'' تضمني دے معنی د شرط لره .

مَتی : دا د شرط پۀ معنی هم راځي او د استفهام پۀ معنی هم مثال د ''مَتَی'' شرطي ، لکه « مَتَی تَصُمْ أَصُمْ » چې کله تۀ روژه اونيسې نو زۀ به هم روژه نيسم ، مثال د متی استفهاميه : « مَتَی تُسَافِرُ؟ » *ته به کله سفر کوې* مشابهت د ''متی'' تضمّنی دے ؛ ځکه دا متضمّن دے معنی د شرط لره او کله معنی د استفهام لره .

کيف: دا د حالت معلومولو د پاره راځي ، مثلا « کَيْفَ أَنْتَ أیْ فِیْ اَیِّ حَالٍ أَنْتَ؟ » * تۀ پۀ څۀ حال کښې ئې؟ * .

اَيّانَ : دا د وخت معلومولو د پاره راځي ، لکه : (اَيّانَ يَوْمُ الدِّيْن) .

اَمْسِ: دا د زمانه ماضی دپاره وضعه شوے دے ، لکه « جَآءَنِیْ زَيْدٌ أَمْسِ » *پرون ماسره زيد راغلے وو* پدې درې/۳ واړو ـ **کيف ، أيّان ، أمْسِ** ـ کښې مشابهت تضمّنی دے ؛ ځکه متضمن دے معنی د فعل لره .

مُذْ ومُنْذُ : دا د دوو/۲ مقاصدو دپاره استعماليږي ۱ـ د ابتدائي مدت خودلو دپاره ، مثلا « مَارَأَ يْتُهُ مُذْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ » * ما هغه د جمعې د ورځې نه نۀ دے ليدلے* ۲ـ کله کله د پوره مدت دپآره هم راځي ، مثلا « مَارَأَيْتُهُ مُذْ شَهْرَيْنِ أو مُنْذُ يَوْمَيْنِ » د دوو/۲ مياشتو نه ما نۀ دے ليدلے ، پۀ ''مُذْ'' او ''مُنْذُ'' کښې مشابهت صورةً دے ، صورت کښی دا مشابه دے حروفو سره ځکه چې

"مُذْ" او "مُنْذُ" څنګه ظروف استعمالیږي ، دغه شان حروف جاره هم استعمالیږي .

قطّ: دا لفظ د ماضی منفی د تاکید دپاره راځي او مشابهت پکښي وضعی دے ، مثال « ما ضَرَبْتُه قَطُّ » *ما چرې هم نۀ دے وهلے هغه لره*

فائده : دېکښي مختلف لغات دي ، قَطُّ، قَطُ ، قُطُّ ، قُطُ ، قَطْ ، قِطْ، قُطْ .

عوض : دا د مستقبل د منفی د تأکید دپاره راځي ، لکه : « لَاأَضْرِبُهُ عَوْضُ » *چرې به ئې هم اونۀ وهم* او مشابهت پکښي افتقاري دے ؛ ځکه چې دا مقطوع عن الاضافة استعمالیږي یا پکښی مشابهت تضمّنی دے .

قَبْلُ وَبَعْدُ : دې دپاره درې/٣ حالات دي :

وجه حصر: وجه د حصر پکښي داده چې "قَبْلُ" او "بَعْدُ" لازم الاضافة دي نو مضاف الیه به ئې خالی نۀ وي یا به مذکور وی یا محذوف ، کۀ مذکور وو نو معرب ، لکه « مِنْ قَبْلِكُمْ » او کۀ مضاف الیه محذوف وو ، نو بیا به خالی نۀ وی یا به نیت کښي مراد وي ، یا به نسیًامنسیًا وي ، کۀ نسیا منسیا وو ، نو بیا هم معرب او کۀ نیت کښي وو ، نو بیا مبنی ، لکه (لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ) « أي مِنْ قَبْلِ کُلِّ شَيْءٍ وَمِنْ بَعْدِ کُلِّ شَيْءٍ » نو د "قَبْلُ" او "بَعْدُ" مضاف الیه منوی یعني نیت کښي دے ، ددې وجې نه "قبل" او"بعد" مبنی بر ضمّه دي او ددې یو حالت د وجې نه پۀ مبنیاتو کښي ذکر کیږي.

ظروف مکانیه : حَیْثُ، قُدَّامُ، خَلْفُ، تَحْتُ، فَوْقُ ، عِنْدَ ، أَیْنَ، لَدَی ، لَدُنْ .

حَیْثُ: "حَیْثُ" اکثر مضاف وي جملې ته او جمله پۀ تاویل د مصدر سره ورلره مضاف الیه وي ، لکه : « اِجْلِسْ حَیْثُ زَیْدٌ جَالِسٌ » په معنی د « اِجْلِسْ مَكَانَ جُلُوسِ زَیْدٍ » باندې دے .

ترکیب : "اِجلس" فعل فاعل "حیث" ظرف مکان مضاف "زید جالس" په تاویل د مصدر ـ جلوس زید ـ سره مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه

نه دا مفعول فيه شوه دپاره د فعل ، فعل سره د فاعل او د مفعول فيه نه جمله انشأئيه امريه.

مشابهت د "حَيْثُ" افتقاري دے ؛ ځکه چې مضاف اليه ته محتاج دے.

قدّام ،خلف ، تحت ، فوق : ددې دپاره هم د "قبل" او "بعد" پشان احوال ثلاثه دي .

وجه حصر : وجه د حصر پکښې داده چې "قدّام" ، "خلف" ، "تحت" او "فوق" لازم الاضافة وي ، نو مضاف اليه به ئې خالى نۀ وي يا به مذكور وي يا به محذوف وي ، كۀ مذكور وو ، نو معرب ، لكه : « جَلَسْتُ خَلْفَكَ مَشَيْتُ قُدَّامَكَ » او كه مضاف اليه محذوف وو ، نو بيا به خالى نۀ وي يا به نسيًا منسيًا وي يا به منوي وي ، كۀ نسيا منسيا وو ، نوبيا هم معرب او كۀ منوى وو ، نو بيا به مبنى على الضمه وي ، لكه : « قَامَ الَّناسُ قُدَّامُ يعنى قُدَّامَهُ » يا « قَامَ النَّاسُ خَلْفُ يعنى خَلْفَهُ » يا « جَلَسَ زَيْدٌ تَحْتُ أيْ تَحْتَ الشَّجّرَةِ » يا « صَعِدَ عُمَرُ فَوْقُ يعنى فَوْقَ الشَّجَرَةِ » ، مشابهت پدېكښې پشان د "قَبْلُ" او "بَعَدُ" افتقاري دے .

عِنْدَ لَدَى لَدُنْ: دا درې/٣ واړه د قبضې دپاره راځى ، خو فرق صرف دومره دے چې "عِنْدَ" په مال حاضر او غائب دواړو كښې استعماليږي او "لَدَي" پۀ مال حاضر كښې ، لكه : « اَلْمَالُ عِنْدَ زَيْدٍ » دا په هغه صورت كښې چې مال د زيد څخه حاضر وي او كه نه او « اَلَمَالُ لَدَى زَيْدٍ » دا په هغه وخت كښې چې مال د زيد څخه حاضر وي ، نو "عند" عام شو او "لدى لدُنْ" خاص شو ، مشابهت پدې "عند"" كښى افتقاري دے ، خو د "لَدَن" او "لدْنُ" پۀ بعض صورتونو كښي پۀ اعتبار د لغاتو وضعى دے ؛ ځكه دېكښې مختلف لغات دي ، مثلاً : لَدَى ، لدُنْ ، لَدَنْ ، لَدِنْ ، لَدْ ، لِدْ ، لُدْ ، اوس پۀ لَدْ ، لِدْ ، لُدْ كښى مشابهت وضعى دے .

أَيْنَ ، اَنّیٰ : دا هم ظروف مكانيه دي كله پهٔ معنی د استفهام راځي « أينَ تَقْعُدْ ؟» او كله پهٔ معنی د شرط لكه « أَيْنَ تَجْلِسْ أَجْلِسْ » ، « أَنَّیٰ تَذْهَبْ أذْهَبْ » او "أنّیٰ" چې كله د فعل نه بعد راشی نو پهٔ معنی د "كيف" سره وي ، لكه (أَنّیٰ شِئتُمْ) « يَعْنِيْ كَيْفَ شِئتُمْ » ، مشابهت پديكښي تضمنی دے ؛ ځكه دا متضمن دے معنی د حرف شرط او حرف استفهام لره .

فائده : دې تمام ظروفو كښي نهه/٩ الفاظ مبنی علی الضمه دي چې "قَبْلُ" ، "بَعْدُ" ، "تَحْتُ" ، "فَوْقُ" ، "قُدَّامُ"، "خلفُ" ، "حَيْثُ" ، "قَطُّ" او "عَوْضُ" دي او درې/٣ مبنی علی الفتحه دي چې "أَيّانَ"، "كَيْفَ"او"أَيْنَ" دي او يو مبنی علی الكسره دے چې "أَمْسِ" دے او باقی چي دی هغه مبنی علی السكون دي .

فائده : ظروف غير مبنيه چې كله مضاف شي جملې ته يا "إذْ" ته نو بيا هغه د خفّتْ دپاره مبنی علی الفتحه كول جائز دي ، لكه (يَوْمَ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ صِدْقُهُمْ) ، "يَوْمَئِذٍ"، "حِيْنَئِذٍ" وغيره[٩] .

---

[٩] ـ **حل شده مثال** :

شَتَّانَ بَيْنَ زَيْدٍوَعَمْرٍو: لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مركب مركبِ مفيد ، تام ، كلامي ، اسنادي ، جمله او كلام ، جمله خبريه اسميه بمعنی خبريه فعليه.

"**شَتَّانَ**" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردكلمه اسم علامت اسم ، اسم غيرمتمكن مبنی مشابه مبنی الاصل اسم فعل بمعنی فعل ماضی"افْتَرَقَ".

"**افْتَرَقَ**" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردكلمه فعل علامت فعل تصريف ، فعل ماضی معلوم مبنی مبنی الاصل مسند فعل عامل .

پديكښې "هُوَ" ضمير ، لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد كلمه اسم علامت اسم مسند اليه اسم غيرمتمكن مبنی مشابه مبنی الاصل ضميرمرفوع متصل مسنداليه فاعل معمول .

اسمائے کنایات :

کنایه پهٔ لغت کښي مبهم څیز ته وئیلے کیږي او اصطلاح کښې د اسمائے کنایات نه هغه اسم مراد دے چې پهٔ مبهم څیز دلالت کوي او اسم کنایه پهٔ دوه/۲ قسمه باندې دے : ۱ـ کنایه از عدد ۲ـ کنایه از حدیث.

وجه حصر : وجه د حصر پکښې دا ده چې اسم کنایه به خالی نهٔ وي یا به پهٔ داسې یو څیز دلالت کوي چې د هغې عدد کښې به ابهام وي یا به داسې څیز باندې دلالت کوی چې خبرو کښې ابهام وي ، اول صورت کښی کنایه از عدد او دویم صورت کښې کنایه از حدیث.

د کنایه از عدد مثال : « كَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ » یا « أَعْطَيْتُهُ كَذَا وكذاَ دِرْهَماً »

د کنایه از حدیث مثال : « قُلْتُ لَهُ كَيْتَ وذَيْتَ » *ما ورته **هغه هغه څه** اووی (چې یاد به ساتی) * دا "كيتَ" او "ذَيْتَ" کښی کنایه از حدیث نه ده ، دا

"**بَيْنَ زَيْدٍ**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مرکب مرکب غیرمفید ..... مرکب ناقص مرکب اضافی.

"**بَيْنَ**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم مضاف اسم متمکن معرب مضاف.

"**زَيْدٍ**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم تنوین اسم متمکن معرب معطوف علیه.

"**وَ**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه حرف مبنی مبنی الاصل عاطفه.

"**عَمْرٍو**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم تنوین اسم متمکن معرب معطوف،معطوف سره د معطوف علیه نه مضاف الیه شو دپاره د مضاف ، مضاف سره د خپل مضاف الیه نه مرکب ناقص مرکب اضافی مفعول فیه شو دپاره د فعل ، فعل سره د خپل فاعل اومفعول فیه نه مرکب مفید ، تام ، کلامي ، اسنادي جمله او کلام جمله خبریه اسمیه بمعنی خبریه فعلیه.

هم مبنى دے ؛ ځکه "کم" کښې مشابهت وضعی دے "کذا" کښې مشابهت افتقاري دے او "کَيْتَ" او "ذَيْتَ" کښې هم مشابهت د جملې سره راځی او جمله من حيث الجمله مبنی وي .

مرکب بنايئ :

هغه مرکب ته وئيلے شي چې دوه/۲ اسمونه يو کړے شوي وي او يو حرف پکښې پټ او متضّمن وي ، لکه "أَحَدَ عَشَرَ" دا مبنی ځکه دے چې ددې يو حصه حرف لره متضمنه وي او هغه مبنی دے ، نو دا هم مبنی شو .

[اسم منسوب]

اسم منسوب دېته وائي چې د هغې آخر کښې ياء مشدّد وي او ما قبل ترې مکسور وي ، لکه "بَغْدَادِيٌّ" بغداد والا "هِنْدِيٌّ" هند والا "صَرْفِيٌّ" صرف والا "نَحْوِيٌّ" نحوې والا .

قواعد د اسم منسوب :

وجه د حصر : اسم منسوب به خالی نۀ وي يا به ئې پۀ آخر کښې الف وي يا به غير الف وی ، کۀ آخر کښې ئې الف وو ، نو بيا به خالی نۀ وي يا به الف مقصوره وي يا به الف ممدوده وي ، کۀ الف مقصوره وو ، نو بيا به خالی نۀ وي يا به پۀ دريم/۳ او څلورم/٤ ځائے کښې وي يا به پۀ پينځم ځائے کښې وي ، کۀ پۀ دريم/۳ او څلورم/٤ ځائے کښې وو ، نو حالت د نسبت کښې به پۀ واؤ سره بدلولے شي ، لکه "عِيْسَى" نه "عِيْسَوِيٌّ" او د "مُوْسَى" نه "مُوْسَوِيٌّ" او کۀ الف مقصوره پۀ پينځم ځائےکښې وو ، نو بيا به حذف

کولے شی لکه ”مصطفی“ نه ”مُصْطَفِيٌّ“ او کۀ الف ممدوده وو ، نو پۀ حالت او پۀ وقت د نسبت کښې دویم الف یعنی همزه پۀ وآؤ سره بدلولے شي ، لکه ”سَمَآءٌ“ نه ”سَماوِيٌّ“ ، ”بَيْضَآءٌ“ نه ”بَيْضَاوِيٌّ“ او که آخر کښې غیر الف وو نو بیا به خالی نۀ وي ، یا به په آخر کښې ”یآء“ وی او یا به ”تآء“ وي ، که په آخر کښې ”تآء“ وي نو بیا به خالی نۀ وی یا به ددغه ”تآء“ نه ما قبل ”یآء“ وي یا نه ، که وه او کۀ نه وه ، دواړو صورتونو کښې به پۀ وقت د نسبت کښې ”تآء“ حذف کولے شي ، لکه ”مَدِيْنَةٌ“ نه ”مَدَنِيٌّ“ ”مَكَّةٌ“ نه ”مَكِّيٌّ“ او کۀ په آخر کښی یآء وه نو هغه به خالی نۀ وی یا به مشدد وي یا به مخفف وي ، کۀ مشدد ، نو بیابه خالی نۀ وي یا به پۀ وزن د ”فعيلٌ“ وی یا نه ، کۀ پۀ وزن د ”فعيْلٌ“ نۀ وو نو په خپل حالت کښې به پریخودے شي ، لکه ”شافِعِيٌّ“ نو دا په وزن د ”فَعِيْلٌ“ باندې نه دے دا مشدد دے ، اصل ئې داسې دے او که وزن د ”فَعِيْلٌ“ وو نو اوله ”یآء“ به په ”وآؤ“ بدلیږي او ما قبل به ترې فتحه راوړلے کیږي ، لکه ”عِلِيٌّ“ نه ”عَلَوِيٌّ“ او کۀ آخر کښې ”یآء“ مخففه وه نو هغې کښې جواز الامرین دے ، یعنی حذف کول او په وآؤ ئې بدلول هم جائز دي ، لکه : د ”دِهْلِيْ“ نه ”دهْلِيٌّ“ او ”دِهْلَوِيٌّ“ .

فائده : کۀ چرته د یو اسم نه حرف اصلی حذف شوے وي نو حالت د نسبت کښی به واپس راوړلے شی ، لکه د ”أَخٌ“ نه ”أخويٌّ“ او د ”أَبٌ“ نه ”أَبَوِيٌّ“ چې دا پۀ اصل کښی ”أبَوٌ“ او ”أخَوٌ“ وو .

فائده : د بعضې الفاظو اسم منسوب خلاف القیاس هم راځی ، لکه : د ”نوْرٌ“ نه ”نورانِيٌّ“ یا د ”حقٌّ“ نه ”حَقّانِيٌّ“ .

[اسم تصغير]

تصغير پۀ لغت کښي وړوکوالي ته وائي او پۀ اصطلاح کښی هر هغه اسم چې پۀ هغې کښی د ورکوټوالی معنی موجوده وي ، برابره خبره ده کۀ حقارت د وجې نه وي او که د محبت د وجې نه وي ، لکه : ''رُجَيْلٌ'' *پوچے سړے* او د محبت دپاره هم راځي ، لکه : ''يابُنَيَّ'' .

قواعد د اسم تصغير :

وجه د حصر : وجه د حصر پکښي دا ده چې د کوم اسم کښې تصغير کيږي هغه اسم په خالی نۀ وي يا به درې/۳ حرفي وي يا به څلور حرفي وی يا به پينځۀ حرفی وي ، کۀ درې/۳ حرفي وو ، نو د هغی تصغير به د ''فُعَيْلٌ'' پۀ وزن راځی ، لکه : د ''رَجُلٌ'' نه ''رُجَيْلٌ'' او کۀ څلور/٤ حرفی وو نو د هغی تصغير به پۀ وزن د ''فُعَيْعِلٌ'' راځی لکه د ''جَعْفَرٌ'' نه ''جُعَيْفِرٌ'' او که پينځه حرفی وو نو بيا به خالی نه وی څلورم حرف به مَدّه او لين وی يا نه ، کۀ مدَّه او لين وو نو بيا به تصغير د ''فُعَيْعِيلٌ'' په وزن راځي ، لکه د ''قِرْطَاسٌ'' نه ''قُرَيْطِيْسٌ'' او که څلورم حرف مدّه او لين نۀ وو نو تصغير به ئې د ''فُعَيْعِلٌ'' په وزن راځي او پينځم حرف به حذف کولے شي ، لکه د ''سَفَرْجَلٌ'' نه ''سُفَيْرِجٌ''.

فائده : د مؤنث سماعي ''ة'' پۀ تصغير کښی ظاهرولے شي ، لکه ''اَرْضٌ'' نه ''أُرَيْضَةٌ'' او د ''شَمْسٌ'' نه ''شُمَيْسَةٌ'' ، دارنګی چې د کومې کلمی آخري حرف حذف شوے وي ، نو پۀ وخت د تصغير کښی به بيا واپس راوړلے شي لکه ''اِبْنٌ'' چې پۀ اصل کښي ''بَنْوٌ'' وو نو د ''اِبْنٌ'' تصغير به ''بُنَيٌّ'' راځي .

حرف مدّه او لین :

مدّه : مدّه حرف دېته وائي چې حرف علّت ساکن ماقبل حرکت د هغې موافق وي ، یعنی الف ما قبل فتحه وآؤ ما قبل مضموم ، یآء ماقبل کسره ، لکه : ”قرطاسٌ“ ، ”غَفُوْرٌ“ او ”رَحِیْمٌ“

لین : لین دېته وائي چې د حرف علت ساکن نه ما قبل فتحه وي ، لکه ”خَوْفٌ“ او ”صَیْفٌ“ او الف دېکښې نهٔ راځي.

اسم معرفه او نکره:

اسم پهٔ اعتبار د عموم او خصوص سره پهٔ دوه/۲ قسمه باندې دے : ۱ـ معرفه ۲ـ نکره.

وجه د حصر : وجه د حصر پکښې داده چې اسم به پهٔ اعتبار د عموم او خصوص سره خالی نهٔ وي یا به د یو خاص او معین څیز د پاره وضع شوې وي یا نه کهٔ د یو خاص او معیَّن څیز دپاره وضع شوے وي نو معرفه ورنه نکره ، د معرفی مثال ، لکه : ”زَیْدٌ“ ، د نکری مثال ، لکه : ”رَجُلٌ“ او ”فَرَسٌ“ .

اقسام د معرفی :

معرفه پهٔ اووهٔ/ ۷ قسمه باندې ده :

۱ـ **مضمرات** : یعنی هغه اسم چې د یو نوم پهٔ ځائے باندې استعمال شوے وي ، لکه هُوَ ، أَنْتَ ، أَنَا وغیره ، نور تفصیل د مضمراتو تیر شوے دے.

۲ـ **علم :** یعنی هغه اسم چې د یو خاص ښار یا د یو خاص سړي یا د یو خاص څیز نوم وي ، لکه : ”زَیْدٌ“ د خاص سړي نوم ، ”دِهْلِیٌّ“ د خاص ښار نوم او ”زَمْزَمٌ“ د خاص اوبو نوم .

۳ـ **اسماءاشارات** : « مَا وُضِعَ لِمُشَارالیه » هغه اسم چې مشارٌ الیه ته د اشاره کولو دپاره وضع شوے وي ، لکه "هذا" وغیره

٤ـ **اسماء موصولات** : هغه نا تمام او نا مکمل اسم چې د هغی نا تمامیت او نامکملیّت موقوف وي پۀ روستو جمله چې هغې ته صله وائي ، لکه : "اَلّتی" "اَلَّذِیْ" وغیره.

٥ـ **معرف باللام** : هغه اسم چې پۀ هغی الف لام داخل شوے وي ، لکه: "الرَّجُلُ"

٦ـ هغه اسم چې دې مخکښې پینځو/٥ کښې یو ته مضاف وي او د هغې اضافت د وجې نه معرفه شوې وي .

مثال د هغه چې ضمیر ته مضاف وي ، لکه : "غُلَامُهُ" .

مثال د هغه چې علم ته مضاف وي ، لکه : "غُلامُ زَیْدٍ" ، "سَاکِنُ الدِهْلِيْ" ، "مَآءُالزَّمْزَم".

مثال د هغه چې اسم اشارې ته مضاف وي ، لکه : « زَیْدٌ أَخُوْ هَذَا » ، « الدَّلْدَلُ فَرَس ذالِكَ » .

مثال د هغه چې معرف باللام ته مضاف وي ، لکه : "قَلَم الرَّجُلِ".

مثال د هغه چې اسم موصول ته مضاف وي ، لکه : « غُلَامُ الَّذِیْ عِنْدَك » ، « بِنْتُ الَّذِیْ ذَهَبَ مَعَک »

٧ـ **معرفه بالندآء** : هغه اسم چې د ندآء د وجې نه معرفه شوے وي ، لکه "یا رَجُل" "یا اللّٰهُ" [١٠]

---

[١٠] ـ **حل شده مثال** :

"**أَنَا یُوْسُفُ**" لفظ لفظِ موضوعِ مستعمل بامعنی مرکب مرکبِ مفید ، تام ، کلامي ، اسنادي ، جمله او کلام جمله خبریه اسمیه.

مذکرومونث

اسم پۀ اعتبار د جنس سره پۀ دوه/۲ قسمه دے ۱ـ مذکر ۲ـ مؤنث.

وجه د حصر : اسم به پۀ اعتبار د جنس سره خالی نۀ وي يا به پکښي علامات د تأنيث لفظا يا تقديرا موجود وي يا نه ، کۀ موجود نۀ وي نو مذکر او که موجود وي نو مؤنث .

مثال د مذکر لکه "رَجُلٌ" او "فَرَسٌ" ځکه چې دېکښې علامات د تانيث نۀ لفظاً شته او نۀ تقديراً ، مثال د مؤنث لکه "طَلْحَةُ".

مؤنث سماعي او قياسي :

مؤنث پۀ اعتبار د علامې سره پۀ دوه/۲ قسمه دے : ۱ـ مؤنث قياسي ۲ـ مؤنث سماعي

وجه د حصر : وجه د حصر پکښې داده چې مؤنث به خالي نۀ وي يا به پکښي علامه د تأنيث پۀ لفظونو کښي موجود وي يا تقديرًا ، کۀ علامه د تأنيث پکښې پۀ لفظونو کښي موجود وه ، نو مؤنث قياسي او کۀ مقدر وه نو مؤنث سماعی ، مثال د مؤنث قياسی "طَلْحَةٌ" وغيره ، مثال د مؤنث سماعي لکه "أَرْضٌ" او "شَمْسٌ" چې دا اصل کښي "أَرْضَةٌ" او "شَمْسَةٌ" وو ، ځکه

"أَنَا" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم مسند اليه ، اسم غيرمتمکن مبنی مشابه مبنی الاصل اسم ضمير ضمير مرفوع منفصل معرفه معرفه به ضميرمسنداليه محکوم عليه مخبرعنه موضوع مبتداء.

"يُوْسُفُ" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم علم وتنوين مقدره ، اسم متمکن معرب معرفه معرفه به علم مسندمسندبه محکوم محکوم به مخبرمخبربه محمول ، حکم ، خبر ، مبتداء سره د خبر نه مرکب مرکبِ مفيد ، تام ، کلامي ، اسنادي ، جمله او کلام ، جمله خبريه اسميه.

چې د دې تصغير راځي "أُرَيْضَةٌ" او "شُمَيْسَةٌ" او تصغير شے رد کوي خپل اصل ته نو تصغير کښې پکښې "ة" ظاهره شوه ، پته اولګيده چې "ة" پکښې مقدره ده.

علامات د تانيث :

علامات د تانيث څلور/٤ دي : ١ـ تآء حقيقةً ، لکه "طَلْحةٌ" کښې ٢ـ تآء حکماً ، لکه "عَقْرَبُ" کښې.

نوټ: څلورم/٤ ځائے کښې چې "ب" راشي دا پۀ حکم د تآء کښې وي.

٣ـ الف مقصوره ، لکه "حُبْلٰى" ، "كبْرَىٰ" ، "صُغْرىٰ" ٤ـ الف ممدوده ، لکه "حمرآء"

مؤنث حقيقي او غير حقيقي:

مؤنث پۀ اعتبار د علامې سره پۀ دوه/٢ قسمه دے: ١ـ مونث حقيقی ٢ـ مونث لفظی.

وجه د حصر : وجه د حصر پکښې داده چې مونث به خالي نۀ وي يا به ددې پۀ مقابله کښی جاندار مذکر وي يا نه ، کۀ مذکر جاندار وو ، نو مونث حقيقی او که نۀ وو ، نو مونث لفظی ، مثال د مؤنث حقيقی لکه "امْرَأَةٌ" ؛ ځکه ددې مقابله کښې مذکر جاندار شته چې هغه "رَجُلٌ" دے ، دارنګې "أَتَان"هم مونث حقيقی دے ؛ ځکه ددې مقابله کښی جاندار مذکر شته چې "حِمَارٌ" دے.

مثال د مونث لفظی لکه "ظُلْمَةٌ" او"عَيْنٌ" نو اوس "ظُلْمَةٌ" ددې پۀ مقابله کښې مذکر جاندار نشته ، دارنګی "عَيْنٌ" دا مونث سماعی لفظي دے ځکه چې په مقابله کښې ئې جاندار مذکر نشته .

واحد ، تثنیه او جمع:

اسم پۀ اعتبار د تعدد سره پۀ درې/۳ قسمه دے ۱ـ واحد ۲ـ تثنیه ۳ـ جمع .

وجه د حصر : وجه د حصر پکښي داده چې اسم به خالی نۀ وي یا به دلالت کوي پۀ یو باندې یا به دلالت کوي پۀ دوو/۲ باندی او یا د دوو/۲ نه پۀ زیات باندې ، کۀ دلالت ئې کولو پۀ یو باندې ، نو واحد ، کۀ دلالت ئې کولو پۀ دوو/۲ باندی نو تثنیه او که د دوو/۲ نه پۀ زیات باندې نو جمع .

علامت د تثنیه :

علامت د تثني دادے چې د هغې پۀ آخر کښی الف ماقبل مفتوح یا یآء ما قبل مفتوح او نون مکسوره وي ، لکه : ''رَجُلانِ'' او ''رَجُلَیْنِ''

علامت د جمع :

علامت د جمع دادے چې د هغی پۀ آخر کښی به وآؤ ماقبل مضموم او یا یآء ما قبل مکسور او نون مفتوحه وي ، لکه : ''مُسْلِمُوْنَ'' او ''مُسْلِمِیْنَ'' .

اقسام د تثنیې :

تثنیه پۀ درې/۳ قسمه ده : ۱ـ تثنیه حقیقی ۲ـ تثنیه صوري ۳ـ تثنیه معنوی

تثنیه حقیقی : تثنیه حقیقی هغې ته وائي چې پۀ هغې کښي درې/۳ شرائط موجود وي ۱ـ واحد من لفظه ورلره وي ۲ـ شکل ئې د تثنیې وي ۳ـ معنی ئې هم د تثني وي ، لکه ''رَجُلاَنِ'' .

تثنیه صوری : تثنیه صوري هغه ته وائي چې په هغې کښې وړومبے شرط پکښې نهٔ وي او دوه/۲ آخري شرطونو پکښې موجود وي ، یعنی واحد من لفظه ورلره نهٔ وي ، خو شکل ئې د تثنیي وي او معنی ئې د تثنیي وي ، لکه: ''اِثنانِ'' او ''اِثْنَتَانِ'' .

تثنیه معنوی : تثنیه معنوی هغې ته وائي چې په هغی کښې وړومبی دوه شرطونه نهٔ وي او صرف یو شرط پکښې وي یعنی واحد من لفظه ورلره نهٔ وي ، شکل ئې د تثنیي نهٔ وي ، خو معنی ئې د تثنیي وي ، لکه ''کِلاَ'' او ''کِلْتَا'' ددې دپاره واحد من لفظه نشته ، شکل ئې هم د تثنیي نهٔ دے خو معنی ئې د تثنیې ده.

اقسام د جمع :

جمع مذکر سالم هم پهٔ درې/۳ قسمه ده : ۱ـ جمع حقیقی ۲ـ جمع صوري ۳ـ جمع معنوي.

جمع حقیقی : جمع حقیقی هغې ته وائي چې پهٔ هغې کښې درې/۳ شرطونه موجود وي ۱ـ واحد من لفظه ورلره وي ۲ـ شکل ئې د جمع وي ۳ـ معنی ئې هم د جمع وي ، لکه : ''مُسْلِمُوْنَ''.

جمع صوری : جمع صوری دېته وائي چې پهٔ هغی کښی وړومبے شرط نهٔ وي او بقایا دوه/۲ شرطونه پکښې وي ، یعنی واحد من لفظه ورلره نهٔ وی ، خو شکل ئې د جمع وي او معنی ئې د جمع وي ، لکه ''عِشْرُوْنَ'' تا ''تِسْعُوْنَ''

جمع معنوی : جمع معنوی دېته وائي چې پهٔ هغې کښی وړومبي دوه/۲ شرطونه نهٔ وي ، یعنی واحد من لفظه ورلره نهٔ وي ، شکل ئې د جمع نهٔ وي ، خو معنی ئې د جمع وي ، لکه : ''أُوْلُوْ''.

جمع لفظي او جمع تقديري :

جمع پۀ اعتبار د تقدير سره پۀ دوه/۲ قسمه ده : ۱ـ جمع لفظی ۲ـ جمع تقديري.

وجه د حصر: وجه د حصر پکښي داده چې جمع به هله حاصليږي چې د واحد پۀ صيغه کښي تغيير اوشي ، نو پۀ جمع کښي دا تغيير به خالی نۀ وي يا به لفظًا وي يا تقديرًا ، کۀ لفظًا وو نو جمع لفظی او کۀ تقديرًا وو نو جمع تقديری ، مثال د جمع لفظي ، لکه : "رَجُلٌ" نه "رِجَالٌ" او د "مُسْلِمٌ" نه "مُسْلِمُوْنَ" مثال د جمع تقديری ، لکه : "فُلْكٌ" نو کۀ چرې دا پۀ وزن د "قُفْلٌ" شي نو واحد دے او که په وزن د "أُسْدٌ" شي ، نو دا جمع ده واحد او پۀ جمع کښي دا تغيير تقديرًا دے.

جمع مکسر او جمع سالم :

جمع پۀ اعتبار د لفظ سره پۀ دوه/۲ قسمه ده : ۱ـ جمع مکسر ۲ـ جمع سالم.

وجه د حصر : وجه د حصر پکښی داده چې جمع به خالی نۀ وي يا به پکښی د واحد صيغه روغه پاتې شوې وي يا نه ، کۀ پاتې شوې وه ، نو جمع سالم ، لکه: "مُسْلِمٌ" نه "مُسْلِمُوْنَ" او که نۀ وه پاتې شوې ، نو جمع مکسر لکه "رَجُلٌ" نه "رِجَالٌ" .

جمع سالم پۀ دوه/۲ قسمه ده : ۱ـ جمع مذکر سالم ۲ـ جمع مونث سالم.

وجه د حصر : وجه د حصر داده چې جمع سالم به خالی نۀ وي يا به د هغې پۀ آخر کښی وآؤ ما قبل مضموم يا ياْء ماقبل مکسور او نون مفتوحه وي او يا به ئې پۀ آخر کښې الف او تآء وي ، نو کۀ آخرکښی وآؤ ما قبل مضموم يا يآء ما قبل مکسور او نون مفتوحه وو نو جمع مذکر سالم لکه "مُسْلِمُوْنَ" او

"مُسْلِمِيْنَ" او كۀ آخر كښې الف او تآء وو نو جمع مونث سالم لكه "مُسْلِمَاتٌ".

جمع قلت او جمع كثرت :

جمع پۀ اعتبار د معنى سره پۀ دوه/٢ قسمه ده : ١ـ جمع قلت ٢ـ جمع كثرت.

وجه د حصر : وجه د حصر پكښى دا ده چې دا جمع به خالى نۀ وى يا به د لسو/١٠ نه پۀ كمو دلالت كوي يا د لسو/١٠ نه پۀ زيات ، كۀ د لسو/١٠ نه پۀ كمو دلالت كوي نو جمع قلت او كه د لسو/١٠ نه پۀ زيات دلالت كوي نو جمع كثرت .

اوزان د جمع قِلّتْ :

په دې لاندې شعر كښې شاعر راجمع كړي دي : ع

جمع قلّت را چار است ابنيه

أَفْعُلٌ،أَفْعَالٌ ،فِعْلَةٌ،أَفْعِلَةٌ

فائده ١: پدې څلورو/٤ اوزانو د جمع قلّت باندې چې راغلي وى نو هغه به جمع قلت وى او ددېنه علاوه چې كوم وي نو هغه به جمع كثرت وي .

فائده ٢ : جمع سالم چې كله بغير د الف لام نه وي نو دا جمع قلت كښى داخله وي او چې الف لام پرى داخل شى نو بيا په جمع كثرت كښي داخله وي ، نو "مُسْلِمُوْنَ" او "مُسْلِمَاتٌ" جمع قلت دي او "اَلْمُسْلِمُوْنَ" او "اَلْمُسْلِمَاتُ" جمع كثرت دي.

فائده ٣: پۀ جمع قلّت او كثرت كښى درې/٣ مذاهب دي :

مذهب اول : د جمع قلّت او كثرت ابتداء هم جدا ده او انتهاء هم جدا ده ؛ پهٔ دې شان سره چې د جمع قلّت ابتداء د دوو/۲ نه تر لسو/۱۰ پورې ده او د جمع كثرت ابتداء د لسو نه تر آخر پورې ده .

مذهب ثانی : د جمع قلت او كثرت ابتداء يوه ده او انتهاء ئې جدا ده ؛ يعنی ابتداء د دواړو د دوو/۲ نه ده ، خو انتهاء د جمع قلت پهٔ لسو/۱۰ باندې ده او د جمع كثرت په الی ما لا نهاية له باندې .

مذهب ثالث : جمع قلت او كثرت دواړه د يو بل پهٔ ځائے استعماليږی ، مثلاً (قَطَّعْنَهُمْ اِثْنَتَیْ عَشَرَةَ اَسْبَاطًا اُمَماً) نو "أَسْبَاطٌ" په وزن د "اَفْعالٌ" جمع قلت ده ، خو استعمال شوے دے پهٔ جمع كثرت كښې دغه شان (والمُطَلَّقَاتُ يَتَربَّصْنَ بِانْفُسِهنَّ ثَلثَةَ قُرُوْءٍ) نو "قُرُوْءٌ" جمع كثرت دے ، خو پهٔ "ثَلثَةَ" سره پهٔ جمع قلت كښې استعمال شوے دے .

فائده ٤: اسماء رُباعی او اسماء خماسی د هغې جمع اكثر د جمع منتهی الجموع پهٔ وزن راځي .

تعريف د جمع منتهی الجموع : جمع منتهی الجموع هغه جمعِ ته وائي چې پهٔ هغې د جمعِ انتهاء راغلې وي .

طريقه د جوړولو د منتهی الجموع : طريقه د جوړولو ئې داده چې وړومبي دوه/۲ حرفونه مفتوح كړے شي ، پهٔ دريم ځائے كښې به الف د جمع راوړے شي د هغی نه بعد كه يو حرف وو هغه به مشدّد كړے شي ، لكه "دَوَآبٌّ" او كهٔ دوه/۲ حرفه وو نو اول به مكسور كړے شي او ثانی به د عامل مطابق وي ، لكه : "مَسَاجِدُ" او كهٔ چرته درې/۳ حرفه وو نو اول به مكسور وي ، ثانی به ساكن وي او دريم به د عامل مطابق وي ، لكه "مَفَاتِيْحُ"او "مَضَارِيْبُ".

اوزان د جمع منتهی الجموع : د جمع منتهی الجموع مشهور درې/٣ اوزان دي "مَفَاعِلُ" ، لکه : "مَسَاجِدُ" ، "مَفَاعِيْلُ" لکه : "مَفَاتِيْحُ" ، "فَعَائِلُ" ، لکه : "رَسَائِلُ" .

فائده ٥: بعضې جموع من غیر لفظه راځی ، لکه د "اِمْرَأَةٌ" جمع "نِسَآءٌ" راځي او د "ذُوْ" جمع "اُوْلُوْ" راځي .

فائده ٦: کله کله یو اسم د واحد وي ، معنی د جمع ورکوي دېته اسم جمع وائي ، لکه: "قَوْمٌ" ، "رَهْطٌ" او "رَكْبٌ" .

فائده ٧ : د بعضې الفاظو جمع خلاف القیاس راځي ، لکه : "اُمٌّ" نه "اُمَّهَاتٌ" "فَمٌ" نه "اَفْوَاهٌ" او د "اِنْسَانٌ" نه "اُنَاسٌ" [١١].

---

[١١] ـ **حل شده مثال** :

سَلَامَةُ الْإِنْسَانِ فِيْ حَبْسِ النَّفْسِ: لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مرکب مرکبِ مفیدمرکب تام مرکب کلامی مرکب اسنادي جمله اوکلام جمله خبریه اسمیه.

"**سَلَامَةُ الإِنْسَانِ**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مرکب مرکب غیر مفید غیر کلامی غیر اسنادي ناقص مرکب اضافی.

"**سَلَامَةُ**" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم اضافت ، مسندالیه اسم متمکن معرب معرفه مضاف الی المعرفة واحد، مؤنث قیاسی لفظی مضاف.

" **الإِنْسَانِ**" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم دخول الف لام اسم متمکن معرب معرفه معرفه باللام واحدمذکرمضاف الیه.

مضاف سره د مضاف الیه نه مرکب ناقص مرکب اضافی مسندالیه محکوم علیه مخبرعنه موضوع مبتداء.

"**فِيْ**" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردحرف مبنی مبنی الاصل حرف جاره

"**حَبْسِ النَّفْسِ**"لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مرکب مرکب غیر مفید غیر تام غیر کلامی غیر اسنادي ناقص مرکب اضافی.

منصرف او غیر منصرف

اسم معرب او متمکن پۀ دوه قسمه دے : ۱ـ منصرف ۲ـ غیر منصرف

وجه د حصر : وجه د حصر پکښی داده چې معرب به خالی نۀ وي یا به پکښی د اسبابو د منع صرف نه دوه/۲ سببه یا یو/۱ سبب قائم مقام د سَبَبَیْنو وي یا نه ، کۀ پکښی نۀ وو نو منصرف او کۀ پکښی وو نو غیرمنصرف .

حکم د غیر منصرف : پۀ غیر منصرف باندې کسره او تنوین نۀ راځي ، لکه: « جَآءَنِیْ اَحْمَدُ » ، «رَاَیْتُ اَحْمَدَ » او « مَرَرْتُ بِاَحْمَدَ ».

حکم د منصرف : چې په هغې باندې حرکات ثلاثه سره د تنوین نه راځي ، لکه : «جَاءنِیْ زَیْدٌ » ، « رَاَیْتُ زَیْدًا » او « مَرَرْتُ بِزَیْدٍ »

اساب د منع صرف : اسباب د منع صرف نهۀ/۹ دي چې شاعر پدې شعر کښی راجمع کړي دي .

عَدْلٌ وَ وَصْفٌ و تَأنِیْثٌ وَمَعْرِفَةٌ وَ عُجْمَةٌ ثُمَّ جَمْعٌ ثُمَّ تَرْکِیْبٌ
وَالنُّونُ زَائِدَةٌ مِنْ قَبْلِهَا اَلِفٌ وَوَزْنُ فِعْلٍ وَهذاالْقَوْلُ تَقْرِیْبُ

”**حَبْسِ**“لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم مضاف اسم متمکن معرب معرفه مضاف الی المعرفة واحدمذکرمضاف.

”**اَلنَّفْسِ**“ لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم دخول الف لام اسم متمکن معرب معرفه بالف لام واحده مؤنث مؤنث سماعی لفظی مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه مرکب اضافی مرکب ناقص مجرور د”فِی“جاره دپاره ، جار سره د مجرور نه مسند مسندبه محکوم محکوم به مخبرمخبربه محمول ، حکم ، خبر ، مبتداء سره د خبر نه مرکبِ مفیدمرکب تام مرکب کلامی مرکب اسنادي جمله اوکلام جمله خبریه اسمیه.

تعریف د عدل : اصطلاح نحوي کښی عدل دېته وائي چې يو اسم د خپلې اصلي صيغې نه منتقل شي او بلې ته لاړ شي يا يو اسم د خپل شکل نه بل شکل ته لاړ شي .

اقسام د عدل : اقسام د عدل دوه/۲ دي : ۱ـ عدل تحقيقی ۲ـ عدل تقديري

وجه د حصر : وجه د حصر پکښی دا ده چې کوم اسم د خپلې صيغې نه بلې ته لاړشي نو په اصل به ئې څه دليل وي يا نه ، که په اصل ئې څه دليل موجود وو نو عدل تحقيقی ، ورنه عدل تقديري .

مثال د عدل تحقيقی : لکه "ثُلثُ" نو دا غيرمنصرف دے او ددې په اصل دليل شته چې پدېکښې عدل دے ، ځکه ددې معنی ده "درې درې" اصل ئې معلوم شو چې اصل ددی "ثَلثَةٌ ثَلثَةٌ" وو ، ځکه تکرار د معنی دلالت کوی په تکرار د لفظ باندې ، لهذا په اصل ئې دليل شته نو عدل تحقيقی دے .

مثال د عدل تقديری : لکه "عُمَرُ" مستعمل وو غير منصرف خو سبب پکښې صرف معرفه وو ، نومونږه پکښی عدل تقديری اومنو چې ددې اصل "عَامِرٌ" وو او "عُمَرُ" د "عَامِرٌ" نه جوړ شوے دے ، خو په دغه اصل څهٔ دليل نشته ، نو عدل تقديری دے .

وصف: د وصف نه مراد هغه ذات مبهمه دے چې د هغی سره د صفت لحاظ هم شوے وي ، لکه : "رَجُلٌ عالِمٌ" نو "رَجُلٌ" مبهم دے او د عِلْمِيَّت لحاظ ورسره شوے دے .

تأنيث : هر هغه اسم چې په هغی کښی علامه د تانيث موجود وي هغه پری پيژندلے کيږي .

معرفه: چې واضع وضعه کړے وي د پاره د يو معين څيز .

عجمة : هغه اسم دے چې د عربیِ نه علاوه پهٔ نورو ژبو کښې علم وي خو ددې پاره دوه/۲ شرطونه دي .

۱ـ چې د درېٖ/۳ حروفو نه به زائد وي ، لکه : ''اِبراهیْم''

۲ـ چې درېٖ/۳ حرفي وی ، خو درمیانه حرف به ئې متحرك وي ، لکه : ''شَتَرٌ''

الف نون زائدتان: د الف نون زائدتان دپاره دوه/۲ حالتونه دي یا به دا د اسم پهٔ آخر کښی وي یا به د صفت په آخر کښی وي ، کهٔ د اسم پهٔ آخر کښی وو نو د هغې دپاره شرط دادے چې هغه اسم علم وي ، لکه : ''عُثْمَانُ'' ، ''عِمْرَانُ'' او ''سَلْمَانُ'' او کهٔ علم نهٔ وي بیا به غیر منصرف نهٔ وي ، لکه: ''سَعْدانٌ'' چې دا علم نهٔ دے ، بلکه د ځنګلي واخو نوم دے او که الف نون زائدتان د صفت آخر کښی وو بیا ورلره شرط دادے چې غیر منصرف به هله وي چې د هغی مؤنث د ''فُعْلانَةٌ'' پهٔ وزن نهٔ وي ، مثلاً : ''سُكرانُ'' دا غیر منصرف دے ځکه چې مؤنث ئې ''سُكرانَةٌ'' نشته او ''نَدْمانٌ'' منصرف دے ځکه ددې مؤنث ''نَدْمَانَةٌ'' راځي .

وزن فعل : چې وي اسم خو پهٔ وزن د فعل باندې وي ، لکه : ''أَحْمَدُ''

فائده : پهٔ غیر منصرف کسره نهٔ راځي خو چې کله پری الف لام داخل شي او یا د هغې بل اسم ته اضافت اوشي نو بیا پرېٖ کسره راځي ، لکه : « ذَهَبْتُ اِلی المَقَابِرِ وَصَلَّیْتُ فِیْ مَسَاجِدِهِمْ »

تنبیه : په تسهیل النّحو کښې دا سبق وروسته دے خو د هغې مشق دِ دلته په طلباؤ حل کړے شي او بیا د فارسیِ په ترکیبونو کښې دِ هم حل کړے شي [۱۲].

---

[۱۲] ـ **حل شده مثال** :

مرفوعات

اِنَّ اِبْرَاهِيْمَ كَانَ أُمَّةً : لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مرکب مرکب مفید تام ، کلامی ، اسنادي ، جمله او کلام جمله خبریه اسمیه .

اِنَّ : لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مفرد حرف از حروف مشبه بالفعل مبنی مبنی الاصل اسم منصوب او خبر مرفوع غواړي .

اِبْرَاهِيْمَ : لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد اسم علامت اسم تنوین مقدره علم اسم متمکن معرب غیر منصرف معرفه بوجه علم واحد مذکر اسم د اِنّ .

كَانَ أُمَّةً : لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مرکب مرکب مفید تام کلامی اسنادي جمله او کلام جمله خبریه فعلیه .

كَانَ : لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد فعل از افعال ناقصه اسم مرفوع او خبر منصوب غواړي مبنی مبنی الاصل .

دیکښې هُوَ ضمیر: لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مفرد اسم علامت اسم اسم غیر متمکن مبنی مشابه د مبنی الاصل معرفه بالضمیر اسم د کان .

أُمَّةً : لفظ لفظ موضوع مستعمل با معنی مفرد اسم علامت اسم تآء متحرکه اسم متمکن معرب منصرف نکره مؤنث قیاسی لفظی اسم جمع خبر د کان .

کان سره د اسم او خبر نه مرکب مفید ...... جمله خبریه فعلیه دا خبر د انَّ ..... اِنَّ سره د خپل اسم او خبر نه مرکب مفید تام کلامی ، اسنادي جمله او کلام جمله خبریه اسمیه .

مرفوعات اتۀ/ دي : ١ـ فاعل ٢ـ مفعول مالم يسمّ فاعله ٣ـ مبتدا ٤ـ خبر ٥ـ د حروف مشبه بالفعل خبر ٦ـ د ما ولا مشبهتان بليس اسم ٧ـ د افعال ناقصه اسم ٨ـ د لائے نفی جنس خبر.

١ـ [فاعل]

تعريف د فاعل : فاعل هغه اسم دے چې د هغې نه مخکښې فعل يا شبه فعل وي او د هغې فعل يا شبه فعل نسبت دې اسم ته شوے وي پۀ طريقه د قيام يا د صدور سره ، نۀ پۀ طريقه د وقوع سره ، مثلًا : « قَامَ زَيْدٌ » او « ضَرَبَ عَمْروٌ » دا د صدور مثالونه دي او « مَاتَ زَيْدٌ » دا د قيام مثال دے.

فاعل پۀ دوه/٢ قسمه دے : ١ـ اسم ظاهر ٢ـ اسم ضمير

ضمير بيا به پۀ دوه/٢ قسمه دے ١ـ بارز ٢ـ مستتر

مستتر بيا پۀ دوه/٢ قسمه دے ١ـ واجب الاستتار ٢ـ جائز الاستتار.

قواعد د فاعل او د فعل د فاعل:

وجه د حصر : وجه د حصر پکښې داده چې فاعل به خالی نۀ وي يا به مذکر وي يا به مؤنث وي او يا به جمع مکسر وي ، که چرته فاعل ئې مذکر وو نو بيا به خالی نۀ وي يا به اسم ظاهر وي يا به ضمير وي ، کۀ ظاهر وو او کۀ ضمير وو ، نو پۀ دواړه صورتونو کښې فعل به مذکر راوړلے کيږی ، لکه : « ضَرَبَ زَيْدٌ » او « زَيْدٌ ضَرَبَ ».

او که چرته فاعل جمع مکسر وو نو بيا به خالی نه وی يا به اسم ظاهر وی يا به ضمير ، کۀ ظاهر وو او که ضمير وو خو چې جمع مکسر وو نو جواز الأمرين دے ، يعنی فعل مؤنث او مذکر راوړل دواړه جائز دي ، د ظاهر مثال لکه « قَالَ الرِّجَالُ » او « قَالَتِ الرِّجَالُ » او د ضمير مثال « الرِّجَالُ قَالُوْا » او «

الرِّجَالُ قَالَتْ » او کۀ چرته مؤنث وو نو بیا به خالی نۀ وي یا به مؤنث حقیقی وي یا لفظی ، کۀ مؤنث حقیقی وو نو بیا به خالی نۀ وي یا به اسم ظاهر وي یا به ضمیر ، کۀ اسم ظاهر وو نو بیا به خالی نۀ وي یا به مع الفصل وی یا بدون الفصل (یعنی د فعل او د فاعل په مینځ کښی به څۀ فاصله وي یا نه) که مع الفصل وو نو جواز الأمرین دے (یعنی فعل مؤنث راوړل او مذکر راوړل دواړه جائز دي) ، لکه : «قَرَءَ الْيَوْمَ هِنْدٌ » او « قَرَأَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ » او کۀ بدون الفصل وو نو فعل مؤنث راوړل واجب دي ، لکه : « قَامَتْ هِنْدٌ » او کۀ چرته فاعل د مؤنث حقیقی ضمیر وو نو فعل مؤنث راوړل واجب دي ، لکه : « هِنْدٌ قَامَتْ » او کۀ مؤنث لفظی وو نو بیا به خالي نۀ وي یا به اسم ظاهر وي یا به ضمیر وي ، کۀ اسم ظاهر وو ، نو جوازالامرین دے ، لکه « طَلَعَ الّشَمْسُ » او « طَلَعَتِ الشّمْسُ » او کۀ چرته ضمیر وو ، نو فعل مؤنث راوړل واجب دي ، لکه : « الشّمْسُ طَلَعَتْ » .

فائده : چې کله د فعل فاعل اسم ظاهر وي نو فعل به همیشه دپاره واحد راوړلے کیږي ، برابره خبره ده کۀ فاعل واحد وي او که تثنیه وي او که جمع ، لکه : « ضَرَبَ الرَّجُلُ » ، « ضَرَب الرَّجُلاَنِ » او « ضَرَبَ الرِّجَالُ » او کۀ چرته فاعل ضمیر وو ، نو د فاعل واحد دپاره به فعل واحد ، د فاعل تثنیه دپاره به فعل تثنیه او د فاعل جمع د پاره به فعل جمع ، مثلا : « الخَادِمُ ذَهَبَ » ، «الخَادِمانِ ذَهَبَا » ، « الخَادِمُوْنَ ذَهَبُوْا ».

٢ـ [مفعول مالم یسم فاعله :]

مفعول مالم یسم فاعله یا نائب فاعل هغه اسم دے چې د هغی طرف ته د فعل مجهول نسبت شوے وي او فاعل د هغی حذف شوے وي او دا مفعول قائم مقام ګرزیدلے وي د فاعل ، مثلًا: « ضُرِبَ زَيْدٌ »

قواعد :

وجه د حصر : وجه د حصر پکښی داده چې نائب فاعل به خالی نۀ وي یا به مذکر وي یا به مؤنث وي او یا به جمع مکسر وي ، نو کۀ چرته نائب فاعل ئې مذکر وو نو بیا به خالی نۀ وي یا به اسم ظاهر وی یا به ضمیر وي ، کۀ اسم ظاهر وو او که ضمیر نو پۀ دواړو صورتونو کښی به فعل مذکر راوړے کیږي ، لکه : « ضُرِبَ زَيْدٌ » او « زَيْدٌ ضُرِبَ ».

او که چرته نائب فاعل جمع مکسر وو ، نو بیا به خالی نۀ وي یا به اسم ظاهر وي یا به ضمیر ، کۀ ظاهر وو او کۀ ضمیر وو خو چې جمع مکسر وو نو جواز الأمرین دے (یعنی فعل مؤنث او مذکر دواړه راوړل جائز دي) د ظاهر مثال « ضُرِبَ الرِّجَالُ » او « ضُرِبَتِ الرِّجَالُ » او د ضمیر مثال « الرِّجَالُ ضُرِبُوْا » او « الرِّجَالُ ضُرِبَتْ » او کۀ چرته مؤنث وو نو بیا به خالی نۀ وي یا به مؤنث حقیقی وی یا لفظی ، کۀ مؤنث حقیقی وو نو بیا به خالی نۀ وي یا به اسم ظاهر وي یا به ضمیر ، کۀ اسم ظاهر وو نو بیا به خالی نۀ وي یا به مع الفصل وی یا بدون الفصل (یعنی د فعل او د نائب فاعل په مینځ کښی به څۀ فاصله وي یا نه) نو کۀ مع الفصل وو نو جوازالأمرین دے ، یعنی فعل مؤنث راوړل او مذکر راوړل دواړه جائز دي ، لکه : « قُرِءَ الْيَوْمَ هِنْدٌ » او « قُرِءَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ » او کۀ بدون الفصل وو نو فعل مؤنث راوړل واجب دي ، لکه : « ضُرِبَتْ هِنْدٌ » او کۀ چرته نائب فاعل د مؤنث حقیقی ضمیر وو نو فعل مؤنث راوړل واجب دي ، لکه : « هِنْدٌ ضُرِبَتْ » او کۀ مؤنث لفظی وو نو بیا به خالی

نهٔ وي يا به اسم ظاهر وي يا به ضمير وي ، كه اسم ظاهر وو نو جواز الامرين دے ، لكه : « رُؤِىَ الّشَمْسُ » او « رُؤِيَتِ الشّمْسُ » او كهٔ چرته ضمير وو نو فعل مؤنث راوړل واجب دي ، لكه : « الشّمْسُ رُؤِيَتْ » .

فائده : چې كله د فعل نائب فاعل اسم ظاهر وي نو فعل به هميشه واحد راوړلے كيږي ، برابره خبره ده ، كهٔ نائب فاعل واحد وي او كهٔ تثنيه وي او كهٔ جمع ، لكه : « ضُرِبَ الرَّجُلُ » ، « ضُرِبَ الرَّجُلاَنِ » او « ضُرِبَ الرِّجَالُ » او كهٔ چرته نائب فاعل ضمير وو ، نو د نائب فاعل واحد دپاره فعل به واحد وي او تثنيه دپاره تثنيه او د جمع دپاره جمع ، مثلا : « الخَادِمُ ذُهِبَ بِهِ » ، « الخَادِمانِ ذُهِبَا بِهِمَا » او « الخَادِمُوْنَ ذُهِبُوْا بِهِمْ » .

٤،٣ـ [مبتدا او خبر:]

مبتدا او خبر دا دواړه د عامل لفظى نه خالى وي او پديكښې درې/٣ مذاهب دي :

مذهب اول : ابتدا عامل دے پهٔ مبتدا كښې او مبتدا عامل دے پهٔ خبر كښې ددې مذهب پهٔ بناء باندې مبتدا كښې عامل معنوي شو او خبر كښې عامل لفظي شو ، لكه : « زَيْدٌ قَائِمٌ » .

مذهب ثاني : مبتدا عامل دے پهٔ خبر كښى او خبر عامل دے پهٔ مبتدا كښې ، ددې مذهب په بناء باندى دواړو كښى عامل لفظى شو .

مذهب ثالث : مبتدا كښى هم عامل معنوى دے چې ابتدا ده او خبر كښى هم عامل دغه ابتدا ده ، پدې باندې عامل دواړو كښى معنوى شو او دا مذهب مشهور دے .

فائده ١: مبتدا اكثر معرفه وي ، كله كله نكره هم وي ، خو پدې شرط چې نكره مخصصه وي ، لكه : ﴿ وَلَعَبْدٌمُؤْمِنٌ خَيْرٌمِنْ مُشْرِكٍ﴾

فائده ٢: مبتدا اکثر مقدم وي ، خو کله کله خبر مقدم کيږي ، لکه : « فِيْ الدَّارِ زَيْدٌ ».

٥ـ [د حروف مشبه بالفعل خبر] :

حروف مشبه بالفعل شپږ/٦ دي ، د هغې عمل دادے چې اسم لره نصب ورکوي او خبر لره رفع ورکوي چې پدې شعر کښې شاعر راجمع کړي دي : ع

إِنَّ اور أَنَّ، كَأَنَّ،لَيْتَ،لكنَّ،لَعَلَّ

اسم کے ناصب ہیں رافع خبر کے ہیں سدا

مثال : « اِنَّ زَيْدًا قَائمٌ » او « كَأَنّ عَمْروًا اَسَدٌ »

٦ ـ [د ما و لا مشبهتان بليس اسم :]

هغه "مَا" او "لَا" چې مشابه وي عمل کښې د "لَيْسَ" سره ، دا اسم لره رفع ورکوي او خبر لره نصب ورکوي ، لکه : « مَا زَيْدٌ قَائمًا » او « لَا رَجُلٌ أَفْضَلَ مِنْكَ » چې پدې شعر د شاعر کښې جمع دي :

ما و لا کا ہیں *عمل* اِنَّ و اَنَّ کے خلاف

اسم کے رافع ہیں اور ناصب خبر کے دائمًا

٧ـ [د افعال ناقصه اسم :]

افعال ناقصه ديارلس/١٣ دي ، عمل ئې دادے چې مبتدا او خبر باندې داخليږي ، مبتدا ته د هغې اسم او خبر ته د افعال ناقصه خبر وئيلے کيږي او اسم لره رفع او خبر لره نصب ورکوي ، مثلًا : « كانَ زَيْدٌ قَائمًا » او « صَارَ الفَقِيرُ غَنِيّاً » .

افعال ناقصه پدی لاندې شعر کښې سره د عمل نه ذکر دي :

کان صار أصبح أمسيٰ و أضحیٰ ظلَّ باتَ
ما بَرِحَ ما دام ما انفك ليس ہیں اور ما فتی
ایسے ہی ما زال پھر افعال نکلیں ان سے جو
ہے وہی ان کا عمل جو اصل تیرا/۱۳ کا لکھا

[۸]۔ لائے نفی جنس خبر :

لائے نفی جنس ، يعنى هغه "لَا" چې نفی کوي خو د جنس نفی کوي ، دا اسم لره نصب ورکوي او خبر لره رفع ورکوي ، لکه : « لَا رَجُلَ قَائِمٌ »



منصوبات

منصوبات دولس/۱۲ دي : ۱ـ مفعول به ۲ـ مفعول مطلق ۳ـ مفعول له ٤ـ مفعول معه ٥ـ مفعول فيه ٦ـ حال ۷ـ تمييز ۸ـ د حروف مشبه بالفعل اسم ۹ـ د ما ولا مشبهتان بليس خبر ۱۰ـ د لائے نفی جنس اسم ۱۱ـ د افعال ناقصه خبر ۱۲ـ مستثنیٰ

مفعول به: مفعول به هغه اسم دے چې د هغې نه مخکښې فعل يا شبه فعل وي او د هغې فعل يا شبه فعل نسبت دېته شوے وي خو پۀ طريقه د وقوع نۀ پۀ طريقه د قيام ، يا بل تعريف :

چې مفعول به هغه اسم دے چې په هغې باندې فعل د فاعل واقع شوے وي ، لکه : « شَرِبَ خَالِدٌ مَآءً » نو شرب پۀ اوبو واقع شوے دے دغه شان د "شَرِبَ" فعل نسبت "مَآءً" ته پۀ طريقه د وقوع سره شوے دے ، ځکه دا "شَرِبَ" پدې واقع شوے دے.

فائده : بعض مقاماتو کښې د مفعول به فعل د څۀ قرينې د وجې نه حذف کولے شي ، مثلاً:

- چې کله ميلمه راځي او کوربه د هغه د خوشحالولو د پاره پۀ هرکلي کښې أَهْلاً وَسَهْلاً ووائي ، نو "أَهْلًا سَهْلًا" مفعول به دے ، فعل ئې حذف دے او قرينه پرې د ميلمه هغه راتلل دي ، ځکه چې هغه خو هسې هم راروان دے ، نو "أَتَيْتَ" او "وَطَئْتَ" ذکر کولو ته ضرورت نشته .
- چې د چا د يرولو په موقع باندې وئيلے کيږي ، لکه : « إِيَّاكَ وَالْاَسَدَ » نو دا اصل کښې داسې وو چې « اتّقِ نَفْسَكَ مِنَ الاَسَدِ » نو "اِتّقِ" فعل حذف شو د وجې د ضيقت د مقام نه ، دغه شان د پاره د اختصار "نَفْس" هم

حذف شو او ضمير متصل بدل شو په منفصل باندې ، نو « اِيَّاكَ والْأَسَدَ » ترې جوړ شو ، نو دلته کښې "اِتَّقِ" حذف دے او قرينه پرې ضيقت د مقام دے .

• چې چا ته اواز کولے شي ، نو په وخت د نداء کښې فعل حذف کولے شي ، مثلًا « يا غُلامَ زَيْدٍ » نو اوس دلته "أَدْعُو" فعل حذف دے ، ځکه « يا غُلامَ زَيْدٍ » اصل کښې « أَدْعُو غُلامَ زَيْدٍ » وو نو "أَدْعُو" ئې حذف کړو او د هغې قائم مقام ئې "يَا" راوړو نو "يا" حرف ندا او "غلامَ زَيْدٍ" منادیٰ ده .

اعراب د منادیٰ : د منادیٰ څلور قسمه اعراب دے ، ځکه چې منادیٰ به خالی نۀ وي يا به مضاف وي يا به مشابه بالمضاف وي ، يا به نکره غير معينه وي يا به منادیٰ مفرد معرفه وي ، نو اول درې/٣ صورتونو کښې منادیٰ به منصوب وي ، مثال د منادیٰ مضاف ، لکه : « يا غُلامَ زَيْدٍ » ، مثال د منادیٰ مشابه بالمضاف ، لکه : « يا قَارِئًا كِتَابًا » ، مثال د نکره غير معيّنه ، لکه قول د ړوند حافظ چې « يا رَجُلًا خُذْ بِيَدِیْ » ، په څلورم صورت (منادیٰ مفرد معرفه) کښې به مبنی علی الضمه وي ، لکه : "يا زَيْدُ" .

فائده : چې کله منادیٰ معرف باللام وي نو د حرف ندا او منادیٰ په مينځ کښې د مذکر دپاره "أَيُّها" او د مؤنث دپاره "أيّتُها" راوړل لازم دي ددې دپاره چې په آلتينو د تعريف کښې جمع رانۀ شي ، مثلًا د مذکر دپاره « يَا أَيُّهاالرَّجُلُ » او د مؤنث د پاره « يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةَ » .

فائده : په منادي کښې ترخيم هم جائز دے او ترخيم دېته وائي چې د تخفيف يعنی د آسانتيا دپاره د منادیٰ آخري حرف يا د يو حرف نه زائد حذف کړے شي ، لکه : "يا مَالِكُ" کښي "يا مَالِ" او "يا مَنْصُوْرُ" کښي "يا مَنْصُ".

فائده : چې کومه منادیٰ کښې ترخیم اوشي نو په هغې کښې دوه/۲ قسمه اعراب جائز دے ۱۔ اصل حرکت ۲۔ ضمه ورکول ، لکه ''يَا مَالِكُ'' کښې چې ترخیم اوشي ، نو اصل حرکت هم جائز دے چې ''يا مَالِ'' دے او ضمه ورکول هم جائز دي ، لکه ''يا مَالُ''

مفعول مطلق : دا هغه مصدر دے چې د خپل فعل نه بعد واقع وي او د خپل فعل پۀ معنی باندې وي او دا پۀ دریو/۳ طریقو سره راځي :

۱۔ چې د خپل فعل سره ئې ماده هم یوه وی او باب هم ، لکه : «ضَرَبْتُ ضَرْبًا»

۲۔ چې ماده ئې یوه وي خو باب ئې جدا جدا وي ، لکه : (تَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلاً)

۳۔ چې ماده هم جدا وي او باب هم ، لکه : (يُقَرِّبُوْنَ إِلَى اللّٰهِ زُلْفَى)

فائده : بعض مقاماتو کښې د مفعول مطلق فعل د څۀ قرینې د وجې نه حذف کولے شي ، لکه : راتلونکي ته اوئیلے شي « خَيْرَ مَقْدَمٍ » نو دا اصل کښې « قَدِمْتَ قُدُوْماً خَيْرَمَقْدَمٍ » نو « قَدِمْتَ قُدُوْمًا » د راتلو د وجې نه حذف شو نو هغه خو هسې هم رارون دے نو « قَدِمْتَ قُدُوْمًا » ته ضرورت نشته .

۳۔ مفعول له : دا هغه اسم دے چې ددې وجې نه فعل واقع شوے وي ، لکه : « ضَرَبْتُهُ تَأْدِيْبًا » *او مې وهلو هغۀ لره دپاره د ادب * نو دا وهل فعل د ادب دپاره شوے دے .

٤۔ مفعول معه : دا هغه اسم دے چې د واؤ نه بعد واقع وي او دا واؤ په معنی د ''مَعَ'' سره وي ، لکه : « جَآءَ زَيْدٌ وَالْكِتَابَ » نو دا پۀ اصل کښې داسې وو « جَآءَزَيْدٌ مَعَ الْكِتَابِ.

۵۔ مفعول فیه : دا هغه اسم دے چې پدېکښې فعل د فاعل واقع شوے وي دېته ظرف هم وئیلے کیږي ، لکه : « صُمْتُ يَوْمَ الْجُمْعَةِ »

اقسام د ظرف : مفعول فيه ته ظرف هم وائي او ظرف پۀ دوه/۲ قسمه دے ۱ـ ظرف زمان ۲ـ ظرف مكان.

وجه د حصر : وجه د حصر پـكښې داده چې دا ظرف به خالى نۀ وي يا به پۀ ځائے دلالت كوي يا پۀ زمان ، كۀ پۀ ځائے ئې دلالت كولو نو ظرف مكان او كۀ پۀ زمانه ئې دلالت كولو نو ظرف زمان .

بيا ظرف مكان هم پۀ دوه/۲ قسمه دے : ۱ـ ظرف مكان مبهم ۲ـ ظرف مكان محدود .

زمان هم په دوه/۲ قسمه دے ۱ـ ظرف زمان مبهم ۲ـ ظرف زمان محدود.

وجه د حصر : وجه د حصر پـكښې مشتركه داده چې ظرف مكان او زمان دواړه به خالى نۀ وي يا به ورلره يو حد معين وي يا نه ، كۀ حد ورلره معين وو نو ظرف مكان او زمان محدود او كۀ حد ورلره معين نۀ وو نو ظرف مكان او ظرف زمان مبهم .

ظرف زمان مبهم : دَهْرٌ ، حِيْنٌ وغيره

ظرف زمان محدود : يَوْمٌ ، لَيْلٌ ، شَهْرٌ وغيره.

ظرف مكان مبهم : خَلْف ، فَوْق ، تَحْتَ وغيره

ظرف مكان محدود : دَارٌ ، مَسْجِدٌ وغيره .

فائده : ظرف زمان مبهم او محدود او پۀ ظرف مكان مبهم ، دې درې واړو/۳ كښې به ”فى“ مقدر وي ، لكه ظرف زمان مبهم كښې به وئيلے شي : « صُمْتُ دَهْرًا » ، ظرف زمان محدود كښې به وئيلے شي « صُمْتُ شَهرًا » او مكان مبهم كښې به وئيلے شي « جَلَسْتُ خَلْفَكَ » او پۀ ظرف مكان محدود كښى به”في“ مذكور وي ، لكه : « صَلَّيْتُ فِيْ الْـمَسْجِدِ »

مفاعيل خمسه پدې شعر د شاعر كښې جمع دي : ع

حَمِدْتُ حَمْدًا حَامِدًا وَحَمِيْدًا رِعَايَةَ شُكْرِهِ دَهْرًا مَدِيْدًا

تركيب د شعر : ”حَمِدْتُ“ فعل فاعل ”حَمْدًا“ مفعول مطلق ”حَامِدًا“ مفعول به ”وآو“ حرف بمعنى ”مَعَ“ او ”حَمِيْدًا“ مفعول معه ”رِعَايَةَ“ مضاف ”شُكْر“ مضاف اليه او مضاف ”ه“ ضمير مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه مضاف اليه شو د پاره د ”رِعَايَةَ“ مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول له شو ، ”دَهْرًا“ موصوف ”مَدِيْدًا“ صفت ، موصوف سره د صفت نه مفعول فيه شوه ، فعل سره د فاعل نه او سره د مفاعيلو نه جمله خبريه فعليه شوه .

٦ـ **حال** : دا هغه اسم دے چې د فاعل يا د مفعول يا د دواړو حالت بيان کړي ، مثلاً : « جَآءَ زَيْدٌ راكبًا » نو ”رَاكِبًا“ حال د ”زَيْدٌ“ د فاعل حالت ئې بيان کړے دے چې راتلل په سورلۍ وي ، يا مثلًا « جِئْتُ زَيْدًا نَائمًا » نو دلته ”نَائِمًا“ حال دے د ”زَيْدًا“ مفعول حالت ئې بيان کړے دے او « كَلَّمْتُ زَيْدًا جَالِسَيْنِ » دلته ”جَالِسَيْنِ“ د فاعل او مفعول دواړو حالت بيان کړے دے.

فائده : کوم ځائے چې د فاعل او د مفعول نه حال واقع شي نو هغه فاعل او مفعول ته ذوالحال وئيلے کيږي .

فائده : ذوالحال اکثر معرفه وي ، خو کۀ چرته ذوالحال نکره وو ، نو تقديم د حال پۀ ذوالحال باندې واجب دے ، مثلًا: « جَآءَ راكبًا رَجُلٌ » دلته ”رجُلٌ“ ذوالحال نکره دے ، نو ”رَاكِبًا“ حال ئې پرې مقدم کړے دے .

فائده : کله کله جمله هم حال واقع کيږي خو پدې شرط چې د هغه جملې سر کښې وآؤ حاليه وي او يو ضمير وي چې راجع وی ذوالحال ته ، مثلاً « جَآءَ زَيْدٌ وَ هُوَ رَاكِبٌ » او کله کله ذوالحال معنوی هم وي ، يعنی الفاظو کښی

مذکور نۀ وي ، لکه : زَيْدٌ أَکَلَ جالِسًا » "زَيْدٌ" مبتدا "أَکَلَ" فعل "هُوَ" ضمير فاعل ذوالحال "جَالِسًا" حال دے ، ددېنه دا مجموعه خبر شو ، نو دلته "هُوَ" ذوالحال مستتر معنوی دے .

۷ـ تمييز : تمييز لغت کښې جداوالي ته وائي او پۀ اصطلاح د نحوې کښې هغه اسم ته وائي چې د پينځۀ/۵ څيزونو نه ابهام لرې کوي :

۱ـ د عدد نه لکه « رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا » ۲ـ د وزن نه ، لکه : « اِشْتَرَيْتُ رِطْلاً زَيْتًا » ۳ـ د کيل او د پيمانې نه ، لکه : « بِعْتُ قَفِيْزَيْنِ بُرًّا » ٤ـ د مساحت يعنی د اندازی نه ، لکه « مَا فِيْ السَّمَآءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا » ٥ـ د نسبت نه ، لکه : « طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا » .

۸ـ **د حروف مشبه باالفعل اسم** : دا هم منصوب وي ، لکه : إِنَّ زَيدًا قَائِمٌ

۹ـ ما ولا مشبهتان بليس خبر : دا هم منصوب وي ، لکه : « لَا رَجُلٌ ظَرِيْفًا »

۱۰ـ **د لائے نفی للجنس اسم** : دا هم منصوب وي ، لکه : « لَا رَجُلٌ ظَرِيْفًا »

۱۱ـ د افعال نا قصه خبر : دا هم منصوب وي ، لکه : «كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا »

مستثنیٰ : دولسم/۱۲ قسم د منصوباتو نه هغه مستثنیٰ دے ، ددې سره متعلق يوځو بحثونه ذکر کولے شي .

- تعريف لغوی او تعريف اصطلاحی د مستثنیٰ .
- حروف د استثناء.
- معرفت د استثناء ، د مستثنیٰ او د مستثنیٰ منه .
- اقسام د مستثنیٰ پۀ اعتبار د اتصال او انقطاع سره .
- اقسام د مستثنیٰ پۀ اعتبار د مستثنیٰ منه سره .
- اقسام د کلام.

- اقسام د اعراب د مستثنیٰ .
- اعراب د لفظ د غَيْرُ.
- امثله د لفظ د غَيْرُ فی الاعراب .
- فائده .

○ **تعریف لغوی او تعریف اصطلاحی د مستثنیٰ** : مستثنیٰ په لغت کښي خارج کړے شوي ته وائي او اصطلاح کښی مستثنیٰ هغه اسم ته وائي چې د حروف استثناء نه بعد واقع وي او کوم نسبت چې ما قبل ته شوے وي د هغې نه خارج وي .

○ **حروف استثناء** : حروف د استثناء اتهٔ/۸ دي ۱ـ إِلَّا ۲ـ غَيْرَ ۳ـ سِوَى ٤ـ حَاشَا ٥ـ خَلَا ٦ـ عَدَا ۷ـ مَا خَلَا ۸ـ مَاعَدَا.

○ **معرفت د استثناء مستثنیٰ او د مستثنیٰ منه** : د حروف استثناء نه مخکښي چې کوم شے واقع وی دېته مستثنیٰ منه وائي او د هغې نه ورستو چې کوم شے واقع وي هغې ته مستثنیٰ وائي او هغه حرف چې کوم سره استثناء شوې وي ، هغې ته حرف استثناء وائي ، مثلًا : « جَآءَنِيْ الْقَوْمُ إِلَّا زَيدًا » دې مثال کښی "اَلْقَوْمُ" مستثنیٰ منه ده او "زیدًا" مستثنیٰ ده او "اِلَّا" حرف استثناء دے.

○ **اقسام د مستثنیٰ په اعتبار د اتصال او انقطاع** : مستثنیٰ پهٔ اعتبار د اتصال او انقطاع سره پهٔ دوه/۲ قسمه ده ۱ـ مستثنیٰ متصل ۲ـ مستثنیٰ منقطع ، او پدېکښې دوه/۲ قسمه وجه د حصر ده.

وجه د حصر ۱ : وجه د حصر پکښي دا ده چې مستثنیٰ به خالي نهٔ وي یا به مخکښی د استثناء نه پهٔ مستثنیٰ منه کښی داخل وي یا نه ، کهٔ داخل وو نو مستثنیٰ متصل او کهٔ داخل نهٔ وو ، نو مستثنیٰ منقطع .

د مستثنیٰ متصل مثال : « جَاءَنِيْ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا » نو زيد مخکښی د استثناء نه پهٔ قوم کښی داخل وو پهٔ إِلَّا حرف استثناء سره خارج کړے شو ، نو دا مستثنیٰ ، مستثنیٰ متصله ده .

د مستثنیٰ منقطع مثال : ﴿فَسَجَدُوْا اِلَّا اِبْلِيْسَ﴾ دا ابلیس مخکښی د استثناء نه پهٔ ملائکو کښی داخل نهٔ وو ، بلکه خارج وو نو دا مستثنیٰ منقطع ده .

وجه د حصر ؟ : وجه د حصر پکښی دا ده چې مستثنیٰ به خالی نهٔ وي یا به د مستثنیٰ منه د جنس نه وي یا نه کهٔ د مستثنیٰ منه د جنس نه وو نو مستثنیٰ متصل او کهٔ د مستثنیٰ منه د جنس نه نهٔ وو نو مستثنیٰ منقطع ، مثالونه د مخکښې پشان دي .

○ **اقسام د مستثنیٰ په اعتبار د مستثنیٰ منه سره** : مستثنیٰ پهٔ اعتبار د مستثنیٰ منه سره پهٔ دوه/۲ قسمه ده ۱ـ مستثنیٰ مفرّغ ۲ـ مستثنیٰ غیر مفرَّغ.

وجه د حصر : وجه د حصر پکښی دا ده چې د مستثنیٰ مستثنیٰ منه به خالی نهٔ وي یا به مذکور وی یا محذوف ، کهٔ مستثنیٰ منه محذوف وه نو مستثنیٰ مفرّغ او که مستثنیٰ منه مذکور وه ، نو مستثنیٰ غیر مفرّغ ، مثال د مستثنیٰ مفرّغ « ما جآءنی إلّا زَيْدٌ » او مثال د مستثنیٰ غیر مفرّغ « جَآءَنِيْ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا »

○ **اقسام د کلام** : پهٔ کوم کلام کښې چې مستثنیٰ راغلې وي هغه پهٔ دوه/۲ قسمه دے ۱ـ موجب ۲ـ غیر موجب.

وجه د حصر : وجه د حصر پکښي داده چې کلام استثنائي به خالی نۀ وي يا پکښي نهی ، نفی او استفهام وي يا نه ، کۀ پکښي نۀ وو ، نو کلام موجب او کۀ پکښې وو ، نو کلام غير موجب .

مثال د موجب « جَآءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا » مثال د غير موجب « مَا جَآءَنِيْ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا » .

اقسام د اعراب د مستثنیٰ : د مستثنیٰ اعراب په څلور/٤ قسمه دے : ۱ـ نصب واجب ۲ـ جر واجب ۳ـ نصب او بدليت دواړه جائز ٤ـ معرب بحسب العوامل .

۱ـ نصب واجب : پدېکښې پينځۀ/٥ صورتونه جوړيږي : ۱ـ چې مستثنیٰ متصل پۀ کلام موجب کښی د ''اِلَّا'' نه بعد واقع وي ، نو مستثنیٰ به منصوب وي ، مثلا « جَآءَنِيْ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا » ۲ـ چې مستثنیٰ پۀ کلام غير موجب کښی وي خو مستثنیٰ پۀ مستثنیٰ منه باندې مقدَّم وي ، نو مستثنیٰ به منصوب وي مثلًا « ما جَآءَنِيْ اِلّا زَيْدًا اَحَدٌ » دېکښې مستثنیٰ ''زيد'' دے چې مقدم دے ۳ـ مستثنیٰ منقطع هميشه منصوب وي ، لکه : « فَسَجَدُوْا اِلَّا اِبْلِيْسَ » ٤ـ چې مستثنیٰ د ''مَا خَلَا'' ، ''مَاعَدَا'' ، ''لَيْسَ'' او ''لَا يَكُوْنُ'' نه بعد واقع وي ، نو منصوب به وي ، مثلًا : « جَآءَنِيْ الْقَوْمُ مَا عَدَا زَيْدٍ » ٥ـ چې مستثنیٰ د ''خَلَا'' نه بعد واقع وی نو د اکثر علماءکرامو پۀ نزد باندې منصوب وي ، لکه : « جاءنی القومُ خلا زيْدًا» .

۲ـ جر واجب : چې کله مستثنیٰ د ''غَيْرُ''، ''سِوى''، ''سِواءَ'' او ''حاشا'' نه بعد واقع وي ، نو مستثنیٰ به مجرور وي او جر پکښی واجب دے ، لکه : « جَآءَنِيْ الْقَوْمُ غيرُ زيدٍ ، سِوَى زَيْدٍ ، سِوَاءَ زيدٍ ، حَاشَا زَيْدٍ » .

٣۔ نصب اوبدل دواړه جائز : چې کله مستثنیٰ کلام غیر موجب کښې وي او د اِلَّا نه بعد واقع وي او مستثنیٰ منه هم مذکور وي نو هغې کښې دوه/۲ صورتونه جائز دي ، نصب بطور استثناء او بدل ، مثلًا : « مَا جَآءَنِیْ أَحَدٌ اِلَّا زَیْدًا » کلام غیر موجب دے ، نصب بطور استثناء دے او « مَاجَآءَنِیْ أَحَدٌ اِلَّا زیدٌ » بطور بدل مرفوع دے .

٤۔ معرب بحسب العوامل : چې کله مستثنیٰ کلام غیر موجب کښې وي او مستثنیٰ د اِلَّا نه بعد واقع وي ، خو مستثنیٰ منه مذکور نۀ وي ، نو مستثنیٰ به معرب بحسب العوامل وي ، لکه « ما جآءنی اِلَّا زَیْدٌ » ، « مَا رَأَیْتُ اِلَّا زَیْدًا » ، « ما مررتُ اِلَّا بِزَیْدٍ » .

○ **اعراب د لفظ غیرُ** : دا خبره خو معلومه شوه چې د "غَیْرُ" نه بعد مستثنیٰ به مجرور وي ، خو د غیرُ اعراب په تمامو صورتونو کښې به هغه اعراب وي چې کوم د مستثنیٰ وي پۀ "اِلَّا" سره ، مثلًا مستثنیٰ متصل کلام موجب کښې د "اِلَّا" نه بعد ده نو منصوب به وي ، نو دغه شان "غَیْرُ" کښې به هغه نصب پۀ "غَیْرُ" جاری شي ....

○ **امثله د لفظ د غیرُ فی الاعراب** : « جَآءَنِیْ الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ » دا مستثنیٰ متصل ده ، که چرته "زَیْدٍ" د "اِلّا" نه بعد واقع وے نو دا به منصوب وے ، نو هغه نصب "غَیْر" ته نقل شو او "غَیْر" منصوب شو ، دارنګه (فَسَجَدَ الْمَلَائِکَةُ غَیْرَ اِبْلِیْسَ) مثال د مستثنیٰ منقطع دے ، د هغی نصب پۀ "غَیْرَ" جاری شو ، دغه شان « مَا جَآءَنِیْ غَیْرَ زَیْدٍ الْقَوْمُ » دا مثال د هغی مستثنیٰ دے چې کلام غیر موجب کښې وی او مستثنیٰ په مستثنیٰ منه مقدم وي چې کله په "اِلَّا" سره راشي نو مستثنیٰ منه به منصوب وي ، خو دلته د مستثنیٰ منه اعراب "غَیْرَ" ته نقل شوے دے ، دغه شان « مَا جَآءَنِیْ

أَحَدٌ غَيْرَ زيدٍ و غَيْرُ زيدٍ » دا د نصب او د بدل مثال دے دغه شان « مَا جَآءَنِیْ غَيْرُ زِيْدٍ » « مَا رَأَيْتُ غَيْرَ زيدٍ » « مَا مَرَرْتُ بِغَيْرِزيدٍ » دا أمثال د حسب العوامل شو.

○ **فائده** : لفظ د "غَيْرُ" اصل کښې وضع شوے دے دپاره د صفت ، کله کله دپاره د استثناء هم راځي ، لکه څنګه چې "إِلَّا" وضع شوے دے دپاره د استثناء ، خو کله کله دپاره د صفت هم راځي ، د "غَيْرُ" استثنائي مثالونه ذکر شو ، د "إِلَّا" صفتی مثال ، لکه : (لَوْكَانَ فِيْهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللهُ لَفَسَدَتَا) دلته کښې "إِلَّا" پۀ معنی د "غَيْرُ" دے دغه شان « لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ » کښې "إِلَّا" پۀ معنی د "غَيْرُ" دے « لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ » أَيْ : لَا اِلٰهَ غَيْرُ اللهِ .



مجرورات

"مَجْرُوْرَاتٌ" جمع د "مَجْرُوْرٌ" ده مراد ترېنه اسم مجرور دے او اسم مجرور پۀ دوه/۲ قسمه دے : ۱ـ مجرور بالاضافة ، لکه : "غُلامُ زيدٍ" ۲ـ مجرور بحرف الجر ، لکه : « مررتُ بِزيْدٍ »

اقسام د اضافت :

اضافت پۀ دوه/۲ قسمه دے ۱ـ اضافت لفظی ۲ـ اضافت معنوي .

وجه د حصر : وجه د حصر پکښي دا ده يا به صيغه د صفت وي مضاف به وي خپل معمول ته او يا به صيغه د غير صفت وي او مضاف به وی خپل معمول ته ، کۀ صيغه د صفت وه او مضاف وه خپل معمول ته نو اضافت لفظی ورنه معنوی ، مثال د اضافت لفظی ، لکه : "ضَارِبُوْ زيْدٍ" ، مثال د اضافت معنوی ، لکه : "غُلامُ زيدٍ" .

فائده ۱ : پۀ مضاف باندې الف لام نۀ راځي ، البته کۀ چرته مضاف اليه معرف باللام وي او اضافت ئې اضافت لفظی وو نو بيا پۀ مضاف باندې هم الف لام راتلے شي ، لکه : "الضَّاربُ الرّجُلِ" .

فائده ۲ : پۀ اضافت سره د مضاف نه نون د تنوين او نون تثنيه او نون جمع غورځېږي ، د نون تنوين مثال : "ضَارِبُ زيْدٍ" ، د نون د تثنيه مثال "ضَارِبَا زَيْدٍ" او د نون د جمع مثال "ضارِبوْ زَيدٍ" .

فائده ۳ : د مضاف اليه پۀ اُردوْ معنی کښې کا ، کي ، کے ، اپنا ، اپنے ، اپني وغيره راځي او پښتو کښی د ، زما ، خپل وغيره راځی ، لکه د "غُلَامُ زَيْدٍ"

پۀ پښتو کښې معنی کيدے شي "دَ زيد غلام " او اردو کښې "زيد کا غلام".

[اقسام د اسم متمکن په اعتبار د اعراب سره]

ددې فصل د زده کولو نه مخکښې اسماء د اعراب پيژندل غواړي او د هغې اقسام پيژندل غواړي.

اسماء د اعراب درې/٣ دي رفع، نصب او جر.

بيا ددې درې واړو/٣ خپل خپل صورتونه دي:

١ـ د رفعِ صورتونه: د رفع درې صورتونه دي: ١ـ رفع بصورت ضمّه، لکه: « جَآءَنِي زَيْدٌ » ٢ـ رفع بصورت الف، لکه: « جَآءَنِىْ زَيْدَانِ » ٣ـ رفع بصورت وآؤ، لکه: « جَآءَنِىْ اَبُوْكَ ».

٢ـ د نصب صورتونه: د نصب څلور/٤ صورتونه دي: ١ـ نصب بصورت فتحه، لکه: « رَأَيْتُ زَيْدًا » ٢ـ نصب بصورت الف، لکه: « رَأَيْتُ أَبَاكَ » ٣ـ نصب بصورت کسره، لکه: « رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ » ٤ـ نصب بصورت يآء، لکه: « رَأَيْتُ رَجُلَيْنِ » مستثنیٰ

٣ـ د جر صورتونه: د جر درې/٣ صورتونه دي: ١ـ جر بصورت کسره، لکه: « مَرَرْتُ بِزَيْدٍ » ٢ـ جر بصورت فتحه، لکه: « مَرَرْتُ بأَحْمَدَ » ٣ـ جر بصورت يآء، لکه: « مَرَرْتُ بأَبِيْكَ »

اقسام د اعراب:

اعراب د اسم بيا پۀ دوه قسمه دے: ١ـ اعراب بالحركة ٢ـ اعراب بالحرف

۱ـ اعراب بالحركة : اعراب بالحركة دېته وائي چې اعراب پۀ ضمّه ،کسره او فتحه سره وي .

۲ـ اعراب بالحرف : اعراب بالحرف دېته وائي چې اعراب پۀ وآؤ ، الف او یآ سره وي ، بيا هر واحد د اعراب بالحركة او اعراب بالحرف نه پۀ دوه/۲ قسمه دے : ۱ـ لفظی ۲ـ تقديري

لفظی: لفظی هغه ته وائي چې اعراب بالحركة يا بالحرف ظاهرًا موجود وي .

تقديری: تقديری هغه ته وائي چې اعراب بالحركة يا بالحرف ظاهرًا موجود نۀ وي .

بيا هر واحد د لفظی او د تقديری نه پۀ دوه/۲ قسمه دے : ۱ـ حقيقی ۲ـ حکمی.

حقيقی : اعراب حقيقی دېته وائي چې بعض احوال پکښې د بعضو تابع نۀ وي.

حکمی : اعراب حکمی دېته وائي چې بعض احوال پکښې د بعضو تابع وي .

نو تفصيلًا ټول اتۀ/۸ صورتونه شو:

۱ـ اعراب بالحركة لفظی حقيقی ۲ـ اعراب بالحركة لفظی حکمی

۳ـ اعراب بالحركة تقديری حقيقي ٤ـ اعراب بالحركة تقديری حکمی.

٥ـ اعراب بالحرف لفظي حقيقي ٦ـ اعراب بالحرف لفظی حکمی

۷ـ اعراب بالحرف تقديری حقيقي ۸ـ اعراب بالحرف تقديری حکمی .

۱ـ اعراب بالحركة لفظی حقيقی : دا هغه اعراب دي چې ضمې ، فتحې او کسرې ظاهري سره وی او بعض احوال پکښې د بعضو تابع نۀ وي ، لکه : « جآءَنِىْ زَيْدٌ » ، « رَأَيْتُ زَيْدًا » او « مَرَرْتُ بِزَيْدٍ »

٢ـ اعراب بالحركة لفظی حكمی : دا هغه اعراب دے چې پۀ فتحې ، ضمّې او كسرې ظاهري سره وی او بعض احوال پكښې د بعضو تابع وي ، لكه : « جَآءَنِيْ اَحْمَدُ » ، « رَأَيْتُ اَحْمَدَ » او « مَرَرْتُ بأَحْمَدَ » .

٣ـ اعراب بالحركة تقديری حقيقی : دا هغه اعراب دے چې پۀ فتحې ، ضمّی او كسرې تقديري سره وي او بعض احوال پكښې د بعضو تابع نۀ وي ، لكه : « جَآءَنِيْ مُوْسٰى » ، « رَأَيْتُ مُوْسٰي » او « مَرَرْتُ بِمُوْسٰى »

٤ـ اعراب بالحركة تقديری حكمی : دا هغه اعراب دے چې پۀ فتحې ، ضمّی او كسرې تقديري سره وي او بعض احوال پكښې د بعضو تابع وي ، لكه : « جآنِيْ حُبْلٰى » ، « رَأَيْتُ حُبْلٰى » او « مَرَرْتُ بِحُبْلٰى » .

٥ـ اعراب بالحرف لفظی حقيقی : دا هغه اعراب دے چې پۀ وآؤ ، الف او يآء ظاهري سره وي او بعض احوال پكښې د بعضو تابع نۀ وي ، لكه : « جَآءَنِيْ أَبُوْكَ » ، « رَأَيْتُ أَبَاكَ » او « مَرَرْتُ بِأَبِيْك »

٦ـ اعراب بالحرف لفظی حكمی : دا هغه اعراب دے چې پۀ وآؤ ، الف او يآء ظاهري سره وي او بعض احوال پكښې د بعضو تابع وي ، لكه : « جَآءَنِيْ رَجُلَانِ » ، « رَأَيْتُ رَجُلَانِ » او « مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ »

٧ـ اعراب بالحرف تقديری حقيقی: دا هغه اعراب دے چې وآؤ ، الف او يآء تقديري سره وي او بعض احوال پكښې د بعضو تابع نۀ وي ، لكه : « جَآءَنِيْ أَبُوْ الْقَوْمِ » ، « رَأَيْتُ أَبَا الْقَوْمِ » او « مَرَرْتُ بَأَبِيْ الْقَومِ ».

٨ـ اعراب بالحرف تقديری حكمی: دا هغه اعراب دے چې پۀ وآؤ ، الف او يآء سره تقديرًا موجود وي او بعض احوال پكښې د بعضو تابع وي ، لكه : « جَآءَنِيْ مُسْلِمُوْ الْقَوْمِ » ، « رَأَيْتُ مُسْلِمِيْ القَوْمِ » او « مَرَرْتُ بَمُسْلِمِيْ الْقَوْم .

اوس هر کله چې ما سبق خبرې ذهن نشين کړے شوې نو اسم متمکن په اعتبار د اعراب سره پۀ شپاړس/۱٦ قسمه دے او اعراب ئې نهه/۹ قسمه دے :

۱ـ مفرد منصرف صحيح : دا هغه اسم ته وئيلے کيږي عند النحاة چې د هغې پۀ آخر کښې حرف علّت نۀ وي ، لکه : "زَيْدٌ"

۲ـ مفرد منصرف قائم مقام يا جار مجرائے صحيح : دا هغه اسم ته وئيلے کيږي چې د هغې پۀ آخر کښې حرف علّت وي او ما قبل ترينه حرف صحيح ساکن وي ، لکه : "دَلْوٌ".

۳ـ جمع مکسر منصرف : دا هغه جمع ده چې د واحد صيغه پکښې روغه او سلامت نۀ وي پاتې شوې او دې جمع ته جمع تکسير هم وائي ، لکه : "رِجَالٌ" ددې درې واړو/۳ اعراب اعراب بالحرکة لفظی حقيقی دي ، يعنی حالت رفعی ئې پۀ ضمّی لفظی سره ، حالت نصبی ئې پۀ فتحِ لفظی سره او حالت جرّي پۀ کسرې لفظی سره .

امثله : د مفرد منصرف : « جَآئِنِيْ زَيْدٌ » ، « رَأَيْتُ زَيْدًا » او « مَرَرْتُ بِزَيْدٍ » د مفرد منصرف جاري مجري صحيح : « هَـذَا دَلْوٌ » ، « رَأَيْتُ دَلْوًا » او « مَرَرْتُ بِدَلْوٍ » د جمع مکسر منصرف : « جَآءَ رِجَالٌ » ، « رَأَيْتُ رِجَالًا » او « مَرَرْتُ بِرِجَالٍ » .

٤ـ جمع مؤنث سالم : دا هغه جمع ده چې ددې پۀ آخر کښې الف او تآء وي لکه "مُسْلِمَاتٌ" ددې اعراب بالحرکة لفظی حکمی دے (يعنی حالت رفعی ئې پۀ ضمّی لفظی سره ، حالت نصبی او جرّي ئې پۀ کسرې لفظی سره) ، لکه : « جَآءَنِيْ مُسْلِمَاتٌ » ، « رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ » او « مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ ».

۵ـ غير منصرف: دا هغه اسم معرب دے چې پکښې د اسبابو د منع صرف نه دوه/۲ سببه یا یو سبب قائم مقام د سببینو وي او پدې کسره او تنوین نهٔ راځی ، لکه : ''عُمَرُ'' ددې اعراب بالحرکة لفظی حکمی دے (یعنی حالت رفعی ئې پهٔ ضمی لفظی سره او حالت نصبی او جرّی ئې پهٔ فتحې لفظي سره ، لکه : « جآءَعُمَرُ » ، « رَأَيْتُ عُمَرَ » او « مَرَرْتُ بِعُمَرَ »[۱۳] .

---

[۱۳] ـ **حل شده مثال** :

''**نَبِيُّنَامُحَمَّدٌ**'': لفظ لفظِ موضوعِ مستعمل بامعنی مرکب مرکبِ مفیدمرکب تام مرکب کلامی مرکب اسنادي جمله اوکلام جمله خبریه اسمیه.

''**نَبِيُّنَا** ''لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مرکب مرکب غیر مفید غیر تام غیر کلامی غیر اسنادي ناقص مرکب اضافی .

''**نَبِيٌّ**'' لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفرد کلمه اسم علامت اسم مضاف مسندالیه اسم متمکن معرب معرفه مضاف الی المعرفة واحدمذکر منصرف صحیح اعراب بالحرکت لفظی حقیقی، یعنی حالت رفعي په ضمه لفظی سره ،حالت نصب په فتحه لفظی سره او حالت جري پهٔ کسره لفظی سره.

''**نَا**'' لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم اسم غیر متمکن مبنی مشابه مبنی الاصل ضمیرمجرورمتصل معرفه معرفه به ضمیرمضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه مرکب ناقص مرکب اضافی ، مسندالیه محکوم علیه مخبرعنه موضوع مبتداء.

''**مُحَمَّدٌ**'' لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم تنوین علم اسم متمکن معرب معرفه به علم واحدمذکر معرب منصرف مفردمنصرف صحیح اعراب بالحرکت لفظی حقیقی، یعنی حالت رفعي پهٔ ضمه لفظی سره ، حالت نصبي پهٔ فتحه لفظی سره او حالت جري پهٔ کسره لفظی سره ، مسند مسند به محکوم محکوم به مخبر مخبر به محمول خبر ، مبتداء سره د خبر نه مرکب مرکب مفید .... جمله خبریه اسمیه .

٦ـ **اسمائے ستّه ، مكبّره ، مُضافه ، إلى غير يآء المتكلم** : اسمائے ستّه "أَخٌ"، "أبٌ"، "حَمٌ" ، "هَنٌ"، "فَمٌ" او "ذومالٍ" دا شپږ اسماء دي ، خو دا به مكبّره وي ، ځكه كۀ مُصغَّره وو ، نو بيا به ئې اعراب بالحركة لفظي حقيقي وي ، دغه شان موحده به وي ، كۀ تثنيه او جمع وو ، نو بيا به ئې اعراب د ثنيه او جمع والا وي ، دغه شان مضاف به وي ، ځكه كۀ مضاف نۀ وو ، نو بيا به ئې اعراب د مفرد منصرف صحيح وي ، دغه شان مضاف به وي خو يآء د متكلم ته به نۀ وي ، ځكه كۀ چرته يآء المتكلم ته مضاف وو نو بيا به ئې اعراب د "غُلامِيْ" والا (څوارلسم قسم) وي ، اوس چې كله دغه اسماء مكبّره ، موحَّده ، مضافه الى غير يآء المتكلم وو ، نو ددې اعراب به اعراب بالحرف لفظي حقيقي وي (يعنى حالت رفعي پۀ وآؤ لفظي سره ، حالت نصبي پۀ الف لفظي سره او حالت جرّى پۀ يآء لفظي سره « جَآءَنِيْ أَبُوْكَ » ، « رَأَيْتُ أَبَاكَ » او « مَرَرْتُ بِأَبِيْكَ » .

٧ـ **تثنيه حقيقي** : تثنيه حقيقي هغې ته وائي چې پۀ هغې كښې درې/٣ شرائط وي : واحد من لفظه ورلره وي ، شكل ئې د تثنيه وي او معنى ئې هم د تثني وي ، لكه : "رَجُلاَنِ" .

٨ـ **تثنيه صوري** : تثنيه صوري هغې ته وائي چې پۀ هغې كښې ورمبنے شرط نۀ وي او باقي دوه/٢ شرطونه پكښې وي ، يعنى واحد من لفظه ورلره نۀ وي ، خو شكل او معنى ئې د تثنيې وي ، لكه : "اِثْنَتَانَ"، "اِثْنَانِ" .

٩ـ **تثنيه معنوي** : تثنيه معنوي هغه ته وائي چې پۀ هغې كښې ورمبني دوه/٢ شرطونو نۀ وي او يو شرط پكښې وي ، يعنى واحد من لفظه ورلره نۀ وي شكل ئې هم د تثني نۀ وي البته معنى ئې د تثني وي ، لكه : "كِلَا" او "كِلْتَا" ، خو پدې شرط چې ضمير ته مضاف وي.

ددې درې وارو/۳ اعراب بالحرف لفظی حکمی دي (يعنی حالت رفعی پۀ الف ما قبل مفتوح او نون مکسوره سره ، حالت نصبي او جري چې په يآء ما قبل مفتوح او نون مکسوره سره ، لکه : « جَآءَرَجُلانِ » ، « رَأَيْتُ رَجُلَيْنِ » او « مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ » ، « جَآءَ اِثْنانِ » ، « رَأَيْتُ اِثْنَينِ » او « مَرَرْتُ بِاِثْنَيْنِ » ، « جَآءَكِلَاهُمَا » ، « رَأَيْتُ كِلَيْهِمَا » او « مَرَرْتُ بِكلَيْهِمَا »[١٤] .

---

[١٤] ـ **حل شده مثال** :

"**أَبُوْنَا آدَمُ**": لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مرکب مرکبِ مفیدمرکب تام مرکب کلامی مرکب اسنادي جمله او کلام جمله خبریه اسمیه.

"**أبُوْنَا**"لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مرکب مرکب غیر مفید غیر تام غیر کلامی غیر اسنادي ناقص مرکب اضافی .

"**اَبُوْ**" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم مضاف مسنداليه اسم متمکن معرب معرفه معرفه باضافت واحدمذکر معرب منصرف از اسمآء سته مکبره موحده غیرمضاف الی"یآء"متکلم ، اعراب بالحرف لفظی حقیقی یعنی حالت رفعي په واؤ لفظي سره ، حالت نصبي په الف لفظی سره او حالت جري په ياء لفظی سره ، مضاف

"**نَا**" ضمیر لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم اسم غیر متمکن مبنی مشابه مبنی الاصل ضمیرمجرورمتصل معرفه معرفه به ضمیرمضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه مرکب مرکب ناقص مرکب اضافی مسنداليه محکوم عليه مخبرعنه موضوع مبتداء.

"**آدمُ**" لفظ لفظِ موضوع مستعمل با معنی مفرد کلمه اسم علامت اسم علم اسم متمکن معرب معرفه به علم واحدمذکر معرب غیرمنصرف اعراب بالحرکت لفظی حکمی یعنی حالت رفعي پۀ ضمه لفظی سره ، حالت نصبي او جري په فتحه لفظی سره ،

١٠ـ جمع مذکر سالم [جمع مذکر سالم حقيقي] : جمع حقیقی هغې ته وائي چې هغې کښې درې/٣ شرطونه موجود وي ١ـ واحد من لفظه ورلره وي ٢ـ شکل ئې هم د جمع وي ٣ـ معنی ئې هم د جمع وي ، لکه : "مُسْلِمُونَ" .

١١ـ جمع صوری : جمع صوری هغې ته وائي چې پهٔ هغې کښې اول شرط نهٔ وي او دوه شرطونه پکښې موجود وي ، یعنی واحد من لفظه ورلره نهٔ وي ، خو شکل او معنی ئې د جمعِ وي ، لکه : "عِشْرُوْنَ" تا "تِسْعُوْنَ" .

١٢ـ جمع معنوی : جمع معنوی هغې ته وائي چې هغی کښی ورمبني دوه/٢ شرطونه نهٔ وي او یو شرط پکښي وي (یعنی واحد من لفظه ورلره نهٔ وي شکل ئې هم د جمع نهٔ وي ، البته معنی ئې د جمع وي ، لکه : "أُوْلُوْ".

ددې درې واړو/٣ اعراب بالحرف لفظی حکمي دي (یعنی حالت رفعی پهٔ وآؤ ما قبل مضموم سره او حالت نصبی او حالت جرّي پهٔ یآء ما قبل مکسور سره ، لکه : « جَآءَنِیْ مُسْلِمُونَ » ، « رَأَیْتُ مُسْلِمِیْنَ » او « مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ » ، « جَآءَنِیْ عِشْرُوْنَ » ، « رَأَیْتُ عِشْرِیْنَ » او « مَرَرْتُ بِعِشْرِیْنَ » « جَآءَنَیْ أُوْلُوْ مَالٍ » ، « رَأَیْتُ أُوْلِیْ مَالِ » او « مَرَرْتُ بِأُوْلِیْ مَالٍ » .

١٣ـ اسم مقصور : اسم مقصور هغه ته وئیلے کیږي چې د هغی پهٔ آخر کښی الف مقصوره راغلے وي ، لکه : "مُوْسٰی"

١٤ـ غیر د جمع مذکر سالم چې مضاف وی یآء ضمیر د متکلم ته : لکه : "غُلامِیْ"

مسندمسندبہ محکوم محکوم بہ مخبرمخبربہ محمول ، حکم ، خبر ، مبتداء سره د خبر نه جملہ خبریہ اسمیہ.

ددې دواړو اعراب بالحركة تقديرى حقيقى دي (يعنى حالت رفعى پۀ ضمه تقديري سره ، حالت نصبى پۀ فتحه تقديري سره او حالت جرّي پۀ كسره تقديري سره ، لكه : « جَآءَ مُوْسٰى » ، « رَأَيْتُ مُوْسٰى » ، « مَرَرْتُ بِمُوْسٰى » ، « جَآءَغُلَامِىْ » ، « رَأَيْتُ غُلَامِىْ » او « مَرَرْتُ بِغُلَامِىْ »[١٥].

---

[١٥] ـ **حل شده مثال** :

"**إِنَّمَا يَتَذَكَّرُأُولُواالْأَلْبَابِ**": لفظ لفظِ موضوع مستعمل با معنى مركب مركبِ مفيدمركب تام مركب كلامى مركب اسنادي جمله او كلام جمله خبريه فعليه.

"**إِنَّ**"لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنى مفرد كلمه حرف از حرف مشبه بالفعل مبنى مبنى الاصل ملغى ازعمل.

"**مَا**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنى مفرد كلمه حرف مبنى مبنى الاصل ماكافه.

"**يَتَذَكَّرُ**"لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنى مفردكلمه فعل علامت تصريف فعل مضارع معرب مسند فعل عامل .

"**أُولُواالْأَلْبَابِ**"لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنى مركب مركب غير مفيد غير تام غير كلامى غير اسنادي ناقص مركب اضافى .

"**أُولُوْ**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنى مفرد كلمه اسم علامت اسم مضاف اسم متمكن معرب معرفه معرفه به اضافت جمع مذكر معرب منصرف جمع معنوي ، اعراب بالحرف لفظى حكمى ، يعنى حالت رفعي په واؤ ماقبل مضموم سره ، حالت نصبي او جري پۀ يآء ما قبل مكسور سره (خو دلته د اضافت بطرف معرف باللام د وجې نه اعراب بالحرف تقديري حكمي دي)

"**الْأَلْبَابِ**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنى مفردكلمه اسم علامت اسم دخول الف لام جمع اسم متمكن معرب معرفه معرفه به الف لام جمع قّلت جمع مكسرمنصرف اعراب بالحركت لفظى حقيقى يعني حالت رفعي پۀ ضمه لفظى سره ، حالت نصبي پۀ فتحه لفظى سره ، حالت جري پۀ كسره لفظى سره ، مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه مركب

١٥ـ اسم منقوص : اسم منقوص هغه اسم ته وئيلے کيږي چې د هغې پهٔ آخر کښې يآء ما قبل مکسور راغلے وي ، لکه : "قَاضِیْ"

ددې اعراب بالحرکة حقيقى مشترك دي (يعنى حالت رفعى پهٔ ضمّه تقديرى سره او حالت نصبى پهٔ فتحه لفظى سره او حالت جرّى پهٔ کسره تقديرى) سره ، لکه : « جَآءَالقَآضِیْ » ، « رَأَیْتُ القَآضِیَ » ، « مَرَرْتُ بِالقَاضِیْ »

١٦ـ جمع مذکر سالم چې کله مضاف وي يآء ضمير د متکلم ته : لکه : "مُسْلِمِیَّ" نو ددې اعراب بالحرف حکمى مشترك (يعنى حالت رفعى پهٔ وآؤ تقديرى سره او حالت نصبى او جري پهٔ يآء ما قبل مکسور لفظى سره) لکه : « هٰؤُلَآءِ مُسْلِمِیَّ » ، « رَأَیْتُ مُسْلِمِیَّ » او « مَررْتُ بِمُسْلِمِیَّ »(١٦) .

مرکب غير مفيد .... مسنداليہ فاعل معمول ، فعل سره د فاعل نه مرکب مرکب مفيد ...... جملہ خبريہ فعليہ .

(١٦) ـ **حل شده مثال** :

"**إِقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ**": لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنى مرکب مرکبِ مفيدمرکب تام مرکب کلامى مرکب اسنادي جملہ او کلام جملہ انشائيہ امريہ.

" **إِقْضِ**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنى مفردکلمہ فعل علامت فعل امر مبنى مبنى الاصل مسند فعل عامل .

پديکښې أَنْتَ ضمير : لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنى مفرد کلمه اسم علامت اسم مسند اليه اسم غير متمکن مبنى مشابه بمبنى الاصل معرفه بضمير واحد مذکر مسنداليہ فاعل معمول .

"**ما**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنى مفرد اسم اسم غير متمکن اسم موصول مبنى مشابه بمبنى الأصل معرفه معرفه بالموصول .

[اقسام د اعراب د فعل مضارع]

اعراب د مضارع پۀ درې/۳ قسمه باندې دے : ۱ـ رفع ۲ـ نصب ۳ـ جزم .

۱ـ د رفع صورتونه : د رفع دوه/۲ صورتونه دي : ۱ـ رفع بصورت ضمّه ، لکه : « هُوَ يَضْرِبُ » ۲ـ رفع بصورت اثبات نون اعرابی ، لکه : « هُما يَضْرِبَانِ » ، « هُمْ يَضْرِبَوْنِ »

۲ـ د نصب صورتونه : د نصب هم دوه/۲ صورتونه دي : ۱ـ نصب بصورت اسقاط نون اعرابی ، لکه : « لَنْ يَضْرِبَا » او « لَنْ يَضْرِبُوْا » ۲ـ نصب بصورت فتحه ، لکه : « لَنْ يَضْرِبَ ».

۳ـ د جزم صورتونه : د جزم درې/۳ صورتونه دي : ۱ـ جزم بصورت سکون ، لکه : « لَمْ يَضْرِبْ » ۲ـ جزم بصورت اسقاط نون اعرابی ، لکه : « لَمْ يَضْرِبا » ، « لَمْ يَضْرِبُوْا » ۳ـ جزم بصورت حذف علّت ، لکه : « لَمْ يَدْعُ »

"**أَنْتَ قَاضٍ**" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مرکب مرکب مفید ..... جمله خبریه اسمیه.

"**أَنْتَ**" لفظ لفظ موضوع ...... مسندالیه محکوم علیه مخبرعنه موضوع مبتداء.

" **قَاضٍ**"لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمه اسم علامت اسم تنوين اسم متمکن معرب نکره واحد مذکر منصرف اسم منقوص اعراب بالحرکت مشترک ، یعنی حالت رفعي په ضمه تقدیری سره ، حالت نصبي پۀ فتحه لفظی سره او حالت جري پۀ کسره تقدیری سره ، مسندمسندبه محکوم محکوم به مخبرمخبربه محمول ، حکم ، خبر ، مبتداء سره د خبر نه جمله خبریه اسمیه صله شوه دپاره د "ما" اسم موصول ، صله سره د موصول نه مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله انشائیه امریه.

اقسام د فعل مضارع په اعتبار د اعراب سره:

فعل مضارِع پۀ اعتبار د اعراب سره پۀ څلور/٤ قسمه ده : ١ـ صحیح مجرد از ضمائر مرفوعه بارزه او دې قسم کښې د فعل مضارع پینځۀ/٥ صيغې دي ١ـ واحد مذکر غائب (يَضْرِبُ) ٢ـ واحده مؤنثه غائبه (تَضْرِبُ) ٣ـ صيغه واحد مذكر مخاطب (تَضْرِبُ) ٤ـ واحد متكلم (أَضْرِبُ) ٥ـ متكلم مع الغير (نَضْرِبُ).

ددې قسم اعراب دادي چې حالت رفعی پۀ ضمّه لفظی سره ، حالت نصبی پۀ فتحه لفظی سره او حالت جزمی په سکون لفظي سره ، لکه : « هُوَ يَضْرِبُ » ، « لَنْ يَضْرِبَ » او « لَمْ يَضْرِبْ » .

٢ـ مفرد معتل واوي او يائي ، او دې قسم کښې هم مخکښې پینځۀ صيغې دي خو د ناقص واوي او يائي .

ددې اعراب دادي چې حالت رفعی پۀ ضمّه تقديری سره ، حالت نصبی پۀ فتحه لفظی سره ، حالت جزمی پۀ حذف د لام کلمې سره ، لکه : حالت رفعي کښې « هُوَ يَدْعُوْ » ، « هُوَ يَرْمِیْ » حالت نصبي کښې « لَنْ يَدْعُوَ » ، « لّنْ يَرْمِیَ » او حالت جزمی « لّمْ يَدْعُ » ، « لَمْ يَرْمِ » .

٣ـ مفرد معتل الفي ، دې قسم کښې هم مخکښې پینځۀ/٥ صيغې دي خو چې معتل الفي وي .

اعراب ددې دادي چې حالت رفعی پۀ ضمه تقديری سره او حالت نصبی په فتحه تقديری او حالت جزمی په حذف د لام کلمې سره لکه « هُوَ يَرْضَىٰ » ، « لَنْ يَّرْضَىٰ » ، « لم يَرضَ » .

٤ـ صحيح يا معتل سره د ضمائر مرفوعه بارزه نه د فعل مضارع هغه صيغى چې پۀ هغى كښې نون اعرابي راغلے وى برابره خبره د كه صيغه د معتل وى او كه د صحيح وى ددى اعراب په حالت رفعى كښى په اثبات د نون اعرابى سره او په حالت نصبى او جزمى كښې په اسقاط او حذف د نون اعرابى سره لكه د حالت رفعى مثال « هُمَا يَضْرِبَانِ » و « هُمْ يَضْرِبُوْنَ » د حالت نصبى مثال لكه : « لّنْ يَضْرِبَا » ، « لَنْ يَضْرِبُوْا » او د حالت جزم مثال ، لكه : « لَمْ يَضْرِبَا »، «لَمْ يَضْرِبُوْا» وغيره[١٧].

---

[١٧] ـ **حل شده مثال** :

"**لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ**" : لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنى مركب مركبِ مفيدمركب تام مركب كلامى مركب اسنادي جمله او كلام جمله خبريه فعليه.

"**لَا**" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنى مفردكلمه حرف مبنى مبنى الاصل حرف نفى.

" **أَعْبُدُ**" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنى مفرد كلمه فعل علامت فعل تصريف اتصال ضميرفعل مضارع معرب،فعل مضارع قسم اول صحيح مجرد از ضمير بارز ، حالت رفعي په ضمې لفظى سره ، حالت نصبي په فتحه لفظى سره او حالت جزمي په حذف د حركت سره ، مسند ، فعل ، عامل .

پديكښې "أَنَا" ضمير : لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنى مفرد كلمه اسم علامت اسم اسم غير متمكن ضميرمرفوع متصل مبنى مبنى مشابه بالاصل معرفه معرفه به ضمير واحد مذكر مسنداليه فاعل معمول .

"**ما**" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنى مفردكلمه اسم علامت اسم اسم غير متمكن مبنى مبنى مشابه بالاصل اسم موصول معرفه معرفه به اسم موصول.

"**تَعْبُدُونَ**" لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنى مركب مركبِ مفيدمركب تام مركب كلامى مركب اسنادى جمله اوكلام جمله خبريه فعليه.

توابع

"تَوَابِعٌ" جمع د "تَابِعٌ" ده او "فَاعِلٌ" اسمی پهٔ وزن د "فَوَاعِلُ" جمع کیږی.

تعریف د تابع : تابع هر هغه دویم اسم دے چې غیر وي د اول نه خو پهٔ اعراب او جهت د اعراب کښې ورسره یو شان وي ، د اعراب نه مراد رفع، نصب او جر دي او د جهت د اعراب نه مراد فاعلیت ، مفعولیت او مجروریت دي ، مثلًا : « جَآءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ » ، دلته "عَالِمٌ" غیر دے د "رَجُلٌ" نه ، خو په جهت د اعراب کښې ورسره یو دے ، "رَجُلٌ" مرفوع دے بنا بر فاعلیت او "عالِمٌ" هم مرفوع دے بنا بر فاعلیت او اعراب هم د دواړو یو

"تَعْبُدُ" لفظ لفظ موضوع مستعمل بامعنی مفردکلمہ فعل علامت فعل تصریف اتصال ضمیرفعل مضارع معرب، قسم چهارم فعل مضارع صحیح باضمیر بارز ، حالت رفعي په اثبات د نون اعرابی سره او حالت نصبي او جزمي په حذف د نون اعرابی سره ، مسند فعل عامل .

"واؤ" ضمیر : لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفرد کلمہ اسم علامت اسم اسم غیر متمکن ضمیرمرفوع متصل مبنی مبنی مشابہ الاصل معرفہ معرفہ بہ ضمیرجمع مذکر مسندالیہ فاعل معمول .

"هٗ" ضمیرعائدمحذوف : لفظ لفظِ موضوع مستعمل بامعنی مفرد کلمہ اسم علامت اسم اسم غیر متمکن ضمیر منصوبِ متصل مبنی مبنی مشابہ الاصل معرفہ معرفہ بہ ضمیر واحد مذکر مفعول بہ ، فعل سره د فاعل او مفعول بہ نه جملہ خبریہ فعلیہ صلہ شوه د اسم موصول ، موصول سره د صلې نه مفعول بہ شوه ، فعل سره د خپل فاعل او مفعول بہ نه مرکب مرکب مفید .... جملہ خبریہ فعلیہ.

دے چې رفع ده ، دغه شان پهٔ « رَأَيْتُ رَجُلًاعَالِمًا » او « مَرَرْتُ بِرَجُلٍ عَالِمٍ » کښې هم دے .

اقسام د توابع:

د توابعو پينځهٔ/٥ قسمونه دي ١ـ صفت ٢ـ تاكيد ٣ـ بدل ٤ـ عطف بحرفٍ ٥ـ عطف بيان.

١ـ صفت :

داهغه تابع دے چې د خپل متبوع ښهٔ يا بد صفت اوکړي او ظاهر ئې کړی ، مثلًا : « جَآءَنِىْ رَجُلٌ عَالِمٌ »

اقسام د صفت : صفت پهٔ دوه/٢ قسمه باندې دے ١ـ صفت بحاله ٢ـ صفت بحال متعلقه.

وجه د حصر : وجه د حصر پکښې دا ده چې صفت به خالی نهٔ وي يا به پهٔ داسې معنی دلالت کوي چې هغه متبوع کښی موجود وي يا به په داسی معنی دلالت کوي چې هغه د متبوع په متعلق کښي موجود وي ، کهٔ پهٔ متبوع کښي موجود وه ، نو صفت بحاله ، لکه : « جآءنَىْ رَجُلٌ عَالِمٌ » نو د عِلْمِيَّت معنی پهٔ "رَجُلٌ" کښی موجود د او کهٔ هغه معنی د متبوع پهٔ متعلق کښي موجود وه ، نو صفت بحال متعلّقه ، لکه : « جاءنی رَجُلٌ عَالِمٌ أَبُوْهُ » دلته کښی د عِلميت معنی په "رَجُلٌ" کښی موجود نهٔ ده بلکه د هغه پهٔ پلار کښی موجود ده .

صفت بحاله : صفت بحاله کښی د متبوع او د تابع پهٔ لسو/١٠ امورو کښی موافقت وي او پهٔ عين وقت کښي به څلور/٤ موجوديږی د هغی نه ، هغه

دادی : رفع ، نصب او جر ، إفراد ، تثنيه او جمع ، تعريف او تنكير ، تذكير او تانيث ، ددېنه پۀ عين وقت كښې به څلور/٤ موجودېږی ، د رفع ، نصب او جر نه يو د تنكير او تعريف نه يو ، د مفرد ، تثنيه او جمع نه يو ، د تذكير او تانيث نه يو ، مثلا « عِنْدِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ ، رَجُلانِ عَالِمَانِ » .

صفت بحال متعلقه : صفت بحال متعلقه پۀ تابع او متبوع كښې به پينځۀ څيزونو كښې موافقت وي او پۀ عين وقت كښې به دوه/٢ موجودېږي ، هغه دادي : رفع ، نصب او جر ، تعريف او تنكير ، دلته تذكير او تانيث ، مفرد ، تثنيه او جمع كښې موافقت ضروری نۀ دے ، لكه: «جَآءَتْنِیْ اِمْرَءَةٌ عَالِمٌ اِبْنُهَا».

فائده : كله كله جمله هم صفت واقع كيدے شي خو د هغې دپاره څۀ شرائط دي : ١ـ موصوف به نكره وي ٢ـ جمله به خبريه وي ٣ـ صفت كښې به يو ضمير وي چې راجع به وي موصوف ته ، لكه : « جَآءنِیْ رَجُلٌ اَبُوْه عَالِمٌ » ، دلته كښې درې/٣ واړه شرطونه موجود دي .

تاكيد :

دا هغه تابع دے چې د خپل متبوع مضبوط والے اوكړی پۀ نسبت كښې يا په شمول كښې ، برابره خبره ده ، كۀ پۀ تكرار د اسم سره وي يا پۀ تكرار د فعل سره وي ، پۀ تكرار د اسم سره لكه : « جَآءنِیْ زَيْدٌ زَيْدٌ » په تكرار د فعل سره لكه : « جَآء جَآء زَيْدٌ ».

اقسام د تاكيد :

تاكيد پۀ دوه/٢ قسمه دے : ١ـ لفظی ٢ـ معنوي

١ـ تاکید لفظی : تاکید لفظی هغه ته وئیلے کیږي چې د لفظ پهٔ تکرار سره وي ، لکه : « جَآء زَيْدٌ زَيْدٌ » .

٢ـ تاکید معنوی : تاکید معنوی پهٔ نهٔ/٩ الفاظو سره کیږی هغه الفاظ : « نَفْسٌ ، عَيْنٌ ، كِلَا ، كِلْتَا ، كُلٌّ ، أَجْمَعُ ، أَكْتَعُ ، أَبْتَعُ ، أَبْصَعُ ».

"نَفْسٌ"، "عَيْنٌ" دا دَ واحد ، تثنیه او جمع درې/٣ وارو د تاکید دپاره راځي ، خو پدې شرط سره چې هر یو سره خپل ضمیر او صیغه بدلیږي ، کهٔ مفرد وي ، نو صیغه د مفرد کهٔ تثنیه وي ، نو صیغه د تثني او که جمع وه ، نو صیغه د جمعې ، لکه : « جَآء زَيْدٌ نَفْسُه » ، « جَآءزَيْدانِ أَنْفُسُهُما » ، «جَآءزَيْدونَ أَنْفُسُهمْ » .

"كِلَا" د تثني مذکر د تاکید دپاره راځي او "كِلْتَا" د تثني مؤنث د تاکید دپاره راځی "كُلٌّ" او "أَجْمَعُ" دا دواړه د واحد او د جمع د تاکید دپاره راځي او د تثنیه دپاره نهٔ راځي ، مثلا: « قَرأْتُ القُرْآنَ كلَّهُ » ، « جَآءَ القَوْمُ كلُّهُم » ، «اِشْتَرَيْتُ الْفَرَسَ أَجْمَعَهُ » او « جَآءَ النَّاسُ أَجْمَعُوْنَ » .

"أَكْتَعُ" ، "أَبْتَعُ"، "أَبْصَعُ" دا درې/٣ واړه د "أَجْمَعُ" تابع وي ، د هغې نه بغیر راتلے هم نهٔ شي او د هغې نه مقدم کیدے هم نهٔ شي ، لکه : « جَآء الْقَوْمُ كلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ ، أَكتَعُوْنَ ، أَبْتَعُوْنَ ، أَبْصَعُوْنَ » .

بدل :

بدل دا هغه تابع دے چې مقصود بالنسبة وي او متبوع ددې مقصود نهٔ وي ، صرف بطور تمهید ذکر کیږي ، دا بیا پهٔ څلور/٤ قسمه دے : ١ـ بدل الکل ٢ـ بدل البعض ٣ـ بدل الاشتمال ٤ـ بدل الغلط

وجه د حصر : وجه د حصر ﭘکښی دا ده چې د بدل مدلول به خالی نهٔ وي یا به د مبدل منه عین وي یا به تری جزء وي یا به پری مشتمل وي یا به ترې

غلط وي ، كۀ عين وو ، نو بدل الكل او كۀ جزء وو ، نو بدل البعض ،كۀ مشتمل وو، نو بدل الاشتمال او كۀ غلط وو، نو بدل الغلط .
د ټولو امثله : د بدل الاشتمال مثال « جَآءَنی زَيْدٌ أَخُوْك » ، د بدل البعض مثال : « ضُرِبَ زَيْدٌ رَأْسُهُ » د بدل الاشتمال مثال : « سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهُ » د بدل الغلط مثال « اِشْتَرَيْتُ فَرَسًا حِمَارًا » .

عطف بحرف :

دا هغه تابع دے چې د حرف عطف نه بعد راشی او چې کوم نسبت متبوع ته شوے وي هغه نسبت تابع ته هم شوے وي ، اول ته معطوف عليه او دويم ته معطوف وائي ، لکه : « جَآءَ زَيْدٌ و عَمْروٌ » دَ "جَآءَ" نسبت زيد ته هم شوے دے او عمرو ته هم.

عطف بيان :

دا هغه تابع دے چې صفت خو نۀ وی خو د خپل متبوع وضاحت کوي ، دا په دوو/۲ نومونو کښی مشهور نوم سره کيږي ، مثلًا : « جَآء زَيْدٌ أَبُوْ عَمْرٍو ، دلته "زَيْد" غير مشهور دے او "أَبُو عَمْرٍو" مشهور وو ، نو پۀ هغې سره ئې وضاحت اوکړو ، اول ته مُبَيَّنْ او دويم ته عطف بيان وائي .
نوټ : د توابعو تراکيب به فارسی تراکيبو کښې وروستو راشي هلته به حل شي .
نوټ : د فارسی تراکيبو دپاره په طلباء کرامو باندې نظم مائة عامل يادول ضروري دي .



خلاصه د اقسامو د عوامل الاعراب

عوامل اعراب پۀ دوه/۲ قسمه دي : ۱ـ عوامل لفظی ۲ـ عوامل معنوی.
وجه د حصر : وجه د حصر پکښې دا ده چې عامل به خالی نۀ وي يا به ظاهر پۀ الفاظو کښې موجود وي يا نه ، کۀ موجود وو نو عامل لفظی ورنه عامل معنوی .

اقسام عوامل لفظيه :

عوامل لفظيه هغه درې/۳ دي : ۱ـ حروف عامله ۲ـ اسماء عامله ۳ـ افعال عامله.
وجه د حصر: وجه د حصر پکښې دا ده چې عامل لفظی به خالی نۀ وي يا به حروف وي يا به اسماء وي يا به افعال ، کۀ حروف وو ، نو حروف عامله ، کۀ اسماء وو ، نو اسمآء عامله او که افعال وو ، نو افعال عامله .

اقسام د حروف عامله :

هغه دوه دي : ۱ـ حروف عامله په اسم کښې ۲ـ حروف عامله په فعل کښې .

اقسام حروف عامله په اسم کښې :

هغه اووه/۷ دي : **۱ـ حروف جاره** او هغه اوولّس/۱۷ دي ۲ـ **حروف مشبه بالفعل** او هغه شپږ/٦ دي **۳ـ ماولا مشبهتان بليس** ، او هغه دوه/۲ دي **٤ـ لا لنفی الجنس** او دا يو دے **٥ـ حروف ندآء** او هغه پينځۀ/٥ دي **٦ـ وآؤ بمعنی مع** ۷ـ **إلَّا حرف أِستثناء.**

اقسام د حروف عامله په فعل کښې :

هغه دوه/٢ دي **١ـ حروف ناصبه** او هغه څلور/٤ دي : أَنْ ، لَنْ، کَیْ ،إِذَنْ **٢ـ حروف جازمه** او هغه پينځۀ/٥ دي : إِنْ ، لَمْ ، لَمَّا ، لامِ أَمر ، لائے نهي .

عمل د فعل او د افعال عامله :

هر فعل عمل کوي او فعل د عمل پۀ اعتبار سره پۀ دوه/٢ قسمه دے : ١ـ فعل معلوم ١ـ فعل مجهول.

بيا فعل معلوم پۀ دوه/٢ قسمه باندې دے ١ـ لازمی ٢ـ متعدی

عمل د فعل معلوم :

فعل معلوم کۀ لازمي وي او کۀ متعدي فاعل لره رفع ورکوي او شپږ.و/٦ اسمآؤ لره نصب ورکوي ١ـ مفعول مطلق ٢ـ مفعول فيه ٣ـ مفعول معه ٤ـ مفعول له ٥ـ حال ٦ـ تمييز او فعل متعدی دې شپږ.و/٦ اسمآؤ سره سره مفعول به لره هم نصب ورکوي .

عمل د فعل مجهول :

فعل مجهول د فاعل پۀ ځائے باندې مفعول به لره رفع ورکوي باقی مفاعيلو لره نصب ورکوي .

اقسام د فعل متعدی :

اقسام د فعل متعدی څلور/٤ دي : ١ـ متعدی يو مفعول ته ٢ـ متعدی دوو/٢ مفعولو ته ، چې اکتفاء پکښې پۀ يو/١ جائز نۀ وي ٣ـ متعدی دوو/٢

مفعولو ته چې اکتفاء پکښې په يو مفعول جائز وي ٤ـ متعدی دريو/٣ مفعولو ته .

اقسام د افعال عامله :

هغه څلور دی : ١ـ **افعال ناقصه** چې ديارلس/١٣ دی ٢ـ **افعال مقاربه** چې څلور/٤ دی ٣ـ **افعال مدح و ذم** ، چې څلور/٤ دی ٤ـ **افعال تعجب** ، چې دوه/٢ دي .

اقسام د اسماء عامله :

دا يوولس/١١ دي ١ـ **اسماء شرطيه** ، چې دا نهٔ/٩ دي ٢ـ **اسماء افعال بمعنی امر حاضر** ٣ـ **اسماءافعال بمعنی فعل ماضی** ٤ـ **اسم فاعل** ، خو چې کله د حال او د استقبال په معنی باندې وي ، او په شپږ/٦ څيزونو ئې تکيه لګولې وي ٥ـ **اسم مفعول** پشان د اسم فاعل دے په شرطونو کښې ٦ـ **صفت مشبه** ٧ـ **اسم تفضيل** ٨ـ **مصدر** ٩ـ **اسم مضاف** ١٠ـ **اسم تام** ١١ـ **اسم کنايه.**

اقسام د عوامل معنويه :

دا په دوه/٢ قسمه باندې دے ١ـ **مبتدا او خبر کښی** ٢ـ **فعل مضارع کښي** ، چې کله د ناصب او جازم نه خالی وي .

اقسام د حروف غير عامله : حروف غير عامله په شپاړس/١٦ قسمه دي .

☆☆☆☆☆

تفصیل د ماسبق بحث

عوامل د اعراب پهٔ دوه/۲ قسمه دي : ۱ـ عوامل لفظیه ۲ـ عوامل معنویه.

وجه د حصر : وجه د حصر پکښي دا ده چې عامل به خالی نهٔ وي یا به ظاهر پهٔ الفاظو کښي موجود وي یا نه ، کهٔ موجود وو ، نو عامل لفظی ، ورنه عامل معنوي .

بیا عوامل لفظیه پهٔ درې/۳ قسمه دي ۱ـ حروف عامله ۲ـ اسماء عامله ۳ـ افعال عامله .

وجه د حصر: وجه د حصر پکښي دا ده چې عامل لفظی به خالی نهٔ وي یا به حروف وي یا به اسماء وي یا به افعال ، کهٔ حروف وو ، نو حروف عامله ، که اسماء وو ، نو اسمآءعامله او کهٔ افعال وو ، نو افعال عامله.

حروف عامله : حروف عامله پهٔ دوه/۲ قسمه دي : ۱ـ حروف عامله پهٔ اسم کښي ۲ـ حروف عامله پهٔ فعل کښي .

وجه د حصر : وجه د حصر پکښی دا ده چې حروف عامله به خالی نهٔ وي یا به عمل کوي پهٔ اسم کښی یا به عمل کوي پهٔ فعل کښي ، کهٔ عمل ئې کولو پهٔ اسم کښي نو حروف عامله په اسم کښې او کهٔ عمل ئې کولو پهٔ فعل کښي ، نو حروف عامله پهٔ فعل کښې.

اقسام د حروف عامله په اسم کښې :

حروف عامله په اسم کښې پهٔ اووه/۷ قسمه دي :

۱ـ حروف جارّه :

چې هغه اوولّس/۱۷ دي ، چې پدې شعر د شاعر کښی مذکور دي :

بَا وَ تَا و كاف و لام وآؤ و مُنْذُ مُذْ ، خَلَا
رُبَّ،حَاشَا،مِنْ،عَدا،فِيْ عَنْ ، عَلى ، حَتّى ،إِلَى

دا اوولس/١٧ حروف جارّه مشهور دي او څلور/٤ غير مشهور دي [لَاتَ ، لَوْلَا ، كَيْ ، لَعلَّ]

دا پۀ اسم باندې داخليږي او اسم لره جر وركوي ، اسم عام دے ، كۀ حقيقةً اسم وي يا تَأْويلًا ، مثال د حقيقةً « مَرَرْتُ بِزَيْدٍ » او مثال د تَأْويلًا « حَتّى تُنْفِقُوْا » دا جر وركوي ، خو پۀ جر كښې دوه/٢ تعميمه دي .

تعميم اول : جر عام دے پۀ درې/٣ صورتونو سره راځى ، كسرې سره ، لكه : "بِزَيْدٍ" پۀ فتحِ سره ، لكه : "بِعُمَرَ" او پۀ يآء سره ، لكه : "بِأَخِيْكَ" .

تعميم ثانى : جر عام دے كۀ لفظًا وى او كۀ تقديرًا او كله محَلًّا وي ، نو لفظى او تقديرى پۀ معرباتو كښې راځى او محَلّي پۀ مبنياتو كښې.

وجه تسميه : حرف جار ته جار ځكه وائې چې جار مشتق دے د جر نه او جر پۀ لغت كښې راښكلو ته وائي او دا حروف هم فعل يا شبه فعل خپل مدخول طرف ته راكاږي.

متعلّقات : د جارمجرور دپاره متعلَّق ضرورى وي او متعلق ددې څلور/٤ څيزونه دي : ١ـ كله به متعلق فعل وي ، لكه : « أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ » ٢ـ كله به متعلق شبه فعل وي ، لكه : « غَيْرِالْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ » ٣ـ كله به مشير معنى د فعل ته وي ، لكه : « مَا لِزَيْدٍ فِيْ الدّارِ أي مَا يَصْنَعُ زَيْدٌ » ٤ـ كله به مؤول بشبه فعل وي ، لكه « وَهُوَ الَّذِيْ فِيْ السَّمَاء إِلٰه وَ فِيْ الارض إِلٰه » نو "إِلٰه" پۀ معنى د "معبودٌ" سره چې هغه شبه فعل دے او دې جار مجرور ته ظرف مجازى وائي .

اقسام د ظرف :

ظرف په دوه قسمه دے : ١ـ ظرف حقيقى ٢ـ ظرف مجازي
وجه د حصر : وجه د حصر پـکښي دا ده چې ظرف به خالى نۀ وي يا به داسې لفظ وي چې پۀ زمان او پۀ مکان باندې به دلالت کوي يا به جار مجرور وي ، که پۀ زمان او مکان ئې دلالت کوو ، نو ظرف حقيقى او کۀ پۀ جار مجرور ئې دلالت کوو ، نو ظرف مجازي .

ظرف مجازى :

ظرف مجازى پۀ دوه/٢ قسمه دے : ١ـ ظرف مستقر٢ـ ظرف لغو
وجه د حصر: وجه د حصر پـکښي دا ده چې د جار مجرور متعلق به خالى نۀ وي يا به محذوف وي يا به مذکور وي ، کۀ متعلق ئې محذوف وو ، نو ظرف مستقرّ او کۀ متعلق ئې مذکور وو ، نو ظرف لغو .
افعال عامّه : ظرف مستقر کښې چې کله متعلق محذوف وي نو عمومًا د افعال عامّه نه وي او کله کله د افعال خَاصّه نه هم راځى ، افعال عامّه مشهور څلور/٤ دي چې پدې شعر د شاعر کښې مذکور دي :

افعال عامّه چهار است نزد ارباب عُقُول
کون است ثبوت است وجود است حصول

څلور/٤ غير مشهور دي : [لذوق ، لزوق، لصوق ، تلبّس]

ظرف مستقرّ پهٔ څلورو/٤ مقاماتو کښي راځي ١ـ مقام د صله کښي ٢ـ مقام د خبر کښي ٣ـ مقام د حال کښی ٤ـ مقام د صفت کښی ، مثال د حروف جَارّه ، لکه : « مَرَرْتُ بِزَيْدٍ » وغيره [١٨].

حروف مشبه بالفعل :

حروف مشبه بالفعل دا هم حروف عامله په اسم کښې دي چې ټول شپږ/٦ دي ، دېته دوه/٢ نومونه اغستلے کيږي ، يو حروف مشبه بالفعل او بل حروف نواسخ .

حروف نواسخ : حروف نواسخو ته حروف نواسخ ځکه وائي چې دا د مخکښی عامل عمل منسوخ کوي او خپل عمل ظاهروي .

---

[١٨] ـ حل شده مثال :

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللّٰهِ :

"مِنَ النَّاسِ" ظرف مستقر خبر مقدم است مرفوع محلًا "مِنْ" جاره "النَّاسِ" مجرور بالکسره لفظًا و منصوب محلًا مفعول به غیر صریح۔ جار مجرور متعلق بہ "ثَبَتَ" ویا کہ "ثَابِتٌ" مقدر است بنابر اختلاف مذہبین۔ "ثَبَتَ" صیغہ فعل ماضی معلوم ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلًا راجع بسوئے مبتداء مؤخر۔ "ویا کہ "ثَابِتٌ" صیغہ اسم فاعل تکیہ گرفتہ بر مبتداء مؤخر خود یعمل عمل فعلہ ضمیر درو مستتر است فاعلش مرفوع محلًا راجع بسوئے مبتدا مؤخر۔ "مَنْ" مو صولہ یا مو صوفہ بمع صلہ و صفت خویش مبتدا مؤخر است مرفوع محلًا۔ باز "مَنْ" موصولہ یاموصوفہ "يَقُولُ آمَنَّا بِاللّٰهِ" جملہ صفت یاصلہ اوست ـ باز "يَقُولُ" صیغہ فعل مضارع معلوم مرفوع بالضمہ لفظًا ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلا راجع بسوئے "مَنْ" اسم موصول۔ "آمَنَّا بِاللّٰه" مقولہ قول است۔ "آمَنَّا" صیغہ فعل ماضی معلوم "نَا" ضمیر بارز فاعلش مرفوع محلًا "ب" حرف جارہ لفظ "اللّٰه" مجرور بالکسرہ لفظًا و منصوب محلًا مفعول بہ غیر صریح جار مجرور متعلق بہ "آمَنَّا" فعل است۔

حروف مشبه بالفعل : حروف مشبه بالفعل ورته ځکه وائي چې دا حروف لفظًا او مَعنيً د فعل سره مشابه وي.

لفظًا مشابهت پۀ څلورو/٤ وجهو کښې دے :

١ـ چې څۀ رنګې فعل ثلاثی او رباعی راځی ، نو دارنګی دا حروف هم ثلاثی او رباعی راځي .

٢ـ چې څه رنګی د فعل پۀ آخر کښې یآء ضمیر د متکلّم سره د نون د وقایه نه راځی ، نو دغه شان ددې پۀ آخر کښې هم راځي ، لکه : "إِنَّنِيْ"

٣ـ چې څه رنګی د فعل په آخر کښې هآء ضمیر د غائبې راځی ، نو دارنګی ددې پۀ آخر کښې هم راځي ، لکه : "إِنَّهَا"

٤ـ چې څۀ رنګی ماضی مبنی بر فتحه وي ، نو دارنګی دا حروف هم مبنی بر فتحه وي .

معنوی مشابهت داسې دے چې "إِنَّ" او "أَنَّ" پۀ معنی د "حَقَّقْتُ" او "كَأَنَّ" په معنی د "تَشَبَّهْتُ" ، "لَيْتَ" پۀ معنی د "تمَنَّيْتُ" "لَعَلَّ" پۀ معنی د "تَرَجَّيْتُ" او "لكنّ" پۀ معنی د "اِسْتَدْرَكْتُ" .

عمل ددې حروفو :

دا حروف ناصب الاسم او رافع الخبر دي او پۀ نصب کښې دوه/٢ تعمیمه دي .

تعميم اول : نصب عام دے ، کۀ پۀ فتحِ سره وي ، لکه : « إِنَّ زَيْدًا » او کۀ کسرې سره ، لکه : « إِنَّ مُسْلِمَاتٍ » او کۀ پۀ الف سره « إِنَّ أَخَاكَ » او کۀ یآء سره وي ، لکه : « إِنَّ المُسْلِمِيْنَ » .

تعميم ثاني : بيا اعراب ددې عام دي ، كله به لفظًا وي او كله به تقديرًا وي او كله به محلًّا وي ، لفظي او تقديري پۀ معرباتو كښي راځي او محلّي پۀ مبنياتو كښي راځي ، لكه څنګه چې پدې شعر د شاعر كښي مذكور دي : ع

إِنَّ اور اِنَّ كَاَنَّ لَيْتَ لٰكنَّ لَعَلَّ ناصب اسمند و رافع در خبر ضد ما ولا(١٩)

٣ـ ما ولا مشبهتان بليس:

دا هم حروف عامله دي په اسم كښې ، مشبهتان بليس ورته ځكه وائي چې لفظًا او معنًا د "لَيْسَ" سره مشابه دي ، لفظًا داسې ، لكه څۀ رنګې چې "لَيْسَ" رافع الاسم او ناصب الخبر دے ، دارنګې "ماولا" هم دي او معنًى مشابهت داسې دے چې "لَيْسَ" هم پۀ خپل مدخول كښي معنى منفي پيدا كوي ، دارنګې دا حروف هم دي ، شرائط د "ما" د عمل د پاره درې/٣ دي:

١ـ ددې پۀ اسم به خبر مقدم نۀ وي ، كۀ مقدم وو ، نو بيا به عمل نۀ كوي ، لكه « ماقَائِمٌ زَيْدٌ » چې دلته د اول شرط د فوت كيدو د وجې نه "مَا" عمل نۀ دے كړے ٢ـ ددې پۀ خبر به "إِلَّا" داخله نۀ وي ، كۀ داخله وه نو بيا به

---

(١٩) ـ "إِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ":

"إِنَّ" حرف از حروف مشبہ بالفعل ناصب الاسم رافع الخبر اسم و خبر خويش مى طلبد لفظ "اللّٰهَ" اسمش منصوب بالفتحہ لفظا "سَمِيعٌ" خبر ش مرفوع بالضمہ لفظا باز "سَمِيعٌ" صيغہ صفت مشبہ تكيہ كردہ بر اسم "إِنَّ" خود يعمل عمل فعلہ ، ضمير درو مستتر است فاعلش مرفوع محلا راجع بسوئے اسم "إِنَّ" ، "عَلِيمٌ" خبر ش مرفوع بالضمہ لفظا باز "عَلِيمٌ" صيغہ صفت مشبہ تكيہ كردہ بر اسم "إِنَّ" خود يعمل عمل فعلہ ، ضمير درو مستتر است فاعلش مرفوع محلا راجع بسوئے اسم "إِنَّ" ـ

عمل نۀ کوي ، لکه : « مَا زَيْدٌ اِلّا شَاعِرٌ » ٣ـ ددې پۀ اسم به "إِنْ" داخل نۀ وي ، لکه : « ما إِنْ زَيْدٌ قائِمٌ » .

فرق په ما ولا کښې : "ما" او "لا" کښې فرق دادے چې "ما" به پۀ معرفه او نکره دواړو باندې داخليږی او"لا" صرف پۀ نکره باندې داخليږي ، عمل ئې دادے چې مبتدا لره رفع ورکوي او خبر لره نصب ورکوي چې پدی شعر د شاعر کښې ذکر دي : ع

ماولا کا ہیں عمل اِنَّ واَنَّ کے خلاف اسم کے رافع ہیں اور ناصب خبر کے دائما

لکه : « مَا زَيْدٌ قائمًا » او « لا رَجُلٌ ظَرِيْفًا » .

٤ـ لاء لنفی الجنس :

يعنی هغه لا چې د نفی د پاره راځی خو د جنس د نفی دپاره ، ددې عمل دادے چې ددې اسم اکثر مضاف منصوب وي او خبر مرفوع وي ، لکه : « لا غُلامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِيْ الدّارِ » .

قواعد :

☆ چې کله د لآء لنفی الجنس اسم مضاف وي لکه اکثر دغسې وي ، نو بيا به منصوب وي ، لکه : « لا غُلامَ رَجُلٍ » .

☆ که چرته اسم مفرد نکره وي ، نو بيا به مبنی بر فتحه وي ، لکه : « لا رَجُلَ فِيْ الدّارِ »

☆ کۀ د "لا" نه بعد معرفه راغلې وي . نو د دويمی معرفې سره د "لا" تکرار ضروري دے او دغه تائم به "لا" هيڅ عمل نۀ کوي او معرفه به مرفوع بنا بر ابتدا وي ، مثلًا : « لا زَيْدٌ عِنْدِي ولا عَمْروٌ ».

☆ كهٔ د "لا" نه بعد دوه/۲ نكرې راغلې وې ، نو هلته كښې د دواړو نكرو سره تكرار د "لا" خو به وي ، خو پهٔ پينځو/٥ طريقو سره اعراب جائز دي.

• **فَتْحُهُمَا** : « لا رَجُلَ فِيْ الدَّارِ وَلَا إِمْرأَةَ » دې صورت كښې به دواړه لاكانې د نفى د جنس دپاره شي او دلته دوه/۲ تركيبونه جائز دي ١ـ عطف المفرد على المفرد ٢ـ عطف الجملة على الجملة .

١ـ عطف المفرد على المفرد : ددې مطلب دا چې « لا رَجُلَ » او « لَا اِمْرأَةَ » معطوف او معطوف عليه شي او خبر د دواړو يو شي ، نو تقدير د عبارت به داسې شي « لا رَجُلَ ولا اِمْرأَةَ مَوْجُودَانِ فِيْ الدّارِ » .

٢ـ عطف الجملة على الجملة : ددې مطلب دادے چې دواړه ځان ځان له جملې شي او پهٔ يو بل باندې عطف شي او خبر د هر يو جدا جدا محذوف شي ، مثلاً « لا رَجُلَ مَوْجُودٌ فِيْ الدّارِ و لَا اِمْرأَةَ مَوْجُودةٌ فِيْ الدّارِ »

• **رَفْعُهُمَا** : پدې صورت كښى به "لا" مشابه بليس شي او دلته هم دواړه تركيبونه جائز دي : ١ـ عطف د مفرد على المفرد ٢ـ عطف الجملة على الجملة

١ـ عطف المفرد على المفرد : تقدير به داسې شي « لا رَجُلٌ وَلَا اِمْرأَةٌ مَوْجُوْدَيْنِ فِيْ الدّارِ »

٢ـ عطف الجملة على الجملة : تقدير به داسې شي « لا رَجُلٌ مَوْجُوْدًا فَىْ الدّارِ ولا اِمْرأَةٌ مَوْجُوْدةً فِي الدّارِ » .

• **فَتْح الاوّلِ ونصب الثّانى** : « لَا رَجُلَ فِيْ الدّارِ وَ لَا أَمْرأَةً » دلته به "لا" د نفى د جنس شي او د "اِمْرَأَةً" عطف به پهٔ محل د "رَجُل" شي او دلته هم دواړه تركيبونه جائز دي ١ـ عطف المفرد على المفرد ، تقدير به داسې شي « لا

رَجُلَ ولا اِمْرأَةً مَوجُودانِ فِیْ الدّارِ» ٢ـ عطف الجملة على الجملة ، تقدير به داسې شي « لا رَجُلَ مَوْجُوْدٌ فِیْ الدّارِ وَ لَا أِمْرأَةً مَوْجُوْدَةٌ فِیْ الدّارِ » .

٤ـ **فتح الاول ورفع الثانى**: مثلا لا رَجُلَ فَیْ الدّارِ ولا أِمْرأَةٌ دلته به لا د نفى جنس شى او لا أِمْرَأَةٌ عطف به په اصل محل د لا رَجُلَ شى ، دلته هم دا دواړه تركيبونه جائز دى :

١ـ **عطف د مفرد على المفرد** « لا رَجُلَ ولا اِمْرأَةٌ مَوْجُوْدانِ فِیْ الدّارِ »

٢ـ **عطف د جملې على الجمله** ، مثلا : « لا رَجُلَ مَوْجُوْدٌ فِیْ الدّارِ ولا امْرأَةٌ مَوْجُوْدةٌ فِیْ الدّارِ »

٥ـ **رفع الاوّل وفتح الثّانى** : مثلًا « لا رَجُلٌ فَیْ الدّارِ و لا اِمْرأَةَ » ، دې صورت كښې اوله "لا" به مشابه بليس شي او "لا" ثانى به لا لنفى الجنس شي ، پدېكښې عطف د جملې على الجمله خو جائز دے ، ليكن عطف د مفرد على المفرد جائز نۀ دے او عطف د مفرد على المفرد ځكه جائز نۀ دے چې "لا" مشابه بليس خبر منصوب غواړى او لا لنفى الجنس خبر مرفوع غواړى نو چې كله مونږه عطف د مفرد على المفرد اوكړو نو خبر به ورلره يو راولو ، نو كۀ اوس لا مشابه بليس ته اوګورو نو هغه وائي چې ځما خبر دِ منصوب شي او كۀ لا لنفى الجنس ته اوګورو نو هغه وائي چې زما خبر دِ مرفوع شي او يو ټكے مرفوع او منصوب نۀ شي كيدے پۀ يو وخت كښې ، لهذا عطف د مفرد على المفرد جائز نۀ شو او عطف د جملې على الجمله جائز دے ، تقدير به داسى شى « لا رَجُلٌ مَوْجُوْدًا فَیْ الدّارِ ولا اِمْرأَةَ مَوْجُوْدَةٌ فِیْ الدّارِ»[٢٠] .

---

(٢٠) ـ حل شده مثالونه:

ا ـ "مَا هٰذَا بَشَرًا":

۵ـ حروف نداء:

يعنى هغه حروف چې هغې سره اواز کولے شی ،بیا چې کوم ځائے حروف نداء راشي هلته به څلور څيزونه وي ۱ـ منادِی ۲ـ منادیٰ ۳ـ حرف نداء ٤ـ مقصود بالنداء.

دا حروف منادیٰ مضاف لره نصب ورکوي او دا حروف پينځۀ دي: [يا ، أَيا، هيا، أَیْ، همزه مفتوحه] او پدیکښی "أَی" او همزه مفتوحه د قریب دپاره "أَيَا" او "هَيَا"د بعيد دپاره راځی ، او "يَا" عام دے ، قریب او بعید دواړو دپاره راځی او منادیٰ پۀ اعتبار د اعراب سره پۀ څلور/٤ قسمه ده. كما مرّ تفصيله .

٦ـ واو بمعنی مع :

خاص نوم ددې وآؤ بمعنى مع دے ، وآؤ بمعنى مع ناصب د مفعول معه دے په نزد د شیخ باندې یا وآؤ علامت د مفعول معه دے په نزد د جمهورو ،

"مَا" حرف از حروف مشبہ بلیس رافع الاسم ناصب الخبر اسم خبر خویش می طلبد ،"هٰذَا"اسم اشاره اسمش مرفوع محلا"بَشَرًا"خبرش منصوب بالفتحہ لفظا، باز"بَشَرًا"صیغہ صفت مشبہ تکیہ کردہ براسم"مَا" خودیعمل عمل فعلہ ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلاراجع بسوئے اسم"مَا"۔

۲ـ"لَا عَقْلَ لَه":

"لَا"لائے نفی جنس"عَقْلَ"نکرہ مفردہ غیر مفصولہ اسمش مبنی بر فتحہ"لَه" ظرف مستقر خبرش مرفوع محلا، "ل" جارہ "ہ"،ضمیر غائب مجرور ومنصوب محلا مفعول بہ غیر صریح راجع بسوئے مذکور ماقبل، جار مجرور متعلق بہ "وُجِدَ"ویاکہ "مَوْجُوْدٌ"کہ مقدر است بنابر اختلاف مذہبین،"وُجِدَ"صیغہ فعل ماضی مجہول ضمیردرو مستتر مفعول مالم یسم فاعلہ مرفوع محلاراجع بسوئے اسمِ"لَا"۔ویاکہ"مَوْجُوْدٌ"صیغہ اسم مفعول تکیہ کردہ بر اسمِ"لَا"خود یعمل عمل فعلہ ضمیر درو مستتر مفعول مالم یسم فاعلہ است مرفوع محلاراجع بسوئے اسمِ"لَا"۔

او د واؤ بمعنی مع علامت دادے چې کۀ چرته هغه خذف کړې او د هغی پۀ ځائے باندې "مع" کیږدې ، نو بیا هم معنی صحیح وي ، لکه : « اِسْتَوىٰ المَاءُ وَالْخَشَبَةَ » .

۷۔ الّا حرف اسْتِثناء :

دا هم نصب ورکوی ، د "إِلَّا" حرف استثناء اقسام او د مستثنیٰ تفصیل مخکښې تیر شوے دے[۲۱] .

[حروف عامله درفعل مضارع]

حروف عامله پۀ فعل مضارع کښې دا په دوه/۲ قسمه دي : ۱۔ حروف ناصبه ۲۔ حروف جازمه

۱۔ حروف ناصبه :- حروف ناصبه خلور/٤ دي : [أَنْ ، لَنْ ، كَيْ ، إِذَنْ] دا حروف فعل مضارع لره نصب ورکوي ، نصب کله فتحِ سره وي او کله کله پۀ حذف د نون اعرابی سره وي ، لکه تثنیه او جمع کښې اوکله نصب محلّي وي لکه د جمع مؤنث دوه/۲ صیغو کښې.

---

[۲۱] ۔ حل شده مثال :

يَايَحْيٰى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ:

"یا" حرف نداء قائم مقام "أَدْعُوْ" ناصب منادی مضاف یامشابہ مضاف یانکرہ غیر معینہ " يَحْيٰى "منادی مفرد معرفہ مبنی علی ما یرفع بہ "خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ"جملہ مقصود بالندا است، "خُذِ" صیغہ فعل امر حاضر معلوم ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلًا "الْكِتَابَ" مفعول بہ اوست منصوب بالفتحہ لفظًا "ب" جارہ، "قُوَّةٍ"مجرور بالکسرہ لفظا و منصوب محلا مفعول بہ غیر صریح، جار مجرور متعلق بہ " خُذْ"،فعل است۔

☆ **أَنْ** : دېته ''أَنْ'' مصدريه وئيلے كيږي ، ځكه دا فعل پۀ تأويل د مصدر سره ګرځوي او اكثر لفظًا او كله كله تقديرًا، تقديرًا پۀ دوه/۲ قسمه دے ۱ـ سماعى ۲ـ قياسى

سماعى: سماعى صرف يو ځاے كښى راځي لكه شعر د شاعر : ع

تَسْمَعُ بالمُعِيْدِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَرَاهُ سَتَعْرِفُ قَدْرَهُ اِذَا انْفَتَحَ فَـــاهُ

نو ''تَسْمَعُ بالمُعِيْدِ'' مبتدا ده ''خيرٌ'' ورلره خبر دے ، خو''تَسْمَعُ بالمُعِيْدِ'' پۀ تأويل د مصدر سره مبتدا ده او دا سماعى دے.

قياسى: ''أنْ'' قياسى پۀ اوو/۷ مقاماتوكښي راځى او فعل مضارع لره نصب وركوي .

☆ **د لام كى نه بعد** : لام كى هغه حرف جر ته وائي چې په فعل مضارع باندې داخل وي او پۀ معنى د سبب وي ، لكه : « قامَ زَيْدٌ لِيَذْهَبَ » .

☆ **د حتّى نه بعد** : ''أَنْ'' مقدر وي د ''حتّى'' نه بعد ، برابره خبره ده ، كۀ ''حتّى'' غائيَّه وى يا سببيَّه ، مثال د غائيّه « أَسِيرُ حَتّى تَطْلُعَ الشَمْسُ » ، مثال د سببيّه « حتّى أَدْخُلَ الجَنّةَ » .

☆ **د لام جحد نه بعد** : ''أنْ'' مقدر وي د لام جحد نه بعد او لام جحد هغه لام جارّه دے چې د كانَ منفى پۀ خبر باندې داخل وي ، لكه : « و مَاكانَ الله لِيُعَذِّبَهمْ » .

☆ **د لام جارّه زائده نه بعد** : ''أَنْ'' مقدر وي د لام جارّه زائده نه بعد او لام جارّه زائده هغه لام ته وئيلے كيږي چې د مادې د امر يا د ارادې د امر نه بعد واقع وي ، لكه : « أَمَرْتُ لِيَقَوْمَ » او ﴿ اِنَّمَا يُرِيْدُ الله لِيُذْهِبَ عَنكمُ الرِّجْسَ ﴾ اوس ''يُرِيْدُ'' اراده ئې امر ده ، مطلب دا چې اراده د امر كوي ستاسو.

☆ **د وآؤ صرف نه بعد** : "أَنْ" مقدر وي د وآؤ صرف نه بعد ، او د وآؤ صرف يو تعريف دادے چې وآؤ صرف هغه وآؤ ته وئيلے کيږي چې داخل وي پۀ فعل مضارع باندې او ما قبل ترې اسم صريحى وى ، يا وآؤ صرف هغه ته وئيلے کيږي چې ڪم څيز پۀ معطوف عليه داخل وي هغه د وآؤ په مدخول نشى داخليدے ، لکه : ع

لاتَنَه عَنْ خُلُقٍ وَ تَأْتِيَ مِثْلَهُ   عَارٌ عَلَيْك أِذَ فَعَلْتَ عَظِيْمٌ

دې شعر کښې دواړه تعريفونه جاري کيږى ، "وتَأْتِيَ" کښې وآؤ واقع دے پۀ فعل مضارع باندې او ما قبل ترېنه اسم صريحى دے او "خُلُقٍ" باندې "لا تَنْهَ" داخل دے او دغه "لَا تَنْهَ" پۀ مدخول د وآؤ چې "تَأْتِيَ مِثْلهُ" دے ، پۀ هغې نۀ شي داخليدے .

☆ **اَوْ بمعنى اِلَى أَنْ يا إِلَّا أَنْ نه بعد** : "أَنْ" مقدر وي د "أوْ" نه بعد چې کوم پۀ معنى د "إلى أَنْ" يا "إِلَّا أَنْ" سره وي ، لکه : « لَأَلْزِمَنّك أَوْ تُعْطِيْنِي حَقِّيْ أى إِلَى أَنْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّى » دلته "أَوْ" پۀ معنى د "إلى أن" سره دے .

☆ **د فَآء سببيّه نه بعد** : د فآء سببيه نه بعد "أن" مقدر وي او فآء سببيَّه هغه فآء ته وئيلے کيږي چې د اتو/ ۸ څيزونو پۀ جواب کښى واقع شي ۱ـ امر ۲ـ نهى۳ـ نفى٤ـ استفهام٥ـ تمنّى ٦ـ تحضيض۷ـ عرض۸ـ ترجّى

د امر مثال : « زُرْنِيْ فأُكرِمَك » ، د نهى مثال : « لا تَشْتِمْنى فَأُهِيْنَكَ ، د نفى مثال : « ما تأْتِيْنَا فَتُحَدِّثَنَا » ، د استفهام مثال : « أَيْنَ بَيْتُك فَازُوْرَكَ » ، د تمنّى مثال : « لَيْتَ لِى مَالٌ فَأُنْفِقَ مِنْهُ » د عرض مثال : « ألا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا » د تحضيض مثال : « لَوْلَا أَخَّرْتَنِيْ إِلَي أَجَلٍ قَرِيبْ فاصَّدَّقَ » د ترجّى مثال : « لعلّى أبْلُغُ الْأَسْبَابَ أَسْبَابَ السَمَاوَاتِ فَاطَّلِعَ »

☆ **لَنْ ناصبه تاكيديَّه** : "لَنْ" ته ناصبه تاكيديه وئيلے كيږي ، ځكه دا د نفي د استقبال د تاكيد دپاره راځي ، لكه : « لَنْ يَّذهَبَ عَمروٌ » .

☆ **كَيْ** : دېته سببيه وئيلے كيږي ، ځكه ددېنه ماقبل سبب وي او ما بعد مسبب وي ، لكه : « أَسْلَمْتُ كَيْ أَدْخُلَ الجَنّةَ ».

☆ **اِذَنْ** : دېته جوابيه جزائيه وئيلے كيږي ، ځكه ددې ما بعد د ما قبل دپاره جزآء او جواب وي ، لكه : « اِذَنْ أَشْكُرَكَ » د هغه چا پۀ جواب كښې چې هغه تاته اوائي « أَنَا أُعْطِيْكَ دِيْنَارًا » دا ټول سره د عمل نه پدې شعر كښې ذكر دي : ع

اِنْ وَلَنْ پھر كَیْ اِذَنْ ہیں یہ حروف ناصبہ
كرتے ہیں منصوب مستقبل بے روئے وریا[۲۲]

حروف جازمه :

دا پينځۀ/٥ دي : [إِنْ ، لَمْ ، لَمّا ، لام امر، لا نهی ، دا پۀ فعل مضارع داخليږي او هغې لره جزم وركوي .

---

[۲۲] ـ حل شده مثال :

"يُرِيدُ اللهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ":

"يُرِيدُ"صيغه فعل مضارع معلوم مرفوع بالضمه لفظا،لفظ"الله"فاعلش مرفوع بالضمه لفظا "لَا"لام زائده جاره"يُبَيِّنَ"جمله بتقدير"أَنْ"بتاويل مصدر مجرورو منصوب محلا،جار مجرور مستغنى از متعلق است۔باز"أَنْ"مصدريه ناصبۂ المستقبل"يُبَيِّنَ"صيغه فعل مضارع معلوم منصوب بالفتحه لفظا، ضمير درو مستتر فاعلش مرفوع محلا راجع بسوئے لفظ"اللهُ"،"لام"جاره"كُمْ"ضمير مخاطبين مجرورو منصوب محلامفعول به غير صريح،جار مجرور متعلق به"يُبَيِّنَ"فعل است۔

☆ **إِنْ شرطيه** : خاص نوم ددې إِن شرطيه دے او دا پۀ دوو/۲ أفعالو داخليږي او هغی لره جزم ورکوي ، اول ته شرط او دويم ته جزآء وائي ، کۀ شرط او جزآء دواړه فعل مضارِع وو يا صرف شرط فعل مضارِع وو نو بيا جزم واجب دے ، لکه « إِنْ تَضْرِبْنِيْ أَضْرِبْكَ » يا « إِنْ تَضْرِبْنِيْ ضَرَبْتُك » او کۀ صرف جزآء فعل مضارع وو نو بيا جواز الأمرين دے ، رفع هم جائز ده او جزم هم جائز دے ، لکه : « إِنْ تَضْرِبْنِيْ أَضْرِبُك » يا « أَضْرِبْك » کۀ شرط يا جزآء فعل ماضی وه نو جزم به محلّي وي ، ځکه مبنياتو کښې اعراب محلّی وي او دا د مستقبل دپاره راځی اګر چې په ماضی داخل وي .

فائده : دخول د فآء پۀ جزآء کښې پۀ درې/۳ قسمه دے ١ـ منع ٢ـ جائز ٣ـ واجب.

١ـ که جزآء فعل ماضی متصرف وو او بغير د "قَدْ" نه وو نو دخول د فآء پۀ جزاء باندې منع دے.

او کۀ "قَدْ" ورسره وو نو برابره خبره ده ، کۀ لفظًا وو او کۀ تقديرًا نو بيا پرې دخول د فآء جائز شي.

٢ـ کۀ چرته جزآء فعل مضارِع مثبت بغير د سين او سوف يا مضارِع منفی وي ، خو منفی پۀ "ماولا" سره وي ، نو دخول د فآء جائز دے ، لکه : « إِنْ تَضْرِبْنِي أَضْرِبْك يا فَأَضْرِبْك » دواړه وئيل جائز دے .

٣ـ چې روستو مذکور نهه/۹ ځيزونه په جواب د شرط کښی واقع وی نو دخول د فآء واجب دے.

هغه نهۀ/۹ ځيزونه : [١ـ جمله اسميه ٢ـ أمر ٣ـ نهی٤ـ دُعا ٥ـ نفی ٦ـ استفهام ٧ـ تمنّی ٨ـ تحضيض ٩ـ عرض]

د جمله اسمیه مثال : « إِنْ تَأْتِنِيْ فَأَنْتَ مُكرَمٌ » ، د أمر مثال : « إِنْ رَأَيْتَ زَيْدًا فَأَكرِمْهُ » ، د نهی مثال « إِنْ أَتَاكَ عَمْروٌ فَلا تُهْنِهُ » ....

فائده : چې کله د ماضی صیغه د دعآء پۀ ځائے کښې راشي یا پری شرط داخل وي یا اسم موصول وي ، نو بیا به ماضی پۀ معنی د مضارع وي .

☆ **لم جحدیه** : خاص نوم دد لم جحدیه دے او جحد انکار ماضی ته وئیلے کیږی دا "لم" په مضارع داخلیږی او هغه د ماضی منفی په معنی کرځی .

☆ **لَمّا** : دیته "لمّا" استغراقیه وائي او دا هم فعل مضارع د ماضی منفی پۀ معنی کښې کرځوي .

☆ **لام أمْريه جَازِمه** : لکه : ﴿فَلْيَضْحَكوْا قَلِيْلًا وَلْيَبْكوْا كثِيْرًا﴾ .

☆ **لائے نهی** : دا هم فعل مضارع لره جزم ورکوي ، لکه : « لاتَضْرِبْ »[۲۳]

---

[۲۳] ـ إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ:
"إِنْ"حرف شرط جازمه جازمة المستقبل "تُعَذِّبْ"صیغه فعل مضارع معلوم شرطش مجزوم بحذف حرکت ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلاً "هُمْ "ضمیر غائبین مفعول بہ است منصوب محلاراجع بسوئے مذکورین ما قبل۔ جزاء محذوف که تقدیرش "تَعْدِلْ "ویا که "أَنْتَ الْعَادِلُ فِيْ ذٰلِكَ "باشد۔ "ف "تعلیلیه قائم مقام جزاء است۔ "إِنَّ "حرف از حروف مشبه بالفعل ناصب الاسم رافع الخبر اسم وخبر خویش می طلبد۔ "هُمْ "ضمیر غائبین اسمش منصوب محلاً "عِبَادُ "خبرش مرفوع بالضمه لفظامضاف "كَ "ضمیر خطاب مضاف الیه است مجرور محلاً۔ "واؤ "عاطفه "إِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ "جمله معطوف "إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ "جمله معطوف علیه اوست۔ "إِنْ "حرف شرط جازمه جازمة المستقبل "تَغْفِرْ "صیغه فعل مضارع معلوم شرطش مجزوم بحذف حرکت ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلاً "ل "جاره "هم "ضمیر غائبین مجرور ومنصوب محلا مفعول به غیر صریح، جار مجرور متعلق به "تَغْفِرْ "فعل است۔ جزاء محذوف که تقدیرش " تَتَفَضَّلْ "ویا که "فَذٰلِكَ تَفَضُّلٌ مِّنْكَ "باشد۔ "فَ "تعلیلیه قائم مقام جزاء است۔ "إِنَّ "حرف از حروف مشبه بالفعل ناصب الاسم رافع الخبر اسم وخبر خویش می طلبد۔ "ک "ضمیر خطاب اسمش منصوب محلاً

[عمل افعال او افعال عامله]

هر يو فعل عمل كوي ، بيا د عمل په اعتبار سره فعل پۀ دوه/۲ قسمه دے ۱۔ فعل معروف ۲۔ فعل مجهول.

بيا فعل معروف په دوه/۲ قسمه دے : ۱۔ لازمی ۲۔ متعدّی.

لازمی : لازمی هغه ته وائي چې صرف فاعل باندې اكتفاء كوي .

متعدی : متعدّی هغه ته وائي چې د فاعل نه بعد مفعول هم غواړي .

عمل د فعل معلوم : فعل معلوم كه لازمی وي او كۀ متعدّي وي فاعل لره رفع وركوي او شپږ/٦ څيزونو لره نصب وركوي ، هغه شپږ/٦ دا دي : ۱۔ مفعول مطلق ۲۔ مفعول له ۳۔ مفعول فيه ٤۔ مفعول معه ٥۔ حال ٦۔ تمييز ، خو فعل متعدّی د دې شپږو/٦ نه علاوه مفعول به لره نصب وركوي.

عمل د فعل مجهول : فعل مجهول د فاعل پۀ ځائے باندې مفعول به لره رفع وركوي او باقی مفعولاتو لره نصب وركوي ، مثلًا : « ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمَعَةِ ،

موکد "أَنْتَ" تاکید است۔۔۔ویاکہ "إِنَّ" حرف از حروف مشبہ بالفعل ناصب الاسم رافع الخبر اسم وخبر خویش می طلبد۔ "كَ" ضمیر خطاب اسمش منصوب محلاً "أَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ" جملہ خبرش مرفوع محلا، باز "أَنْتَ" ضمیر مرفوع منفصل مبتداء اوست مرفوع محلا "العزیز" خبر اول اوست مرفوع بالضمہ لفظاالخ۔۔۔ویاکہ "إِنَّ" حرف از حروف مشبہ بالفعل ناصب الاسم رافع الخبر اسم وخبر خویش می طلبد۔ "كَ" ضمیر خطاب اسمش منصوب محلاً "أَنْتَ" ضمیر فصل "الْعَزِيزُ" خبر اول اوست مرفوع بالضمہ لفظا۔ باز "الْعَزِيزُ" صیغہ صفت مشبہ تکیہ کردہ بر اسم "إِنَّ" ویاکہ بر مبتدا خود یعمل عمل فعلہ ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلاً "الْحَكِيْم" خبر ثانی اوست مرفوع بالضمہ لفظا۔ باز "الْحَكِيْم" صیغہ صفت مشبہ تکیہ کردہ بر اسم "إِنَّ" ویاکہ برمبتدا خود یعمل عمل فعلہ ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلاً۔۔۔ویاکہ "الْعَزِيزُ" خبرش مرفوع بالضمہ لفظاموصوف الخ۔۔ "الْحَكِيْمُ" صفت اوست مرفوع بالضمہ لفظاالخ۔۔۔

أَمَامَ الْاَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهِ تَأْدِيْبًا » او دې فعل مجهول ته فعل مالم يُسَمَّ فاعله وائي او دې مرفوع ته مفعول مالم يسمَّ فاعله يا نائب فاعل وائي .

اقسام د فعل متعدّی : فعل متعدّي پهٔ څلور/٤ قسمه دے :

- **فعل متعدى يو مفعول ته** : لکه : « ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْروًا » .
- **متعدّی دوو/٢ مفعولو ته** : البته اکتفاء ﭘکښی پهٔ يو مفعول جائز وي ، لکه : « أَعْطَيْتُ زَيْدًا دِرْهَمًا » دلته يو مفعول حذف کول جائز دي ، لکه چې داسې اوائي « أَعْطَيْتُ زيْدًا » يا « أَعْطَيْتُ دِيْنَارًا ».
- **متعدّی دوو/٢ مفعولو ته** : البته اکتفاء ﭘکښې پهٔ يو مفعول جائز نهٔ وي ، او دا پهٔ افعال قلوب کښې راځي او افعال قلوب پدې شعر د شاعر کښې سره د عمل نه مذکور دي : ع

ہیں رَاَیْتُ اور وَجَدتُ اور عَلِمْتُ اور زَعَمْتُ پھر حَسِبْتُ اور خِلْتُ اور ظَنَنْتُ بے خطا
تین پہلے ہیں یقین کے واسطے تو کر یقین اور تین آخر ہیں شک کے لئے بے شک دلا
درمیان شک اور یقین کے ہے جو فعل مشترک ہیں زعمتُ درمیان چھ کے جو ہے اوپر لکھا

اولنې درې/٣ د يقين د پاره راځي چې مجموعه ئې ”رَوَعَ“ ده او نور درې د شك د پاره راځي او ”زَعَمْتُ“ کله د شك دپاره او کله د يقين دپاره .

مثالونه : ١ـ « رَأَيْتُ سَعِيْدًا ذَاهِبًا » ٢ـ « وَجَدْتُ رَشِيدًا عَالِمًا » ٣ـ « عَلِمْتُ عَمْروًا أَمِيْنًا » ٤ـ « زَعَمْتُ اللهَ غَفُوْرًا » ٥ـ « زَعَمْتُ الشَّيْطَانَ شَكوْرًا » ٦ـ « حَسِبْتُ زَيْدًا فَاضِلًا » ٧ـ « خِلْتُ خَالِدًا قَائِمًا » ٨ـ « ظَنَنْتُ بَكرًا نَائِمًا »

متعدی درېو/۳ مفعولو ته : دا پدې مذکوره افعالو کښې راځی : [أَعْلَمَ، أَرَى ، أَنْبَأَ ، أَخْبَرَ ، خَبَّرَ ، نَبَّأَ ، حَدَّثَ ، مثلًا : « أَعْلَمْتُ زَيْدًا عَمْرًوا فَاضِلًا » يا أَرَيْتُ عَمْرًوا خَالِدًا نَائِمًا » [۲٤].

نوټ : دلته د طالب العلم نه مرفوعات ، منصوبات او مجرورات بيا واوروئ او مشقونه ترې حل کړئ .



---

[۲٤] ـ حل شده مثالونه :

۱ـ لَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُوْلٰى:

"لَا" ناہیہ جازمہ جازمۃ المستقبل "تَبَرَّجْنَ" صیغہ فعل مضارع معلوم منہی مجزوم محلاً "ن" ضمیر بارز فاعلش مرفوع محلاً "تَبَرُّجَ" مفعول مطلق است منصوب بالفتحہ لفظاً مضاف "الْجَاهِلِيَّةِ" مضاف الیہ اوست مجرور بالکسرہ لفظاً موصوف "الْأُوْلٰى" صفت اوست مجرور بالکسرہ تقدیراً۔

۲ـ لَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُوْنَ:

" لَا" ناہیہ جازمہ جازمۃ المستقبل" تَحْسَبَنَّ" صیغہ فعل مضارع معلوم موکد بانون تاکید ثقیلہ مبنی مجزوم محلاً فعل از افعال قلوب بدو مفعول می طلبہ ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلاً لفظ "اللّٰهَ" مفعول اول است منصوب بالفتحہ لفظاً "غَافِلًا" مفعول ثانی است منصوب بالفتحہ لفظاً، باز "غَافِلًا" صیغہ اسم فاعل الخ تکیہ کردہ بر مفعول اول خود یعمل عمل فعلہ ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلاً راجع بسوئے مفعول اول "عَنْ" جارہ "ما" موصولہ یا موصوفہ بجمع صلہ وصفت خویش مجرور و منصوب محلاً مفعول بہ غیر صریح، جار مجرور متعلق بہ "غَافِلًا" شبہ فعل است، باز "مَا" موصولہ یا موصوفہ "يَعْمَلُ الظَّالِمُوْنَ" جملہ صلہ یا صفت اوست، "يَعْمَلُ" صیغہ فعل مضارع مرفوع بالضمہ لفظاً، "ہ" ضمیر غائب مفعول بہٖ محذوف است منصوب محلاً راجع بسوئے اسمِ موصول "الظَّالِمُوْنَ" فاعلش مرفوع بالواوٗ لفظاً۔

[افعال عامله :]

افعال عامله مشهور څلور/٤ دي ١ـ افعال ناقصه ٢ـ افعال مقاربه ٣ـ افعال مدح و ذم ٤ـ افعال تعجب .

افعال ناقصه :

دا د مشهور قول مطابق ديارلس/١٣ دي ، ددې عمل دادے چې دا په جمله اسميه داخليږي ، مسند اليه لره رفع ورکوي او مسند لره نصب ورکوي ، يعنی رافع الاسم او ناصب الخبر.

وجه د تسميه : دېته افعال ناقصه ځکه وائي چې دا افعال باوجود د لازم کيدو نه په تنها فاعل باندې نه تماميږي ، بلکه خبر ته هم **محتاج** وي ، ددې وجې نه ورته افعال ناقصه وائي ، دا هم پدې شعر د شاعر کښې مذکور دي : ع

کانَ ،صَارَ ،اِصۡبَحَ ،اِمسیٰ واِضۡحیٰ ،ظَلّ ،بَاتَ مابَرِحَ ،مادَامَ ،ماانفک ،لَيۡسَ ہيں اورمافتیٰ

ايساہی مازال پھرافعال نکليں ان سے جو ہيں وہی اِن کاعمل جواصل تيرا کا لکھا

مثالونه : « كانَ زَيْدٌ قَائِمًا » ، « صَارَتِ الْبِدْعَةُ سُنَّةً » ، ﴿اصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ اِخْوَانًا﴾ ،

افعال مقاربه :

افعال مقاربه مشهور څلور/٤ دي : [عَسَي ، كادَ ،كرَبَ او أَوْشَكَ] ، غير مشهور درې/٣ دي : [جَعَلَ ، طَفِقَ، أَخَذَ] دا هم رافع الاسم او ناصب الخبر دي پشان د افعال ناقصه .

وجه تسميه : دېته افعال مقاربه ځکه وائي چې دا افعال حصول د خبر اسم ته قريب کوي او پدې شعر د شاعر کښې جمع دي :

ہیں جو افعال مقارب مثل ناقص ان کو جان　　　چار ہے وہ اِوشک 'کاد' کرب' دیگر عسی
رفع دیتے اسم کو ہے اور خبر کو وہ نصب　　　ہیں یہی ان کا عمل تو کر نہ شک اس میں زرا

مثالونه: ۱ـ « عَسَى زَيْدٌ أَنْ يَخْرُجَ » ۲ـ « عَسَتِ الْمَرْأَةَ أَنْ تَقُوْمَ » ۳ـ « كَادَ عَمْرٌو يَذْهَبُ » ٤ـ « كَرَبَ خَالِدٌ يَجْلِسُ » ٤ـ « أَوْشَكَ عَمْرٌو أَنْ يَّجِيْءَ »[۲۵].

افعال مدح و ذم :

افعال مدح و ذم څلور دي او دېته افعال مدح و ذم ځکه وئيلے کيږي چې دېکښې دوه/۲ د مدح دپاره راځي :[نِعْمَ او حَبّذَا] او دوه/۲ د ذم دپاره راځي : [بِئْسَ او سَآءَ] ددې افعالو د فاعل نه بعد يو اسم مرفوع ذکر کيږي ،

---

[۲۵] ـ حل شده مثال :

۱ـ "كَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا":

"كَانَ" صيغه فعل ماضی معلوم فعل از افعال ناقصه رافع الاسم ناصب الخبر اسم خبر خويش می طلبد "اللّٰه" اسمش مرفوع بالضمه لفظا، "عَلِيْمًا" خبرش منصوب بالفتحه لفظا، باز "عَلِيْمًا" صيغه صفت مشبه تکيه گرفته بر اسم "كَانَ" خود يعمل عمل فعله ضمير درو مستتر فاعلش مرفوع محلا راجع بسوئے اسم "كَانَ". "حَكِيْمًا" خبر بعد از خبر اوست منصوب بالفتحه لفظا، باز "حَكِيْمًا" صيغه صفت مشبه تکيه گرفته بر اسم "كَانَ" خود يعمل عمل فعله ضمير درو مستتر فاعلش مرفوع محلا راجع بسوئے اسم "كَانَ".

۲ـ "عَسٰى أَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ":

"عَسٰى" صيغه فعل ماضی معلوم فعل از افعال مقاربه تامه "أَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ" جمله بتاويل مصدر فاعلش مرفوع محلاً "أَنْ" مصدريه ناصبه ناصبة المستقبل "يَكُنَّ" صيغه فعل مضارع معلوم منصوب محلاً باز "يَكُنَّ" صيغه فعل مضارع معلوم فعل از افعال ناقصه رافع الاسم ناصب الخبر اسم و خبر خويش می طلبد "ن" ضمير بارز اسمش مرفوع محلاً راجع بسوئے مذکورين ما قبل "خَيْرًا" خبرش منصوب بالفتحه لفظًا، "خَيْرًا" صيغه اسم تفضيل تکيه کرده بر اسم "يَكُنَّ" خود يعمل عمل فعله ضمير درو مستتر فاعلش مرفوع راجع بسوئے اسم "يَكُنَّ"، "مِنْ" جاره "هُنَّ" ضمير غائبات مجرور و منصوب محلاً مفعول به غير صريح راجع بسوئے مذکورات ما قبل، جار مجرور متعلق به "خَيْرًا" شبه فعل است۔

كۀ د افعال مدح نه بعد ذكر وو ، نو هغې ته مخصوص بالمدح وئيلے كيږي او كۀ د افعال ذم نه بعد ذكر وو ، نو هغې ته مخصوص بالذم وئيلے كيږي او دا اسماء داخليږي په اسم جنس معرف باللام او يا مضاف بسوئے اسم جنس معرف باللام باندې يا پۀ ضمير مبهم باندې ، يعني هغه ضمير چې د هغې مرجع ظاهر نۀ وي ، بلكه معهود فى الذهن وي او چې كله ضمير مبهم باندې داخل وي نو د هغى نه بعد به يو اسم نكره منصوب بنا بر تميز هم راځي.

تراكيب : مخصوص بالمدح يا بالذم كښې څلور/٤ تركيبونه كيږي ، مثلًا : « بِئْسَ الرَّجُلُ عَمْرٌوٌ » مثال مونږ راخلو پديكښې څلور تركيبونه تحات ذكر كوي :

☆ "عَمْرٌوٌ" مَخْصُوص بالذم مبتدا مؤخر او "بِئْسَ الرجُلُ" خبر مقدم .

☆ "عَمْرٌوٌ" خَبر برائے مبتدا محذوف چې "هُوَ" دے « أَى هُوَ عَمْرٌوٌ » .

☆ "عَمْرٌوٌ" مبتدا برائے خبر محذوف چې "مَذْمُوْمٌ" دے «أَيْ عَمْرٌوٌ مَذْمُوْمٌ»

☆ "بِئْسَ الرَّجُلُ" مبيَّن او "عَمْرٌوٌ" عطف بيان.

فائده : دا افعال په اسم جنس معرف باللام ، مضاف بسوئے اسم جنس معرف باللام او ضمير مبهم باندې داخليږي ، خو سوا د "حَبّذا" نه چې "حَبّذَا" كښې "ذَا" خپله ددې فاعل موجود دے او دا پدې شعر د شاعر كښې ذكر دي.

چار فعل مدح وذم ہیں رافع اسمائے جنس — اور وہ ہیں بِئْسَ سآءَ اور نِعْمَ حَبّذا
بِئْسَ سَاء برائے ذم بچو ان سے مدام — تاکہ دنیا اور عُقْبیٰ میں تمھارا ہو بھلا
ہیں برائے مَدْحَ نِعْمَ حَبّذا اے جان من — پس کرو فعل قابل مدح کی صبح ومسا

مثالونه ۱ـ « بِئْسَ الرّجُلُ عَمْروٌ » ۲ـ « سَآءَ الرَّجُلُ زَيْدٌ » ۳ـ « نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ » ٤ـ « حَبّذَا زيدٌ » .

افعال تعجب:

د فعلِ تعجب دوه/۲ صیغې د ثلاثي مجرد نه راځي :

☆ **مَا أَفْعَلَهُ** : لکه : « مَا أَحْسَنَ زَيْدًا » ، ددې ترکیب داسې کیږي چې "مَا" په معنی د "أَيُّ شَيءٍ" مبتدا او "أَحْسَنَ زَيدًا" ورلره خبر ، نو "أَحْسَنَ" فعل "هُوَ" ضمیر فاعل او "زیدًا" مفعول به ، نو فعل سره د فاعل او د مفعول به نه جمله فعلیّه خبریّه خبر د "أَيُّ شَيءٍ" ، بیا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه إنشائیَّه تعجبیَّه .

☆ **أَفْعِلْ به** : لکه : « أَحْسِنْ بِزَيْدٍ » ددې ترکیب داسی کیږي چې "أَحْسِنْ" صیغه د امر ده په معنی د ماضی سره بآء زائده ده او "زَيدٍ" فاعل دے ، نو «أَحْسَنَ زَيدٌ» شو ، نو "أحسَنَ" فعل او "زيدٌ" ورلره فاعل ، نو فعل سره د فاعل نه جمله فعلیَّه انشائیَّه تعجبیَّه [۲۶].

---

(۲۶) ـ " نِعْمَتِ الصَّلَاةُ هذِه":

"نِعْمَتِ"صیغه فعل ماضی معلوم فعل از افعال مدح رافع اسم جنس معرف باللام یا مضاف بسوئے اسم جنس معرف باللام یا ضمیر مبہم "الصَّلَاةُ" اسم جنس معرف باللام فاعلش مرفوع بالضمہ لفظًا "هٰذِهِ" اسم اشارہ مخصوص بالمدح مبتدا مؤخر است مرفوع محلا "نِعْمَتِ الصَّلَاةُ" جملہ خبر مقدم است مرفوع محلاً۔ ویاکہ "هٰذِهِ" اسم اشارہ مخصوص بالمدح خبرش مرفوع محلاً برائے مبتدا محذوف کہ "هِيَ" باشد، باز "هِيَ" ضمیر غائبہ مبتداء است مرفوع محلا راجع بسوئے "الصَّلَاةُ"۔ ویاکہ "هٰذِهِ" اسم اشارہ مخصوص بالمدح مبتداء است مرفوع محلا برائے خبر محذوف کہ "مَمْدُوْحَةٌ" باشد، باز "مَمْدُوْحَةٌ" صیغہ اسم مفعول تکیہ کردہ بر مبتدا خود یعمل عملہ فعلہ ضمیر درو مستتر مفعول مالم یسم فاعلہ اوست مرفوع محلا راجع بسوئے مبتداء۔ ویاکہ "الصَّلَاةُ" مبین "هٰذِهِ" اسم اشارہ مخصوص بالمدح عطف بیان است مرفوع محلاً۔

اقسام اسمائے عامله :

اسمائے عامله یوولس/۱۱ دي :

اسمائے شرطیه : دا په معنی د "إِنْ" وي ، خاص نوم ددې اسمائے متضمّنه معنی د حرف شرط لره ، تعداد کښي دا نهۀ/۹ دي ، دا پۀ دوو/۲ افعالو داخلیږي او هغې لره جزم ورکوي اول ته شرط او دویم ته جزآء وائي ، دې وجی نه دی ته اسماے جوازم هم وایي چې په د شعر د شاعر کښي مذکور دی : ع

فعل کی نواسم جازم ہیں یہ سن لواے عزیز پانچ ان میں سے ہیں مَنْ مَہْما متیٰ إذما و ما

پھر چھٹا اِیُّ کو جانو ساتواں ہے حَیْثُمَا آٹھواں أَنّیٰ کو سمجھو اور نواں ہے اِیْنَمَا

مثالونه : « مَنْ يُكرِمْنِيْ أُكْرِمْهُ » ۲۔ « مَهْما تَقْعُدْ أَقْعُدْ » ۳۔ « مَتَى تَذْهَبْ أَذْهَبْ » ٤۔ « إِذْما تُسَافِرْ أُسَافِرْ » ٥۔ « مَا تَشْتَرِ أَشْتَرِ » ٦۔ « أَيُّهُمْ يَضْرِبْنِي أَضْرِبْهُ » ۷۔ « حَيْثُمَا تَقْعُدْ أَقْعُدْ » ۸۔ « أَنَّى تَكتُبْ أَكتُبْ » ۹۔ « أَيْنَمَا تَقْصِدْ أَقْصِدْ ».

طریقه ترکیب : دې نهه/۹ اسماؤ کښي دا شپږ/٦ اسماء ، یعنی "مَهْمَا" ، "إِذْمَا" ، "أَنَّى" ، "أَيْنَمَا" ، "حَيْثُمَا" پۀ دوه/۲ افعالو داخلیږي ، هغه ددې شرط او جزاء وي ، خو دا خپله مفعول فیه مقدم وي په ترکیب کښی ، او ددېنه علاوه دا درې/۳ اسماء "مَنْ" ، "مَا"، "أَيُّ" دا به د دوو/۲ حالو نه خالی نۀ وي یا به دېنه وروستو اسم وي یا فعل ، که اسم وو ، نو بیا به دا مبتدا وي او وروسته اسم به ورلره خبر وي ، لکه : « مَنْ أَبُوْكَ » او کۀ وروسته ترېنه فعل وو نو بیا به د دوو/۲ حالو نه خالی نۀ وي د فعل ضمیر به دېته راجع وي یا نه ، کۀ ضمیر دېته راجع وو نو بیا هم دا به مبتدا وي او ورستو به شرط او جزا وي او

مجموعه به خبر هم وي ، لکه : « مَنْ یَضْرِبْك أَضْرِبْهُ » ، او کهٔ هغه ضمیر دېته راجع نهٔ وو ، نو بیا به دا شرط او جزآء غواړی خو خپله به مفعول به وي .

اسمآء افعال :

دا مجموعه نهه/٩ دي او دا بیا پهٔ دوه/٢ قسمه دي :

☆ **اسمائے افعال بمعنی امر حاضر معلوم** : دا شپږ/٦ دي : [دُوْنَك ، بَلْهَ ، عَلَیْك ، حَیَّهَلْ ، رُوَیْدَ ، هَا] دا شپږ/٦ پهٔ معنی دا امر حاضر وي او ورستنو لره بنا بر مفعولیت نصب ورکوي ، لکه : « دُوْنَك عَمْروًا أَيْ خُذْ عَمْروًا » ، « بَلْهَ سَعِیْدًا ، أَيْ دَعْ سَعِیْدًا » ، « عَلَیْكَ أَيْ أَلْزِمْ بَكرًا » ، « حَیَّهَل الصَّلوة أَيْ اِیْتِ الصَّلوةَ » ، « رُوَیْد زَیْدًا ، أَيْ أَمْهِل زیدًا » او « هَا خَالِدًا ، أَيْ خُذْ خَالِدًا » .

☆ **اسمائے افعال بمعنی فعل ماضی** : دا درې/٣ دي : [هَیْهاتَ ، شتّانَ ، سَرْعَانَ] دا وروستو لره بنا بر فاعلیَّت رفع ورکوي ، لکه : « هَیْهَاتَ زَیْدٌ ، أَيْ بَعُدَ زَیْدٌ » ، « شَتَّانَ زَیْدٌ أَيْ اِفْتَرَقَ زَیْدٌ » او « سَرْعانَ زَیْدٌ ، أَيْ سَرَعَ زَیْدٌ » [٢٧].

---

[٢٧] ـ مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّٰهَ:

"مَنْ" اسم متضمن بمعنٰی حرف شرط جازمۃ المستقبل مبتداء است مرفوع محلاً "یُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّٰهَ" ہر دو خبر است مرفوع محلاً۔ ویاکہ " یُطِعِ الرَّسُولَ "تنہا خبر است مرفوع محلاً۔ ویاکہ " فَقَدْ أَطَاعَ اللّٰهَ" تنہا خبر اوست مرفوع محلاً۔ ویاکہ ہیچ خبر نیست برائے او"یُطِعِ "صیغہ فعل مضارع معلوم شرطش مجزوم بحذف حرکت ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلاًراجع بسوئے مبتداء"الرَّسُولَ "مفعول بہ است منصوب بالفتحہ لفظًا"ف" جزائیہ مابعد جملہ جزاء است مجزوم محلاً"قَدْ" حرف تحقیق مع التقریب"أَطَاعَ"صیغہ فعل ماضی معلوم محقق مقرب ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلا راجع بسوئے مبتداء لفظ"اللّٰهَ"مفعول بہ است منصوب بالفتحہ لفظًا۔

اسم فاعل :

دا هم د اسماء عامله نه دے او د خپل فعل واله عمل کوي ، کۀ فعل ئې لازم وو نو لازم والا عمل کوي او که متعدی وو نو متعدی والا عمل کوي ، یعنی فاعل لره رفع او مفعول به لره نصب ورکوي ، خو د اسم فاعل د رفع دپاره دوه/٢ شرطونه دي .

- اسم فاعل به پۀ معنی د حال یا استقبال وي.
- پۀ شپږ ځیزونو کښی به ئې پۀ یو باندې تکیه لګولې وي ، یعنی هغه به تری نه مخکښي راغلې وي .

  - **مبتدا** : لکه : « زيدٌ القَائمٌ أَبُوْهُ » یا « زيدٌ ضَارِبٌ عَمْروًا »
  - **موصوف** : لکه : « مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٌ أَبُوْهُ بَكرًا »
  - **موصول** : لکه : د لازمي مثال : « جَآءَنِيْ قَآئمٌ أَبُوْهُ » او د متعدي مثال : « جَآءنِي الضَارِبُ أَبُوْهُ عَمْروًا ».
  - **ذو الحال** : لکه : « جَآءنِيْ زَيْدٌ رَاكبًا غُلامُهُ فَرَسًا » .
  - **همزه د استفهام** : لکه : « أَ ضَارِبٌ زَيْدٌ عَمروًا ».
  - **حرف نفی** : لکه : « ما قَائِمٌ زَيْدٌ » .

اسم مفعول :

اسم مفعول د فعل مجهول والا عمل کوي یعنی مفعول مالم يُسَمَّ فاعلهُ لره رفع ورکوي او ددې د عمل دپاره هم دوه/٢ شرطونه دی .

- اسم مفعول به په معني د حال یا استقبال وي.

- پۀ شپږ/٦ ځيزونو[۲۸] کښې به ئې په يو باندې تکيه لګولې وي.

مثالونه : « زَيدٌ مضرُوْبٌ أَبُوْهُ » ، « عَمْروٌ مُعْطًى غُلامُه دِرْهَمًا » ، « بَكرٌ معْلُوْمٌ اِبْنُهُ فَاضِلًا » ، « أَ مَضْرُوْبٌ زَيْدٌ » .

صفت مشبه :

صفت مشبه هم د خپل فعل والا عمل کوي ، يعنى د فعل لازم والا عمل کوي ، ځکه چې صفت مشبه مشتق وي د فعل لازم نه ، خو پدې شرط چې پۀ پينځو/٥ ځيزونو ئې تکيه لګولى وي : [مبتدا ، موصوف ، ذوالحال ، حرف نفى او حرف استفهام ، پۀ اسم موصول باندې دا تکيا نۀ لګوي ، لکه : « زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ »

اسم تفضيل :

د اسم تفضيل عمل د هغې په فاعل کښې وي او هغه ضمير مستتر وي او د اسم تفضيل استعمال پۀ درېو/۳ طريقو سره کيږي .

☆ پۀ مِنْ سره ، لکه : « زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو » .

☆ پۀ الف لام سره ، لکه : « جَآءَنِىْ زَيْدٌ الافْضَلُ » .

☆ پۀ اضافت سره ، لکه : « زَيْدٌ أَفْضَلُ القَوْمِ » .

مصدر :

مصدر هم د خپل فعل والا عمل کوي ، کۀ فعل لازم وو ، نو لازم والا عمل کوي او کۀ متعدى وو ، نو متعدي والا عمل کوي ، کۀ معروف وو نو

---

[۲۸]ـ کوم چې مخکښې په اسم فاعل کښې ذکر شول .

معروف والا او کۀ مجهول وو نو مجهول والا عمل کوي ، خو د مصدر د عمل دپاره پينځۀ/٥ شرطونه دي .

١) موصوف به نۀ وي ٢) مصغر به نۀ وي ٣) مفعول مطلق به نۀ وي ٤) د خپل معمول نه به متأخر نۀ وي ٥) عند البعض معرف باللام به نۀ وي .

فائده : مصدر چې مضاف فاعل ته وي نو هغه به لفظًا مجرور وي خو معنًى به مرفوعِ وي بنا بر فاعليت او کۀ مفعول ته مضاف وي ، نو هغه به لفظًا مجرور وي خو معنى به منصوب وي ، بنا بر مفعوليت ، لکه : « أَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًوا » .

مضاف :

مضاف هميشه خپل مضاف اليه لره مجرور کوي خو جر بيا عام دے ، کۀ پۀ کسرې سره وی ، لکه : "بِزَيْدٍ"کله به فَتحِ سره وي ، لکه : "بِعُمَرَ" او کله به پۀ يآء سره وي ، لکه : بِأَخِيْكَ او کله به لفظًا وي او کله به تَقْديرًا وي او کله به محلًا وي[٢٩].

اقسام د اضافت :

اضافت پۀ دوه/٢ قسمه دے ١ـ اضافت لفظيه ٢ـ اضافت معنويّه ، پديکښې وجه د حصر تيره شوې ده .

دويم تقسيم سره اضافت پۀ درې/٣ قسمه دے ١ـ اضافت مِنِّي٢ـ اضافت ظرفی ٣ـ اضافت لامي .

---

[٢٩]ـ لفظی او تقديری معرباتو کښې او محلّی پۀ مبنياتو کښې . .

☆ **اضافت منّی** : هغه اضافت چې په تقدير د "مِنْ" سره وي ، لکه : "خاتمْ فِضَّةٍ" دا اصل کښي داسې وو "خَاتِمُ مِنْ فِضَّةٍ" .

☆ **اضافت ظرفی** : هغه اضافت چې په تقدير د "فی" سره وي ، لکه : "ضَرْبُ الْيَوْمِ" اصل کښی داسې وو "ضَرْبٌ فِیْ الْيَوْمِ" .

☆ **اضافت لامي** : هغه اضافت چې پهٔ تقدير د لام سره وي ، لکه : "غُلامُ زَيْدٍ" اصل کښی داسې وو "غُلامٌ لِزَيْدٍ"[٣٠] .

اسم تَام :

اسم تام هغه اسم ته وئيلے کيږي چې اسم په داسې يو حالت کښي وي چې د هغی حالت سره د هغی اضافت محال وي او اسم تام کيږی پهٔ څلورو/٤ څيزونو سره.

☆ تنوين سره ، برابره خبره ده ، کهٔ ملفوظ وي او کهٔ مقدر وي ، لکه : « مَا فی السّمَآءِقَدْرُ راحَةٍ سَحَابًا » .

☆ پهٔ نون تثنيه او يا مشابه د نون تثنيه سره ، لکه : « عِنْديْ قَفِيْزَانِ بُرًّا ».

☆ پهٔ نون د جمع يا مشابه د نون جمع سره ، لکه « عِنْدِیْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا ».

☆ پهٔ اضافت سره ، لکه : "غُلامُ زَيْدٍ" .

---

[٣٠] ـ كَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ:

"كَلْبُ" مبتداء است مرفوع بالضمہ لفظًا مضاف "هُمْ" ضمير غائبين مضاف اليہ اوست مجرور محلاً راجع بسوئے مذكورين ماقبل "بَاسِطٌ" خبرش مرفوع بالضمہ لفظًا، باز "بَاسِطٌ" صيغہ اسم فاعل تكيہ كرده برمبتداء خوديعمل عمل فعلہ ضمير درو مستتر فاعلش مرفوع محلاراجع بسوئے مبتداء "ذِرَاعَيْ" مفعول بہٖ است منصوب باليالفظًا مضاف "ہ" ضمير غائب مضاف اليہ مجرور محلا راجع بسوئے مبتداء "ب" جاره "الوَصِيْدِ" مجرور بالكسره لفظًا ومنصوب محلامفعول بہ غير صريح، جار مجرور متعلق بہ "بَاسِطٌ" شبہ فعل است۔

عمل ددې د مثالونو نه معلوم شو چې اسم تام نه بعد تمييز راځی او تمييز لره نصب ورکوي .

اسمائے کنايات :

اسمائے کنايات دوه/٢ دي ١ـ کَمْ ٢ـ کَذَا ، "کَم" ددې خاص نوم کنايه از عدد دے .

"کَمْ" بيا پهٔ دوه/٢ قسمه دے ١ـ استفهاميه ٢ـ خبريه

☆ **کَمْ استفهاميه** : "کَم" استفها ميه خپل تمييز لره نصب ورکوي ، تمييز ددې مفرد منصوب راځي ، لکه : « کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ ».

☆ **کَمْ خبريه** : "کَمْ" خبريه خپل تمييز لره جر ورکوي او ددې تمييز کله مفرد وي او کله جمع ، لکه : « کَمْ رَجُلٍ عِندِیْ » او « کَمْ رِجَالٍ عِنْدی ».

فائده : د کم خبريه او د هغی تمييز پهٔ درميان کنبی چې کله فاصله راشي نو بيا نصب ورکوي ، لکه : « کَمْ فِیْ الدّارِ رَجُلًا » او کله کله د "کَم" استفهاميَّه او خبريّه پهٔ تمييز باندې "مِنْ" هم داخليږي ، نو هغه وخت به مکمل مجرور وي ، لکه : ﴿ كَمْ مِنْ مَلَكٍ فِیْ السَّمَوَاتِ ﴾.

"کَذَا" هميشه دپاره خبريه وي او خپل تمييز لره نصب ورکوي ، لکه : « عِنْدِی کذَا دِرْهَمًا » .

فائده : "کَذَا" کنايه از حديث دپاره هم راځي ، لکه : « فَعَلْتُ کذَا وکذَا » [٣١]

---

[٣١] ـ ١ـ انَّ اِبْرَاهِيْمَ كَانَ أُمَّةً :

"انّ" حرف از حروف مشبه بالفعل ناصب الاسم رافع الخبر اسم و خبر خويش مے طلبد "ابراهيم" اسمش منصوب بالفتحه لفظًا "كَانَ أُمَّةً" جمله خبرش مرفوع محلًا باز "كَانَ" فعل از افعال ناقصه رافع الاسم ناصب الخبر اسم و خبر خويش مے طلبد ضمير درو مستتر اسمش مرفوع محلا راجع بسوئے "ابراهيم" "أُمَّة" خبرش منصوب بالفتحه لفظا۔

عوامل معنوي

عامل معنوی دېته وائي چې ظاهر پهٔ الفاظو کښې موجود نهٔ وی او عامل معنوی پهٔ دوو/٢ ځایونو کښې راځی .

☆ مبتداء کښې :

کله چې اسم د عامل لفظی نه خالی وي نو مبتدا لره رفع ورکوي ، نو دې لره رفع دغه عامل معنوی ـ ابتداء ـ ورکوي ، لکه : « زَيدٌ قَائِمٌ »(٣٢) .

☆ فعل مضارع کښې :

فعل مضارِع چې کله د ناصب او جازم نه خالی وي نو دا مرفوع وی ، دغه خالی کیدل پدې دلالت کوي چې دېکښې عامل معنوی دے ، لکه : "يَضْرِبُ".

٢ـ مَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ :

"من" اسم متضمن بمعنی حرف استفهام مبتدا است مرفوع محلا "أحسن" خبرش مرفوع بالضمه لفظًا باز "أحسن" صیغه اسم تفضیل تکیه کرده بر مبتدا خود یعمل عمل فعله ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلًا راجع بسوئے مبتدا ـــ اسم تام مع تنوین مقدر مبہم ممیّز ناصب التمیز "قولًا" تمیزش منصوب بالفتحه لفظًا "من" جار "مَن" موصوله یا موصوفه مع صله یا صفت خویش مجرور منصوب محلا مفعول به غیر صریح جار مجرور متعلق به "احسن" شبه فعل است ' باز "من" موصوله یا موصوفه "دَعَا" جمله صله یا صفت اوست باز "دعا" صیغه فعل ماضی معلوم ضمیر درو مستتر فاعلش مرفوع محلا راجع بسوئے "مَنْ" "الی" جار لفظ "الله" مجرور بالکسرة لفظًا منصوب محلًا مفعول به غیر صریح جار مجرور متعلق به "دعَا" فعل است

ـ

(٣٢)- بیا پهٔ عامل د مبتدا او خبر کښې درې/٣ مذاهب دي او هغه مخکښې تیر شوي دي .

حروف غیرعامله :

حروف غير عامله هغه حروفو ته وائي چې لفظ کښي عمل نۀ کوي ، بلکه په معنی کښی عمل کوی او دا پۀ شپاړس/۱٦ قسمه دي :

☆ حروف تنبيه :

دا حروف پۀ جمله باندې داخليږي او د مخاطب نه غفلت لرې کوي او دا درې/۳ دي : [أَلَا ، أَمَا ، هَيَا] ، لکه : « أَلَا زَيْدٌ قَائِمٌ » ، « أَمَا عَمْرٌ نَائِمٌ » او « هَيَا أَنَا حَاضِرٌ » .

☆ حروف ايجاب :

هغه حروف چې د خبر د اثبات دپاره وي او دا شپږ/٦ دي : [۱ـ نَعَمْ ۲ـ بَلَى ۳ـ أَجَلْ ٤ـ إِيْ ٥ـ جَيْرِ ٦ـ إِنَّ]

[۱] **نَعَمْ** : دا د مخکښی خبرې د تصديق دپاره راځي ، برابره خبره ده ، کۀ هغه خبره منفی وي او کۀ مثبت ، د منفی مثال : « مَاجَاءَزَيْدٌ » ، د مثبت مثال ، لکه :« ذَهَبَ عَمْرٌو » او تۀ د دواړو جواب کښې اوائي چې "نَعَمْ".

[۲] **بَلى** : دا د منفی خبرې د اثبات دپاره راځي ، لکه : ﴿ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلَى﴾ .

[۳] **أَجَلْ** ، [٤] **جَير** ، [٥] **اِيْ** : دا د "نَعَمْ" پشان دي ، يعنی د ما قبل خبرې د تصديق دپاره راځي ، خو فرق دومره دے چې "إِيْ" سره استفهام نه بعد قسم راځي ، لکه :﴿ قُلْ إِيْ وَرَبِّي﴾ او "أَجَل" او "جَيْرِ" سره قسم ضروری نۀ دے .

[٦] **إِنَّ** : دا پۀ ايجاب کښی قليل الاستعمال دے .

☆ حروف تفسير :

هغه حروف چې د وضاحت دپاره راځي او دا دوه/٢ دي [١] "أَيْ" [٢] "أَنْ" ، لکه : « جَآءَنِيْ زَيْدٌ أَيْ أَبُوْك » او ﴿ وَنَآدَيْنَاهُ اَنْ يَّآ اِبْرَاهِيْمُ ﴾ يعنى « نَادَيْنَاهُ بِلَفْظٍ هُوَ قَوْلُنَا يَا اِبْراهِيمُ » .

☆ حروف مصدريه :

يعنى هغه حروف چې مدخول پهٔ معنى د مصدر کړي او دا درې/٣ دي [١] مَا [٢] أَنْ [٣] أَنَّ .

[١] **أَنَّ** : دا پهٔ جمله اسميه داخليږي او هغه پهٔ معنى د مصدر کوي ، لکه : « بَلَغَنِيْ أَنَّ زَيْدًا قَائِمٌ أَيْ قِيَامُ زَيْدٍ » .

[٢] **مَا** [٣] **أَنْ** : دا پهٔ فعل باندې داخليږي او هغه پهٔ معنى د مصدر کوي ، لکه : ﴿ ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ﴾ « أَيْ بِرَحْبِهَا » او « أَعْجَبَنِيْ أَنْ ضَرَبْتَ أَيْ ضَرْبُكَ »

☆ حروف تحضيض و تنديم :

تحضيض پهٔ معنى د پارولو راځي او تنديم پهٔ معنى د ندامت او پښيمانه کولو راځى او دا څلور/٤ دي : [١] أَلَّا [٢] هَلَّا [٣] لَوْما [٤] لَوْلَا .

وجه د حصر : وجه د حصر پکښې دا ده چې دا حروف به خالى نهٔ وي يا به پهٔ مضارع باندې داخل وي يا په ماضى ، کهٔ پهٔ مضارع باندې داخل وو ، نو پهٔ معنى د تحضيض يعنى پهٔ معنى د پارولو چې دا کار اوکه ، لکه : « هَلّا تُصَلِّيْ » او کهٔ پهٔ ماضى داخل وو ، نو مقصود ترينه د مخاطب شرمول او پښيمانه

كول به وي ، ددې وجې نه ورته حروف تنديم هم وائي ، لكه : « هَلّا صَلّيْتَ الْعَصْرَ » .

☆ حرف توقع :

حرف توقع يو دے چې "قَدْ" دے او "قَدْ" چې په ماضی باندې داخل شي نو ماضی حال ته قريب كوي او د بے شك په معنی راځی او چې په مضارع باندې داخل شي نو د تقليل معنی وركوي او كله كله په مضارع كښې د يقين معنی هم وركوي ، لكه : ﴿قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ﴾ *يقينًا الله پوهه دے* او د ماضی مثال ، لكه : « قَدْ جَآءَزَيْدٌ » .

☆ حروف استفهام :

دا درې/٣ دي [١] مَا [٢] هَمزَه [٣] هَلْ ، دا درې/٣ واړه صدارت د كلام غواړي ، يعنی په اول كښې راځي ، لكه : د "مَا" مثال : « مَا اسْمُكَ » ، د همزه مثال « أَ زَيْدٌ قَائمٌ » او د "هَلْ" مثال : « هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ » .

☆ حرف ردع :

حرف ردع "كلّا" دے او "كلّا" په دوو/٢ معنو باندې استعماليږي :
[١] "كلّا" أكثر په معنی د انكار راځي ، لكه : يو كس اوائي : « كفَرَ زَيْدٌ » نو ته اوائې : "كلّا" *هيچرې هم نه* .
[٢] "كَلّا" په معنی د حَقًّا هم راځي ، لكه : ﴿ كلّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴾ .

☆ **تنوین :**

دا هغه نون تنوین ته وئیلے کیږي چې د کلمی د آخری حرف تابع وي او تاکید د فعل دپاره نۀ وي ، وئیلو کښی راځی لیکلو کښي نۀ راځي ، کله به د دوه/٢ فتحو پۀ شکل وی او کله به د دوو/٢ کسرو پۀ شکل وي او کله به دَ دوو/٢ ضمّو پۀ شکل وي او دا بیا پۀ پینځه/٥ قسمه دے ، چې پدې شعر د شاعر کښی جمع دي : ع

تناوین پنج اند اے یار پر عرض ترنم ، تمکن ، تقابل ، عوض
بتنکیر پنج شد ای یار غار اگر ہوش داری برو یاد دار

[١] **تنوین ترنم** : دا هغه تنوین ته وائي چې د اسم او فعل پۀ آخر کښی د خوند یا د سُرْ پیدا کولو دپاره راځي، لکه : ع

أَقِلِّي اللَّوْمَ عَاذِلَ وَ الْعِتَابَنْ وَقُوْلِيْ إِنْ أَصَبْتُ لَقَدْ أَصَابَنْ

[٢] **تنوین تمکن** : تنوین تمکن هغه تنوین ته وائي چې د اسم پۀ متمکن کیدو باندې دلالت اوکړي ، لکه : "زَيْدٌ" .

[٣] **تنوین مقابله** : تنوین مقابله هغه تنوین ته وائي چې د جمع مذکر په مقابله کښی پۀ جمع مؤنث سالم راشي ، لکه : "مُسْلِمَاتٌ" نو دا تنوین پۀ مقابله د وآؤ او نون کښي راغلے دے .

[٤] **تنوین عِوَضْ** : تنوین عوض هغه تنوین ته وائي چې د مضاف الیه پۀ عوض کښی راشي ، لکه : "يَوْمَئِذٍ" نو دا اصل کښی « يَوْمَ اِذْ كَانَ كَذَا » وو .

[٥] **تنوین تنکیر** : تنوین تنکیر هغه تنوین ته وائي چې د اسم پۀ نکره کیدو باندې دلالت اوکړي ، لکه : « ضَارِبٌ رَجُلٌ » .

☆ نون تاكيد :

نون تاكيد نه مراد نون خفيفه او نون ثقيله دے ، دا دَ فعل مضارع پۀ آخر کښي راځی او دا هم غير عامله وي ، لکه : "اِضْرِبَنَّ" او "اِضْرِبَنْ" .

☆ لام مفتوحه تاکيدّيه :

لام مفتوحه تاکيديه د تاکيد دپاره راځي ، لکه : « لَزَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو».

☆ **حروف زيادت** : هغه حروف چې زائد وي پۀ اعتبار د معنی سره او دا اتۀ/٨ دي [١] إِنْ ،[٢] أَنْ ،[٣] مَا ،[٤] لَا ، [٥] مِنْ، [٦]كاف ،[٧] بَا ، [٨]لام.
مثالونه : « مَا إِنْ زَيْدٌ قَائمٌ » ، ﴿ فَلَمَّا اَنْ جَآءَ البَشِيرُ﴾ ، « إِذْمَا تَخْرُجْ اَخْرُجْ » ، « مَا جَآءَنِىْ زَيْدٌ ولاعَمروٌ » ، «مَا جَآءَنِىْ مِنْ أَحَدٍ » ، ﴿لَيسَ كمِثْلِه شَىْءٌ﴾ ، « مَا زَيْدٌ بِقَائِمٍ » او ﴿رَدِفَ لَكمْ﴾ .

☆ حروف شرط:

هغه دوه/٢ دي [١]أمّا [٢] لَوْ.
[١] **أَمَّا** : د تفصيل او د تفسير دواړو دپاره راځي او ددې په جواب کښ فآء راوړل ضروری دي ، لکه : ﴿فَمِنْهُمْ شَقِىٌّ وَ سَعِيْدٌ فَامّا الَّذِيْنَ شَقُوْ فَفِىْ النّارِ وَ امّا الذِينَ سُعِدُوْ فَفِىْ الجَنّة﴾ .
[٢] **لَوْ** : "لَو" راځي دپاره د انتفاء د ثانی د وجې د انتفاء د اول نه ، لکه : ﴿لَوْ كانَ فِيْهِمَا آلِهَةٌ اِلَّا اللهُ لَفَسَدَتَا ﴾ .

☆ **لولا :**

"لَوْلَا" راځی دپاره د انتفاء ثانی پهٔ سبب د وجود د اول ، لکه : « لَوْلا السُّنِّي لَهَلَک الشِّيْعِيُّ » "که سنی نه وو نو شیعه به هلاک وو".

☆ **مَا بمعنی مَا دَامَ :**

دا هم غیر عَامله دے ، لکه : « أَقُوْمُ مَا جَلَسَ الْاَمِيْرُ » .

☆ **حروف عَاطفه :**

دا لس/١٠ دي : [١] وآؤ ، [٢] فا ،[٣] ثَمَّ ، [٤]حَتّى ، [٥]أَمَّا ، [٦] أَوْ [٧]أم ، [٨]لا، [٩]بل ، [١٠] لكن.

☆☆☆☆☆☆☆

تمت بالخير